(ناول)

# پيدرو پارامو

ليکوال: خوان رولفو

ژباړن: مصطفی صفا

Ketabton.com

۱۴۰۵هـ ل

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

(ناول)

# پېډرو پارامو

لیکوال: خوان رولفو

ژباړن: مصطفی صفا

ketabton.com - The Digital Library

# کتاب پېژندنه

نوم: پېدرو پارامو (ناول)
لیکوال: خوان رولفو
ژباړن: مصطفی صفا
خپرندوی: کتابتون ټکی کام

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

## د پښـتو ادب وتلي کيسه‌ليکوال او څېړونکي

## استاد محمد اکبر کرگر ته!



ketabton.com - The Digital Library

# د ژباړن خبرې

«پېدرو پارامو» د مکسیکویي لیکوال خوان رولفو «۱۹۱۷-۱۹۸۶م» هغه ناول دی چې په خپل وخت او را وروسته کې یې د لاتینې امریکا په ډېرو سترو لیکوالو لکه گابریل گارسیا مارکېز، خولیو کورتاسار، کارلوس فوئنتېس، ماریو باگارس یوسا او نورو اغېز کړی دی. نوبل گټونکي لیکوال «گابریل گارسیا مارکېز» په یوه مقاله کې څرگنده کړې چې که «پېدرو پارامو» یې نه‌وای لوستی، «سل‌کاله یوازېتوب» به یې نه‌وای لیکلی.

خوان رولفو دغه ناول «پېدرو پارامو» په ۱۹۵۵م کال په اسپانوي ژبه خپور کړی دی او تر دې دمه له دېرشو (۳۰) څخه زیاتو ژبو ته ژباړل شوی دی. کره‌کتونکو د «پېدرو پارامو» ادبي ارزښت تر ډېره د هغه ځانگړي روایتي نوښت بللی دی.

رولفو په دغه ناول کې د داستان دودیزه زمانيکرښه ماتوي؛ تېر او اوس، خوب او ویښه، خیال او واقعیت، حافظه او مشاهده او بالاخره ژوند او مرگ سره گډوي. په کومالا کې د ژوندیو او مړیو ترمنځ هغه پوله چې په عادي روایت کې روښانه وي، له منځه وړی؛ مړي خبرې کوي، تېر وخت د اوسني وخت په څېر حضور پیدا کوي او د انسان حافظه د کیسې په یوه ژوندي مکان بدلېږي. همدا غیرخطي جوړښت، د روایت ماتېدل او معمايي فضا، ناول ته داسې سبک وربښي چې وروسته د «کوډگر ریالېزم» په نوم یادېږي.

«پېدرو پارامو» په ظاهره د یوه زوی کیسه ده چې د خپل نالیدلي پلار د موندلو لپاره یوې لرې سیمې ته ځي. «خوان پرېسیادو» د خپلې مړې مور «دولورېس پرېسیادو» وروستۍ غوښتنه پر ځای کوي او د خپل پلار «پېدرو پارامو» په لټه کې د یوې داسې سیمې په لور ځي چې مور یې تل د ښکلا او سمسورتیا صفتونه ورته کړي دي، خو خوان پرېسیادو چې کله هلته رسېږي، نه ښکلا وي او نه سمسورتیا، یوازې کنډوالې ویني. دا سیمه «کومالا» نومېږي. کومالا په ظاهره یو کلی دی؛ خو په حقیقت کې د حافظې جغرافیه ده. دلته کوڅې یوازې کوڅې نه‌دي او غږونه یوازې غږونه نه‌دي.

ketabton.com - The Digital Library

دلته هره دروازه د تېر وخت په لور پرانيستل کېږي او هر غږ د يوه مړه شوي انسان حافظه ده. خوان پرېسيادو فکر کوي چې پلار به پيدا کړي؛ خو پر ځای يې د يوه ښار تېر وخت پيدا کوي. د پېدرو پارامو له نوم سره تړلې مينې، کرکې، ګناهونه، ظلمونه، محروميتونه او ناپايه کيسې د کومالا په هره کوڅه او هر کور کې د ارواو په څېر ګرځي.

دلته د خوان پرېسيادو لټون د يوه کس تر لټون پراخېږي. هغه هيله لري چې د خپلې مور د غوښتنې ځواب ترلاسه کړي؛ خو کومالا هغه ته ځواب نه‌ورکوي، بلکې نورې پوښتنې زياتوي. همدا د رولفو د هنر يوه ځانګړنه هم ده. هغه لوستونکي ته هرڅه نه‌وايي؛ لوستونکي پرېږدي چې د چوپتيا، تېرو خاطرو او ټوټه ټوټه روايت تر منځ خپله کيسه جوړه کړي.

د ناول يو راز په خپله پېدرو پارامو دی؛ هغه د ناول له پيله تر پايه حضور لري، خو ټول په يو ځايي ډول نه، بلکې شېبه په شېبه راڅرګندېږي. پېدرو د واک او ځواک يوه داسې څېره ده چې هر څه وغواړي کولی يې شي، خو هغه ته څه چې تر ټولو زيات يې غواړي، هېڅ‌وخت نه‌رسېږي. په دې لړ کې د «سوزانا» په راخپلولو کې پاتې راتلل او د خپل زوی له لاسه يوه بوږنونکې تراژيدي ليدل د يادونې وړ دي. همدلته د رولفو د ناول يوه ژوره معنا څرګندېږي؛ هغه دا چې «انسان کولی شي نړۍ فتحه کړي، خو د يوه بل انسان زړه نه‌شي فتحه کولای.»

د دغه ناول تلوسه تر ډېره معمايي رنګ لري چې د ناول له پيل څخه په طبيعي ډول احساسېږي او په منځ کې لا ژورېږي، خو په پای کې عاطفي رنګ خپلوي. د ناول کيسه له يوې پېښې څخه بلې ته په عادي ترتيب نه‌ځي. د کيسې په لړ کې د وخت، راوي، ځای او کرکټرونو ناڅاپي بدلونونه ډېر دي. يوه برخه د «خوان پرېسيادو» په اړه وي، خو ناڅاپه د «پېدرو پارامو» د ماشومتوب زمانې ته ورسېږي، بيا د يوه مړي غږ راشي او وروسته بېرته بل وخت ته لاړه شي. دغه راز کله د لومړي شخص روايت وي، کله دريېيم شخص او کله داسې احساس کېږي، لکه د يوه کرکټر حافظه چې د بل کرکټر له غږ سره ګډه شوې وي.

ډېری کره‌کتونکي په دې په باور دي چې په «پېدرو پارامو» ناول کې د «کوډګر رياليزم» تر څنګ «د شعور بهاو» له تکنيکه هم کار اخيستل شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

د شعور بهاو تکنیک (Stream of Consciousness technic) په نړیوال ادبیاتو کې تر رولفو وړاندې ځو سترو لیکوالو لکه «جیمز جویس»، «ویرجینیا وولف» او «ویلیام فاکنر» په خپلو آثارو کې کارولی دی. د دغه تکنیک ځینې ځانګړنې دا دي:
۱: د فکرونو غیرمنظم حرکت: دلته فکرونه تل منطقي او منظم نه‌وي؛ یو فکر د بل پر ځای راځي او د کرکټر ذهني فضا او په هغو کې متضادې او بدلېدونکي غوښتنې ځان راښیي.
۲: د زمان ماتېدل: تېر، اوس او راتلونکی له یو بل سره ګډېږي. کرکټر ښایي په یوه شېبه کې په اوسني وخت کې وي، خو ذهن یې ناڅاپه پخواني وخت ته لاړ شي.
۳: داخلي مونولوګ: دلته د کرکټر خیالونه، تاثیرات او له خپل ځان سره باطني کشمکش په مستقیم ډول وړاندې کېږي، یعنې د راوي د تشریح پر ځای د کرکټر له ذهن او تحت‌الشعور سره مخ کېږو.
۴: ناڅاپي تداعي: یو غږ، بوی، ځای یا یوه خاطره کېدای شي د کرکټر په ذهن کې یو پخوانی احساس، حالت او خاطره وپاروي او هغه بیا داستان ته نوی رنګ ورکړي.
۵: د جملو ماتېدل یا غیرمعمولي جوړښت: په دغه تکنیک کې ځینې وخت جملې او فقرې نیمګړې وي، روایت غوځ غوځ او حتی بې‌انسجامه وي.
٦: د خیال او واقعیت ګډېدل: ډېر کله د ذهني محتویاتو او بهرني واقعیت تر منځ پوله نړېږي او لوستونکي نه‌پوهېږي چې پېښه په بهرني واقعیت کې ده او که د کرکټر په ذهن کې.
۷: احساساتو ته ډېر اهمیت ورکول: په دغه تکنیک کې د پېښې د «څه وشول؟» پر ځای د «کرکټر پېښه څه ډول احساسوي؟» موضوع مهمه کېږي...
پورته ځانګړنو ته په پام سره ویلی شو چې په «پېدرو پارامو» ناول کې د شعور د بهاو څرکونه شته دي او د کره‌کتونکي دغه وینا بې‌ځایه نه‌ده چې دغه ناول یې د «شعور بهاو» او «کوډګر ریالېزم» ګډوله بللی دی.
له همدې کبله «پېدرو پارامو» د ځینو دودیزو ناولونو غوندې اسانه اثر نه‌دی. په خپله لیکوال یې هم د دوه ځله لوستلو سپارښتنه کړې ده. د لاتینې امریکا ډېری ستر ناولونه دا ځانګړنه لري، چې لوستونکي یې باید کرکټرونو ته ډېر ځیر شي او ان د کرکټرونو کورنۍ شجره جوړه او په یاد ولري.

ketabton.com - The Digital Library

مور هم د همدې دود له مخې د یاد ناول ځینې مهم کرکټرونه معرفي کوو او هیله‌من یو چې ګرانو لوستونکو ته به مو کار اسانه کړي وي.

۱: Pedro Páramo، پېدرو پارامو:

د ناول تر ټولو ستر کرکټر دی، په ناول کې ځینې ځای د «دون پېدرو» نوم هم ورته اخیستل کېږي. په اسپانوي ژبه کې «دون» د ښاغلي، قدرمن او خان معنا لري.

۲: Juan Preciado ، خوان پرېسیادو:

د ناول یو له دریو اصلي کرکټرونو څخه دی. هغه په عمومي ډول بې‌ګناه، د حقیقت لټوونکی او د پلار د نشتوالي قرباني دی.

۳: Dolores Preciado ، دولورېس پرېسیادو:

هغه ښځه چې د ناول کیسه ورسره پیل کېږي. «دولورېس پرېسیادو» د «خوان پرېسیادو» مور او د «پېدرو پارامو» مېرمن ده. پېدرو له دولورېس سره د هغې د کورنۍ د مالي پورونو له امله واده کوي، خو وروسته یې پرېږدي. هغه د خپل زوی لپاره د یوه ښه ژوند هیله لري او په ټوله کې د مورنۍ مینې استازې او د نرواکۍ قرباني ده.

۴: Abundio Martínez ، ابوندیو مارتینز:

دا کرکټر یو څه پېچلی دی. هغه له یوې بلې ښځې څخه د پېدرو پارامو زوی دی، فقیر او د خپل پلار له مینې محروم دی. د هغه اصلي ستونزه د ده خپل بد ذات نه، بلکې د پلار له خوا پرېښودل کېدل او ټولنیز محرومیت دی. هغه په پای کې یو خطرناک کار کوي چې تاسې یې په ناول کې لوستلی شئ.

۵: Miguel Páramo ، میګل‌پارامو:

د پېدرو پارامو زوی او ښایي د ناول تر ټولو ښکاره منفي کرکټر یې وګڼو. هغه جنایتکار، د خلکو ځورونکی او یو بدلمنی کس دی چې ځان هر وخت له قانونه پورته ګڼي.

٦: Susana San Juan ، سوزانا سان‌خوان:

د ناول یوه پېچلې او عاطفي څېره ده. هغه د «بارتولومه سان‌خوان» لور او د «فلورېنسیو» کونډه ده. پېدرو پارامو د ماشومتوب په وخت لیدلې ده او په پاخه عمر

ketabton.com - The Digital Library

يې زړه پرې بايللی دی. ګابريل ګارسيا مارکېز د پېدرو او سوزانا د عمرونو په اړه يو ځانګړی تصور لري. هغه وايي چې ده تل داسې انګېرلې چې کله پېدرو بالاخره سوزانا «مېډيا لونا» ته راولي، سوزانا به شاوخوا ٦٢ کلنه وي او پېدرو به تر هغې نږدې پينځه کاله مشر وي. خو په دې وخت کې هم سوزانا د پېدرو د قدرت او شتمنۍ په نړۍ کې نه‌ښکلېږي؛ هغه په خپل غم، خاطرو او د خپل مړه شوي مېړه «فلورېنسيو» په مينه کې ژوند کوي.

**٧: Eduviges Dyada ، اېدووېخيس ديادا:**

د «دولورېس پرېسيادو» ملګرې ده او کله چې «خوان پرېسيادو» کومالا ته رسېږي، له ده سره مرسته کوي او ځای ورکوي. د هغې په شخصيت کې مهرباني، ميلمه‌پالنه او خواخوږي ښکاري .

**٨: Fulgor Sedano ، فولګور سېدانو:**

تر پېدرو پارامو مشر او د هغه ښی‌لاس دی، ان د پېدرو د پلار «دون‌لوکاس» له وخته د دوی له کورنۍ سره دی، د دوی د ځمکو چارې پر مخ وړي او د پېدرو امرونه عملي کوي؛ په دې کې د نورو خلکو د ځمکو غصب او د مخالفينو له منځه وړل هم شامل دي...

**٩: Father Rentería ، رېنتريا ابا:**

هغه د کومالا کشيش يا پادري دی. په ټولو مذهبي چارو کې فعال دی. هغه په زړه کې پوهېږي چې «پېدرو پارامو» او «ميګل‌پارامو» څه ډول کسان دي، خو د پيسو او قدرت پر وړاندې تسليمېږي. هغه د «ميګل‌پارامو» د مړينې لپاره، د «پېدرو پارامو» په پيسو مذهبي مراسم ترسره کوي.

**١٠: Dorotea ، دوروتيا:**

دوروتيا د کومالا يوه بېوزله ښځه ده او په ناول کې د مړيو د ګډې حافظې مهم غږ دی، چې د ناول له يوه مهم کرکټر سره په قبر کې يو ځای خښېږي.

ketabton.com - The Digital Library

**۱۱: Damiana Cisneros، دامیانا سیسنېروس:**

**دامیانا سیسنېروس د پېدرو پارامو په کور کې د کلونو کلونو خدمتگاره او د میگل‌پارامو پالونکې ده.**

**په ناول کې ځینې نور فرعي کرکټرونه هم شته لکه «توربېیو آلدریت»، «آنا»، «خوستینا» او نور، چې درانه لوستونکي یې د ناول لوستلو په لړ کې پېژندلی شي.**

ketabton.com - The Digital Library



خوان رولفو

ketabton.com - The Digital Library



زه «کومالا» ته راغلم، ځکه ما ته ویل شوي وو چې پلار دې «پېدرو پارامو» نومې کس، همدلته ژوند کوي. دا مې مور راته ویلي وو او ما هم ژمنه ورسره کړې وه چې که دا مړه شــوه، زه به په خپل پلار پســې ځم. د مور لاس مې ټینګ ونیو چې زما په ژمنه ډاډه شي. هغې وروستۍ ساه اخیسته او په کار وه چې هره خبره مې یې منلې وای.

هغې راته ویل:

«حتمي ورشه، په لیدو به دې خوښ شي.»

هغه وخت مې همدا له وســه کېدل؛ خپله ژمنه مې بیا بیا وریاده کړه او د هغې له مړاو ګوتو مې خپل لاسونه راوښکل.

تر دې وړاندې یې هم راته ویلي وو:

«کوم څه چې زما نه‌دي، مه یې ترې غواړه. یوازې د هغه څه پوښتنه ترې وکړه چې ما ته یې راکول، خو رایې نه‌کړل. داســې څه وکړه چې زموږ پرېښــودل ور یاد شي او وشرمېږي.»

- «په سترګو مورې!»

په لومړیو ورځو کې مې زړه نه‌غوښتل چې دغه ژمنه پوره کړم، خو وروسته یې دومره بوخت کړم چې له «پېدرو پارامو» پرته مې په بل هېڅ شي کې فکر نه‌کاوه، حتی په خوب مې لیده او آرام ته یې نه‌پرېښــودم. هغه یوه نړۍ وه او زه پکې ورک وم. له همدې کبله کومالا ته راغلم.

دا وخت سخته ګرمي وه، د اګسټ میاشتې تود باد د «ساپوناریا» بوټو له خوسا بوی سره چلېده. لاره کنده‌کپره وه. ویل کېدل چې د لارې کندې‌کپرې د لارویو په تلو راتلو پورې اړه لري. که یو څوک ځي، لاره پورته کېږي او که راځي، ښکته کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



ما وپوښتل: «هغه ښکته کلی څه نومېږي؟»

ـ «کومالا، ښاغلیه!»

بیا مې وپوښتل: «ته ډاډه یې چې همدا ځای کومالا دی؟»

- «هو، ښاغلیه! پوره ډاډه یم.»

- «نو ولې دا ځای دومره غمجن ښکاري؟»

- «همدا د ژوند حال دی صیب!»

ما تمه درلوده چې د خپلې مور د یادونو او ارمانونو ښار به هماغسې ووینم، لکه د دې په یاد کې چې و. تل به یې د کومالا د لیدو ارمان کاوه، زړه یې وړی و او غوښتل یې ورشي، خو نصیب یې نه‌و. اوس یې زه پر ځای راغلی یم. لکه هرڅه چې د هغې له سترګو وینم یا لکه هغې چې خپلې سترګې ما ته راکړې وي. خبرې یې رایادې شوې: «کله چې لوس کولیموتس ته ورسېدې، یوه ښکلې منظره به وويني؛ شنه د ښته، ر سېدلي جوار، طلايي ور شوګانې، همدا کومالا ده. تېول کورونه رو ښانه او په شپه کې څراغونه بَل.» غږ یې آرام او مبهم و، یوې نرمې زمزمې ته ورته، ته وا له ځان سره خبرې کوي. مورې!...

سږی مې تر خنګ روان و، وامې‌ورېدل چې ویل یې:

- «که پوښتنه بده نه‌وي، ولې کومالا ته ځې؟»

- «غواړم پلار مې ووینم.»

ویې ویل: «هومممم!»

او بیا چوپتیا شوه.

مونږ له غونډۍ را ښکته کېدلو او د خرو د پښو ترپهار مو اورېده. د اګست په هماغه ګرمۍ کې ستومان او خوبولي وو، سترګې مو درنې وې.

څو شېبې وروسته یې وویل: «هلته به دې ښه هرکلی وشي. سترګې یې چې په کوم نوي راغلي کس ولګېږي، خوشحالېږي. کلونه کېږي چې څوک نه‌دي ورغلي.»

وروسته یې خبره وغځوله: «هر څوک چې یې، په لیدو به دې ډېر خوشحاله شي.»

د لمر په رېږدونکو وړانګو کې هواره د ښته دا سې ښکارېده لکه یو روڼ سمندر چې څپې وهي. تر دښتې هاپلو د غرونو او غونډیو لړ څه اورده لړۍ وه او په هغو پسې چې سترګو کار کاوه، یوه شنه فضا وه.

ketabton.com - The Digital Library



سړي وپوښتل: «پلار دې څنګه سړی دی او څه رنګ څېره لري؟»
ورته ومې‌ویل: «هغه ما هېڅکله نه‌دی لیدلی، یوازې دومره خبر یم چې نوم یې پېدرو پارامو دی.»
- «اهووووو!»
دغه کلمه یې داسې ادا کړه، لکه اسویلی چې باسي.
ومې‌ویل: «ما ته همدومره ویل شوي چې نوم یې پېدرو پارامو دی.»
بیا یې کړل: «اهوووو!»
ما دغه ســـړی د «لوس‌انکوئن‌تروس» په نوم په یوه څلورلاري کې لیدلی و. زه هلته ولاړ وم او انتظار مې ایست چې دا سړی راڅرګند شو.
ما ترې وپوښتل: «چېرته ځې؟»
هغه د لاس په اشاره وویل: «هغې خوا ته صیبه!»
- «کومالا نومی ځای پېژنې؟»
- «زه هم هغې خوا ته روان یم.»
ورپسې شوم، لړ شا ته پسې روان وم، هڅه مې کوله چې ځان پسې ورسوم. ده چې احســاس کړه چې ورپســې یم، لږ ورو شــو او څنګ پر څنګ روان شــوو، تر دې چې اوږې مو سره لګېدلې.
هغه ناڅاپه وویل: «پېدرو پارامو زما پلار هم دی!»
د کارغانو یوه ډله په اسمان کې تېرېدله او کاغ، کاغ یې چوپیتا څېرله.
له یوه پېچومي څخه تر تېرېدو وروسته، بیا په لاره کې کندې‌کپرې راغلې او په یوه سوځنده هوا ورګډ شوو، د باد رَپ نه‌و. موږ مخ پر ځوږ روان وو او شاوخوا داسې چوپتیا خپره وه لکه د کومې پېښې احتمال چې وي.
ما وویل: «ډېره ګرمي ده.»
- «دا د پټې سر دی. صبر کوه چې کومالا ته ورسېږې، ګرمي به هلته ووینې. په دنیا کې به دومره تود ښار نه‌وي. وایي؛ کله چې په کومالا کې څوک مړ شي او دوزخ ته لاړ شي، بېرته راګرځي چې خپله کمپله ورسره یوسي!»
ومې‌پوښتل: «پېدرو پارامو پېژنې؟»

ketabton.com - The Digital Library



دا پوښتنه مې ځکه وکړه چې د هغه په سترګو کې مې د ښه نيت يوه وړه نښه وليده.
بيا مې په لړ ټينګار سره وويل: «هغه څوک دی؟»
- «غضب دی، سر تر پښو غضب!»
بيا يې خپله متروکه د خرو په لور وشغوله، خو خره تر موږ مخکې تللي وو او مخ پر ځوږ روان وو.
زما په جيب کې د مور عکس و او له زړه سره مې نږدې داسې تود او خولې شوی و، لکه مور چې مې خولې شوې وي. دا يو زوړ عکس و، څنډې يې سولېدلې وې، خو دا يوازينی عکس و، چې له دې را پاتې و. دا مې هم په پخلنځي کې د لوښو په يوه صندوق کې موندلی و. په دغو لوښو کې طبي بوټي او د ګلانو وچې پاڼې هم وې. د مور مې له عکسونو سره نه‌لګېده. ويل به يې، عکسونه د کوډو او کوډګرو وسايل دي. ښايي رښتيا يې ويل؛ ځکه د هغې په عکس کې هم د ستنې واړه واړه سوري ښکارېدل او د زړه پر ځای يې دا سې يو سوری وو، چې سړي منځوۍ ګوته پکې ننه ايستلی شوه.
دا عکس راسره ګرځوم، هيله‌من يم په درد مې وخوري او پېدرو پارامو يې وپېژني.
د خرو څښتن ودرېد او ويې‌ويل: «هلته وګوره، هغه غونډۍ وينې چې د خوګ د مثانې په څېر ګردې ښکاري؟ ښه ورته وګوره! د هغې غونډۍ تر شا د مېډيا لونا سيمه پرته ده. اوس هغې خوا ته وګوره، د هغې بلې غونډۍ څوکه وينې؟ ښه ورته ځير شه، اوس ببرته دې خوا ته وګوره، هغه اوږده غونډۍ وينې؟ هغه لرې چې په سختۍ ښکاري، دا ټوله سيمه مېډيا لونا ده. له يوه سره تر بله، لکه خلک چې وايي، تر هغه ځايه چې سترګې کار کوي، دا ټوله ځمکه د پېدرو پارامو ده.»
هغه بيا وويل: «هو، موږ د پېدرو پارامو زامن يو، په دې کې هېڅ شک نه‌شته، خو بيا هم زموږ ميندو موږ له بوسو او وښو څخه په ډک غولي کې وزېږولو او د ملنډو خبره دا ده چې موږ ټولو ته يې په خپله د تعميد غسل راکړ. تا ته يې هم د تعميد غسل در کړی، که‌نه؟»
- «نه يم خبر.»
- «ځای دې جهنم دی!»
- «څه دې وويل؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «وایم نور رسېږو، صاحبه!»
- «پوهېږم، خو کلي کې څه دي؟ څوک پکې شته؟»
- «ظاهر ته یې مه ګوره، همدغه دی چې ومې‌ویل، نور پکې څوک نه‌اوسېږي.»
- «پېدرو پارامو څنګه؟»
- «پېدرو پارامو کلونه مخکې مړ شوی دی.»

***

د ورځې هغه شېبې وې چې په هر کلي کې ما شومان کوڅو ته راوځي، لوبې کوي او ټوله غرمه یې شـــورماشـــور خېژي. تر هغه چې په دېوالونو د مازدیګر د لمر زېړې وړانګې ولګېږي. لږ تر لږه دا هماغه څه وو چې ما پرون په «ســایولا» کې همدا مهال ولیدل. کوترې مې ولیدلې چې په هوا کې الوتلې، څرخېدلې او وزرونه یې داســـې رپول لکه د ورځې له منګولو چې ځان خلاصوي. بیا به په ختېنو بامونو کېنا ستې او بېرته به والوتې. د ماشـــومانو نارې‌ســـورې به هم ورسره پورته شـــوې او په هوا کې به وڅرخېدې.

زه اوس په دې غلي او خاموش کلي کې ولاړ وم. په ډېرو پو ښل شوې کوڅه کې مې یوازې د خپلو ګـامونو غږ اورېـده. دا یو غمجن او بې‌معنـا غږ و، چې د لمر وهلیو دېوالونو تر منځ یې انګازې کولې.

همدا مهال د ښـار اصـلي کوڅه کې روان وم، شـاوخوا ته له تشـو او ویجاړو کورونو پرته بل څه نه‌ښـــکارېدل، ماتې دروازې او هرزه‌بوټي هره خوا لیدل کېدل. هغه کس راته ویلي وو، چې دې بوټو ته څه وایي؟

«د ماټو ښـځه، ښـاغلیه! دا یو داســـې آفت دی چې کله یو کور خالي شي، راپورته کېږي او ټول کور لاندې کوي. ته به یې په خپلو سترګو وویني چې څه یې کړي.»

د یوې کوڅې له مخې چې تېرېدم، یوه ښـــځه مې ولیده چې ځان یې په شـــال کې نغښتی و، ناڅاپه داسې ورکه شوه، لکه هېڅکله دلته نه‌وي راغلې. زه بیا روان شوم او د هغو کورونو منځ ته مې وروکتل چې دروازې یې نه‌لرلې. نا څا په مې بیا هماغه ښځه مخې ته تېره شوه.

راغږ یې کړ: «مازدیګر مو نېکمرغه!»

ما ورپسې وکتل او په لوړ غږ مې وویل: «د دونا اېدووېخیس کور به چېرته پیدا کړم؟»

ketabton.com - The Digital Library



هغې د لاس په اشاره وویل: «هاغه د پله تر څنګ کور.»
زه پوه شوم چې غږ يې د يوه ژوندي انسان غږ دی. په خوله کې يې غاښونه وو، ژبه يې د خبرو پر وخت خوځېدله او سترګې يې د هغو انسانانو په څېر وي چې پر دې ځمکه ژوند کوي.
تياره زياتېدله. هغې مخ راواړاوه چې د ماښـــام د خير دعا وکړي، که څه هم نه کوم ماشوم په کوڅه کې لوبېده، نه کوترې وې او نه د ختېنو بامونو سيوري، خو ما داسې احساس کاوه چې کلی ژوندی دی. هره خوا چوپتيا وه، خو ما ته چوپتيا نه‌ښکارېده، ښايي لامل يې دا و، چې له چوپتيا سره عادت نه‌وم او په سر کې مې لا هم غږونو او خبرو ازانګې کولې. دلته په دې مړه او سپکه هوا کې ما هغه غږونه لا په زوره اورېدل او داسې مې احساسول لکه زما د وجود د ننه چې پراته وي. د مور خبرې مې وې:
«هلته به زما غږ لا ښــه اورې، زه به درته لا نږدې يم، ته به زما د يادونو غږ د مرګ له غږه زيات اورې، البته که مرګ غږ ولري...»
مورې!... کا شکي ژوندی وای! کا شکي همدلته وای او درته ويلي مې وای: «د کور په اړه دې تېروتنه کړې وه. تا ما ته ناسم ځای راښوولی و. تا چې څه ويلي وو، دلته هغه څه نه‌شــته. زه په يو ويجاړ کلي کې داســې څوک لټوم چې له بېخه ژوندی نه‌دی او ګردسره شته نه!»
د ســيند غږ مې واورېد، په همدې غږ پســې روان شــوم او د پله ترڅنګ مې هماغه کور وموند. لاس مې پورته کړ چې دروازه يې وټکوم، خو ګورم چې دروازه نه‌شـــته. لاس مې په تشه هوا کې وخوځېد، لکه باد چې دروازه پرانيستې وي. يوه ښځه هلته ولاړه وه. هغې وويل:
- «د ننه راځه!»
زه کور ته ورننوتم.

***

په کومالا کې مېشــت شــوم. هغه ســړي چې خره يې درلودل، رانه بېل شــو او تر روانېدو مخکې يې راته وويل: «زه ډېر لرې ځم، هاغه د غرونو اوږده لړۍ چې وينې، زما کور همالته دی، که راسره ځې، قدم دې په لېمو، خو که دلته پاتې کېږې، پاتې شه. زه تېنګار نه‌کوم، کلی وګوره، کېدای شي کوم ژوندی څوک پيدا کړې.»

ketabton.com - The Digital Library



زه پاتې شوم، ځکه د همدې کار لپاره راغلی وم.
په لوړ غږ مې چيغه کړه: «د اوسېدو ځای به چېرته پيدا کړم؟»
هغه له لرې راغږ کړ: «دونا اېدووېخيس پيدا کړه، که لا ژوندۍ وي، ورته ووايه چې ما رالېږلی يې.»
ما ورغږ کړ: «ستا نوم څه دی؟»
- «ابونديو...»
خو کورنۍ نوم مې يې وانه‌ورېد.

***

«زه اېدووېخيس ديادا يم، راځه د ننه!»
داسې ښکارېده لکه ما ته چې سترګې په لار وي. ويې‌ويل:
«هرڅه چمتو دي» په لاس يې اشاره وکړه چې ورپسې شم. له اوږدو تيارو خونو څخه تېر شــوو. خونې په اول ځل کتو تشــې ښــکارېدې، خو کله چې مې له تيارې سره سترګې عادت شوې، د رڼا يوه نرۍ ليکه مې وليده. دواړو خواو ته مو سيوري ځرګند شول او دا سې مې احساس کړه چې د دوو لويو او بندو دالانونو تر منځ په يوه تنګه لار کې روان يو.
ما وپوښتل: «دلته څه دي؟»
هغې وويل: «بلا او بتر. زما کور د نورو خلکو له شيانو ډک دی. کله چې خلک له دې ځايه تلل، خپل ســامانونه يې زما کره کېښــودل، خو له هغوی څخه يو هم بېرته رانه غی چې خپل شيان يوسي. کومه کوټه چې ستا لپاره مې ساتلې، د کور په پای کې ده، تل يې پاکه او تشه ساتم، يو وخت څوک راځي.»
بيا يې راته وکتل او ويې‌ويل: «نو ته دې هغې زوی يې؟»
- «د چا زوی؟»
- «د دولورېس زوی»
- «هو، خو ته څنګه پوه شوې؟»
- «هغې راته ويلي وو، چې ته به راځې. ويلي يې وو، چې نن به رارسېږې.»
- «چا؟ زما مور؟»
- «هو، ستا مور»

ketabton.com - The Digital Library



نه پوهېدم، څه فکر وکړم. هغې هم د فکر کړلو وخت رانه کړ، ویې‌ویل:
- «دا ستا کوټه ده.»
کوټې ور نه‌درلود، په دېواله کې سوری غوندې ځای و، چې ورننوتو، هغې شمه بَله کړه او ما ولیدل چې کوټه بیخي تشه ده.
هغې ته مې وویل: «دلته خو د ویدېدو لپاره توشکه‌موشکه نه‌ښکاري؟»
- «اندېښنه مه کوه، ته ستړی یې او همدا ستړیا دې توشکه ده. سهار وختي به د خوب ځای درته برابر کړم. دا کوټه دومره ژر نه‌سمبالېږي. انسان باید وار له مخه خبر وي، خو مور دې همدا نن خبر راکړ.»
- «زما مور؟... زما مور خو مړه شوې ده!»
- « نو ځکه یې غږ دومره کمزوری و، داسې لکه له ډېره لرې ځایه چې خبرې کوي. اوس پوه شوم. نو کله مړه شوه؟»
- «اووه ورځې وړاندې»
- «بېوزله ښځه! ښایي فکر یې کاوه چې ما پرېښوده او هېره مې کړه. موږ دواړو ژمنه سره کړې وه چې په ګډه به مرو. ویل مو چې د وروستي سفر پر مهال به لاس په لاس روانېږو، یوې او بلې ته به زړه ورکوو او مر سته به سره کوو. موږ له زړه دو ستانې وو. هغې زما په اړه څه نه‌وو درته ویلي؟»
- «نه، هېڅکله.»
- «عجیبه ده! هغه وخت موږ لا نجونې وو، چې دا ژمنه مو سره کړې وه. هغه وخت یې نوی واده کړی و، خو موږ سره ډېرې ګرانې وو او د یوې او بلې خبره مو نه‌غورځوله. ستا مور دومره ښکلې وه، دومره... څه درته ووایم؟ دومره خوږه وه چې انسان به بې‌اختیاره پرې مینېده.»
بیا یې په نیمه ټوکه وویل: «نو هغه له ما نه یو ګام مخکې شوه، ها؟ ښه غم مه‌کوه، زه به هم ورپسې ورسېږم. دا تر ما ښه نه‌پوهېږي چې جنت څومره لرې دی، زه یې لنډې لارې پېژنم.»
بیا یې په عجیبه ډاډ سره وویل: «راز دا دی چې خدای راضي وي او هغه وخت مړ شې چې ته یې غواړې. هغه وخت نه، چې بل کس یې درته وټاکي. خدای باید تا په خپله وروغواړي.»

ketabton.com - The Digital Library



له لږ ځنډ وروسته یې وویل: «ښېښنه غواړم چې داسې خبرې کوم، ته مې د خپل زوی په څېر یې، هو! دا خبره مې زر ځله کړې ده چې د دولوړېس زوی باید زما زوی وای. یوه ورځ به درته ووایم چې ولې. اوس یوازې دومره درته وایم چې زه به د ابدیت پر یوه لاره ستا له مور سره یو ځای شم او سره وبه‌وینو.»
ما له ځان سره فکر وکړ، دا ښځه حتماً لېونۍ ده. وروسته مې بل هېڅ فکر نه‌کاوه، یوازې دومره مې احساسوله چې یو بله نړۍ کې یم او ځان مې د هغې نړۍ څپو ته سپارلی چې هرې خوا ته مې وړي، وړي به مې. بدن مې شېبه په شېبه کمزوری کېده. بشپړ تسلیم شوی وم. داسې مې انګېرل لکه ټول بندونه مې چې شل شوي وي او چې هر څوک غواړي د یوې نانځکې غوندې مې لوبولی شي.
ورته ومې‌ویل: «ستړی یم.»
- «له ویده کېدو مخکې یو څه وخوره، که یوه مړۍ هم وي، څه چې تیار وو.»
- «ښه، خورم یې، لږ وروسته.»

***

د بام له ځنډو چې له خښتو جوړې وې، اوبه راڅڅېدې او د انګړ په شګو کې یې یو وړوکی سوری جوړاوه. اوبه څاڅکی څاڅکی د ونې په یوه پاڼه چې په سوري کې بنده وه، لګېدې. پاڼه خوځېدله او غږ یې کاوه. توپان نور پای ته رسېدلی و. یو نرم باد به راغی، د انار د ونې څانګې به یې وښورولې او له پاڼو به یې واړه واړه څاڅکي راوشیندل. پر ځمکه به څاڅکو ورو ورو خپله ځلا بایلوه او د ځمکې تل ته به ننوتل. چرګوړي لا هم پټنځای کې غلي او خوبولي ناست وو، خو ناڅاپه یې وزرونه وټپول او انګړ ته راووتل. سرونه به یې ښکته پورته کول او هغه چینجي به یې په مښوکو کې نیول چې باران له ځمکې را ایستلي وو. کله چې به ورېځې چوله شوې، لمر به په ډبرو ولګېد، د اوبو پر مخ به یې رنګارنګ ځلا خپره کړه. ځمکې اوبه زبېښلې او د ونو په پاڼو کې څاڅکي ځلېدل.
- «زویه! په تشناب کې دې دومره وخت ولې تېر کړ؟»
- «هسې موري!»
- «که نور هم دغلته پاتې شې، مار به راشي او وبه‌دې چیچي.»
- «په سترګو موري!»

ketabton.com - The Digital Library



سوزانا! د شنو غونډیو پر سر، زه ستا په فکر کې وم. د بادونو د موسم په فکر کې چې مور به کاغذبادونه الوځول. د غونډۍ په لوړه څوکه به ناست وو، د ښکته کلي د خلکو غږونه به راتلل او باد به مې له ګوتو د کاغذباد تار کشاوه. ما به درته ویل: «سوزانا! مرسته راسره وکړه.» په نرمو لاسو به دې زما لاسونه ټینګ کړل او وبه‌دې ویل: «نور تار هم ورپرېږده.»

باد به روان و، زموږ سترګو به هغه تار څاره چې له ګوتو مو هوا ته غځېدلی و. تر دې چې ناڅاپه به په یو ټک سره تار وشلېد، د یو مرغه وزر به پرې لګېدلي وو او د اسمان په لمن کې به زموږ کاغذي‌مرغه تر خپلې لکۍ چورلېده، تر هغه چې په شنو پټیو کې به راولوېد او له سترګو به پناه شو...

- «څه شوې، له تشنابه راووتې؟»

- «هو، مورې! درځم.»

ستا په فکر کې وم، د هغو وختونو په فکر کې چې ولاړه به وې او په خپلو ښکلو شنو سترګو به دې ما ته کتل.

سر یې راپورته کړ او مور یې په دروازه کې ولیده.

- «ولې دې دومره وخت ویوست. هلته د ننه څه کوې؟»

- «فکر کوم.»

- «بل ځای فکر نه‌کېږي؟ په تشناب کې دومره ډېر پاتې کېدل ښه نه‌دي. په کار پسې دې ولاړ شه، له خپلې نیا سره د جوارو په پاکولو کې مرسته نه‌کوې؟»

- «ځم مورې!»

***

- «نیا جانې! راغلم چې د جوارو په پاکولو کې مرسته درسره وکړم.»

- «هغه کار مو خلاص کړی، خو ټنټې باید نورې هم وټکوو. د باران په وخت چېرته وې، ټول درپسې ګرځېدو؟»

- «شا ته انګړ کې وم.»

- «هلته دې څه کول؟ دعا دې کوله؟»

- «نه، نیا جانې! یوازې باران ته مې کتل.»

ketabton.com - The Digital Library



نیا یې په خپلو زېړېبخونو سترگو ورته وکتل، په داسې ژور نظر چې ته وا د بدن د ننه یې څه وینې. بیا یې ورته وویل: «اوس نو ورځه، مېچن پاکه کړه.»
سوزانا! د وريځو له پاسه په سلگونو متره لوړه او له هر څه بره، پټه یې! د خدای په ناپایه عظمت کې پټه یې، د هغه د الهي تقدیر تر شا، هلته چې نه دې لمس کولی شم، نه دې لیدلی او نه مې خبرې درسېږي.
- «نیا جانې! مېچن کار نه‌کوي، ډېره یې ماته شوې ده!»
- «دا به میکایلا پرې جوار اوړه کړي وي، له دې عادته یې نه‌شم راگرځولی، اوس ناوخته دی.»
- «نوې مېچن نه‌اخلو؟ دا خو دومره زړه شوې چې نور له هرې ښې لوېدلې ده.»
- «په څه شي یې واخلو، ټولې پیسې ستا د نیکه په خښولو ولگېدې او کلیسا ته مو چې عشر ورکړ، اوس هېڅ نه‌دي راپاتې.»
بیا یې وویل: «نو څه به کړو، اخلو به یې. ولې نه‌راپاځې، ډونا اېنېس ته ورشه او ورته ووایه چې تر اکتوبره پورې زموږ حساب ونیسه، د حاصل پر وخت به یې پیسې درکړو.»
- «سمه ده نیا جانې!»
- «چې هلته ولاړې، په یوه غشي، دوه نښې ووله، یو غلبېل او څو بیاتې هم ترې وغواړه. د هرزه‌بوټو حال وینې؟ که داسې روان وو، کښت به پوپناه کړي. که زما هغه لوی کور او پخوانۍ جایداد وای، غم مې نه‌و، خو کله چې دلته راغلو، نیکه دې هر څه برباد کړل. خدای پوهېږي، ډېر لږ کارونه د انسان په زړه کېږي. ډونا اېنېس ته ووایه چې د حاصل تر ټولېدو وروسته به پور درکړو.»
- «په سترگو، نیا جانې!»
په انگړ کې د مچ‌خوَرو مرغیو غږ شو. د کال هغه موسم راغلی و، چې مچ‌خوَرې مرغۍ پکې پیدا کېږي. د یاسمین گلانو په منځ کې یې مښوکې وهلې او د وزرونو د رپا غږ یې راتله.
هغه د لمانځه له ځایه تېر شو او څلورویشت سنتاوه پیسې یې وموندلې. څلور سنتاوه یې پرېښودل او شل یې جیب ته کړل. کله چې له کوره واته، مور یې ودراوه: «چېرته ځې؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «د ډونا اینېس کره ځم، چې یوه نوې مېچن واخلم، زموږ ماته شوې ده.»
- «یو مېټر توره تافته هم ترې راوړه، ورته کړه چې پور یې راپسې ولیکه.»
- «سمه ده، مورې!»
- «او چې راتلې، څو اسپرین هم راته راوړه، د دهلیز په ګلدان کې لږې پیسې شته.»
په ګلدان کې یوه پیزو وه. شل سنتاوه یې پرېښودل او یوه پیزو یې راواخیسته. له ځان سره یې وویل: «اوس نو دومره پیسې راسره شته چې هرڅه مخې ته راشي، اخلمه یې.»
ورپسې چیغه وشوه: «پېډرو! پېډرو!»
خو هغه وانه‌ورېده، لرې تللی و.

***

د شپې بیا باران پیل شو، هغه ډېر وخت د اوبو شرنګې ته غوږ و، وروسته ویده شو، چې کله راویښ شو، د باران د یو یو ځاځکي غږ یې اورېده. د کړکیو ښیښې له خولو ځخه خړې شوې وې او د باران ځاځکي پرې د اوښکو غوندې رابهېدلي وو.
سوزانا! ما د برېښنا په ځلا کې د اوبو هغه نرۍ لارې لیدلې چې ځلېدې او هره ساه چې مې اخیسته، له آه سره مل وه او هر فکر چې مې کاوه، ستا په اړه و.
باران په باد بدل شو، هغه واورېدل: «د ګناهونو د ښښنې په هیله او د بدن بیا راژوندي کېدل، آمین.» دا غږ د کور له ژورو برخو څخه راووت، هلته ښځو د تسبو وروستۍ مرۍ اړوې. هغوی له دعا پورته شوې، چرګان یې په کوټخه کې بند کړل، دروازه یې هم وتړله او څراغ یې مړ کړ.
اوس یوازې د شپې رڼا پاتې وه او د باران هغه شرنګې چې د چنچڼو د غږ په څېر و، اورېدل کېده.
- «ولې رانه‌غلې چې له موږ سره دې ذکر کړی وای؟ موږ ستا د نیکه لپاره نهه ورځنۍ دعا کوله.»
مور یې په دروازه کې ولاړه وه، شمعه یې په لاس کې وه.
د هغې اوږد او کوږ ووږ سیوری تر چته غځېدلی و او د چت د لرګیو سیوري هم ورسره ګډ وو.
هغه وویل: «زړه مې خپه دی.»

ketabton.com - The Digital Library



مور يې مخ وراړاوه، شمعه يې مړه کړه.
کله چې يې دروازه تړله، د هغې سلګۍ پيل شوې؛ هغه يې ډېر وخت اورېدلې، د باران له غږ سره ګډې شوې وې.
د کليسا ساعت زنګونه وهل؛ يو ساعت پس بل ساعت، بيا بل ساعت؛ داسې لکه وخت چې په يوه شېبه کې راټول شوی وي.
«هو، همداسې ده، زه نږدې ستا مور کېدونکې وم، هغې هېڅکله د دې خبرې په هکله څه نه‌دي درته ويلي؟
- «نه، هغې يوازې ښې خبرې راته کولې، ستا په اړه مې هاغه د خرو ولا سړي څخه واورېدل؛ هغه سړي چې زه يې تر دې ځايه راوستم؛ هغه ابونديو.»
- «ابونديو ښه سړی دی، چې لا يې په ياد يم. ما به د هر مسافر په بدل کې چې زموږ کره به يې راوست، يوه وړه ډالۍ ورکوله.»
په خواشيني غږ يې وويل: «خو اوس له بده‌مرغه زمانه بدله شوه، له هغه وخته چې ښار په بدمرغۍ کې لوېدلی، هېڅوک نه‌راځي.»
بيا يې وپوښتل: «نو ده درته وويل چې راشې او ما ووينې؟»
- «هو، هغه راته وويل چې تا پيدا کړم.»
- «د دې خبرې له امله ترې منندويه يم. هغه ډېر ښه سړی و. داسې سړی چې پرې باور کېدای شو. هماغه و، چې موږ ته به يې ليکونه راوړل او ان چې کله کوڼ شو، بيا يې هم خپل کار ته دوام ورکړ. هغه توره ورځ مې لا په ياد ده چې دا پېښه وشوه. په ټولو يې بد اغېز وکړ، هغه پر موږ ګران و. تل به يې راته ويل چې د نړۍ په هغه او دغه سر کې څه روان دي. دغسې زموږ ژوند به يې هم ارزاوه، ډېرې خبرې به يې کولې، خو وروسته بيا داسې نه‌و. له هغه وروسته يې خبرې پرېښودې. ويل يې: څه ګټه لري چې داسې خبرې وکړم چې خپله يې نه‌شم اورېدلی؟ داسې خبرې چې په هوا کې ورکېږي او داسې خبرې چې خوند يې نه‌شم احساسولای؟ دا هر څه هغه وخت پېښ شول چې له هغو لويو توغنديو څخه يو، چې موږ به د سمندري مارانو د وېرولو لپاره کاراوه، د ده له سر سره ډېر نږدې وچاودېد. له هغې ورځې وروسته يې هېڅکله خبرې ونه‌کړې، که څه هم ژبه يې نه‌وه بنده شوې. خو يوه خبره درته کوم: دې کار هغه هېڅکله له ښه سړيتوبه لرې نه‌کړ.»

ketabton.com - The Digital Library



ما وويل: «هغه ښه سړی چې زه يې يادوم، خبرې يې اورېدې!»
- «نو بيا هغه نه‌دی او بل دا چې ابونديو مړ شوی دی. زه پوره ډاډه يم چې مړ دی، نو گوره دا به بل څوک وي.»
- «گومان کوم تاسې په حق ياست.»
ښځې سر وخوځاوه او بيا يې وويل: «ښه، بېرته به ستا مور ته راشو، لکه څنگه چې مې درته وويل...»
زه يې خبرو ته غوږم او په ځير مې ورکتل. فکر مې کاوه چې د ژوند سختې ورځې يې ليدلې دي. مخ يې دومره خوار او زيړ زبېښلی و، ته وا څاڅکی وينه پکې نه‌شته. لاسونه يې وچ او له گونځو ډک وو. سترگې يې دومره ژورې تللې وې چې په سختۍ ښکارېدې. زړې جامې يې اغوستې وې، ليکې يې سولېدلې او گنډل شوې وې. په غاړه کې يې د سپېڅلې مريم مډال په زيړ تار کې راځوړند و. پرې ليکي وو: «له گناه پناه»
- «هغه سړی چې درته يادوم يې، د مېډيا لونا په فارم کې يې آسونه روزل. نوم يې اينوسن‌سيو اورسيور دی، خو ټول يې په مستعار نوم، بور، پېژني. ځکه هغه به په آس پورې دومره کلک نښت، لکه د بور اغزی چې په کمپله پورې نښلي. خو حقيقت دا دی، چې هغه يو بل مسلک هم درلود: کوډې، فال‌کتل او خوبونه تعبيرول. هغه ستا له مور سره هم هغه چل وکړ، چې له ډېرو نورو ښځو سره يې کاوه، ان له ما سره. يوه ورځ چې زه ناروغه وم، کور ته راغی او ويل يې: «غواړم ودې‌وينم او درملنه دې وکړم.»
موخه يې دا وه چې ټول غړي مې وگوري او چاپې يې کړي. دغسې راوړاندې شو، لومړی يې د گوتو له نوکانو پيل وکړ، بيا يې ورغوي، څنگلې او متې راوموښلې. بيا يې پښې راچاپې کړې. شونډې يې ښورولې، کوف او چوف يې کول. بيا به په يو عجيب حالت کې ډوب شو، لکه جادو چې کوي، دَم او دعا ته به کش شو... د دغه کس ځينې خبرې او درملنې به ښې ثابتېدې، خو ډېرکله به يې خلکو په نيت شک کاوه... ستا مور يې هم راته کيسه کړې چې يو وخت د علاج لپاره ورغلې وه او ورته ويلي وو چې راتلونکې شپه له مېړه سره مه يو ځای کېږه، ځکه سپوږمۍ تندر نيسي. ستا مور ډېره حياناکه ښځه وه او په غوسه ترې راولاړه شوې وه. هغه وخت نږدې وو چې د مور بن

ketabton.com - The Digital Library



دې شم. پېدرو پارامو مور هم پېژانده او ستا له مور سره مې پرې رخه کېدله. کېدای شي مور دې له دې خبرو شرمېدله، ځکه يې تا ته نه‌يم ياده کړې.»

- «زما مور يوازې د شنو ځړځايونو، د لمر د راختلو او لوېدلو، د غنمو په کروندو کې د باد د لګېدو، د باران، مازديګر، خاورو، وښو او د د ډوډۍ د بوی کيسې کولې؟»

- «هغې تل له پېدرو پارامو کرکه کوله.»

دولورېس! هغوی ته دې ويلي چې ما ته سهارنۍ چمتو کړي؟» او مور دې سهار له لمر ختو مخکې پاڅېدله، اور يې بَل کړ او د وچو لرګيو د لوګي بوی پيشوګانې هم راويښې کړې. د پيشوګانو يوه رمه ورپسې وه. دونا دولورېس!

- «نه پوهېږم ستا مور به دا غږ څو ځله اورېدلی وي؟ دونا دولورېس، زه دا نه‌خورم، ساړه شوي دي.»

- «څو ځله؟»

«او که څه هم هغې د ژوند د ډېرو سختو حالاتو تجربه لرله، خو د هغې حياناکې سترګې ورسره سختېدلې.»

- «د دې پر ځای چې د بل څه خوند ياد کړي، يوازې به يې د اوړي په تودوخه کې د نارنجو د ګلانو عطرين خوند ياداوه.»

- «بيا به يې اسويلي پيل کړل.»

- «دولورېس! ولې اسويلي باسې؟»

- «ما هغه مازديګر له هغوی سره تېر کړ، د يوه پټي په منځ کې ولاړ و او د کوچنيو توتکيو ډلې ته مو کتل، چې يو باز هم راښکاره شو، په هوا کې يې دورې وهې.»

- «دولورېس! ولې اسويلي باسې؟»

- «کاشکې زه هم باز وای، الوتلی شوای او د خپلې خور کره ورغلې وای.»

- «بس کړه، دونا دولورېس! همدا اوس ورتلی شې او خور دې ليدی شې. بېرته کور ته ځو، ته به خپل بکسونه راټولوې، دا وروستۍ موقع ده!»

او ستا مور لاړه.

- «په مخه‌ښه دون‌پېدرو!»

- «ښې‌چارې دولورېس!»

ketabton.com - The Digital Library



او هغه بیا هېڅکله «مېډیا لونا» ته رانه‌غله. څو میاشتې وروسته مې له پېدرو پارامو څخه د هغې پوښتنه وکړه. هغه راته وویل:

- «هغې له خپلې خور سره تر ما زیاته مینه درلوده، ښایي اوس خوشحاله وي. رښتیا زه هم ترې ستړی وم او دا چې ترې خبر یم یا نه؟ زړه مې نه‌غواړي، څه ووایم.»

- «نو څه به خوري او څښي؟»

- «خدای روزي‌رساند دی.»

***

- «زویه! داسې کار وکړه چې زموږ پرېښودل وریاد شي او وشرمېږي...»

-«او همداسې وشول، هغې چې خبر راکړ، چې ته به مې لیدو ته راځې، بیا مې یې په اړه هېڅ وانه‌ورېدل.»

ما اېدووېخیس ته وویل:

«له هغه وخت راهیسې ډېر څه پېښ شوي، موږ کولیما ته راغلو، زما ترور ګېرترودیس موږ خپل کور ته بوتلو، خو هره ورځ به یې رایادوله چې په اوږو یې بار یو او زما مور ته به یې تل ویل چې ولې خپل مېړه ته نه‌ورځې؟»

مور به مې ویل: «نو، هغو څوک رالېږلي دي؟ تر هغه به ورنه‌شم چې څوک راپسې راونه‌لېږي، زه تا ته راغلې یم، درسره مینه مې ده.»

ترور مې ویل: «زه پوهېږم، خو اوس باید ورشې.»

- « که زما واک وای...»

ما فکر کاوه چې اېدووېخیس مې خبرو ته غوږ نیولی، خو چې کتل مې سر یې داسې کوږ نیولی و، لکه ډېر لرې غږ ته چې غوږ وي. همدا وخت یې وویل: «ته به کله آرام کوې؟»

کومه ورځ چې ته لاړې، پوه شوم چې هېڅوخت به دې ونه‌وینم؟ مخ دې د مازدیګر لمر ته ځلېده، موسکی وې. کلی دې شا ته پرېښود او څو ځله دې وویل: «ستا په خاطر مې خوښ دی، خو نور ترې زر واره کرکه لرم. که څه هم دلته زیږېدلې یم.»

له ځان سره مې وویل: «بیا به راونه‌ګرځي» څو څو ځله مې وویل: «هغه به رانه‌شي، هېڅوخت به رانه‌شي.»

***

ketabton.com - The Digital Library



«دلته څه کوې؟ کار نه‌لرې؟»

«نه، نیا جانې! روخیلیو غواړي چې ماشوم یې ورته کرار کړم. هغه مې د ګرځولو لپاره را ایستلی دی. زه دومره کارونه نه‌شم کولی چې هم ماشوم کرار کړم او هم د ټلیګراف کار. هغه هم کله روخیلیو ځي او د بیلیاردو خونه کې چای خوري. له دې ټول کار سره پیسې هم نه‌راکوي.»

نیا وویل: «ته هلته د پیسو لپاره نه یې ګمارل شوی، ته د کار د زده‌کړې لپاره هلته یې. که دې لږ سر خلاص شو، بیا د پیسو خبره کوه. تر اوسه یوازې زده‌کوونکی یې. کېدای شي یوه ورځ خان شې، خو لا هم صبر په کار دی، که درته وایي، زوی مې ساعتېرۍ ته وباسه، د خدای په خاطر دا کار کوه، ته باید صبر زده کړې.»

- «نور خلک دې صبر کوي، زه د صبر سړی نه‌یم!»

- «پېدرو پارامو! ته او ستا یاغي خیالونه، هسې نه په بلا واوړې!»

***

ما اېدووېخیس ته وویل: «دونا اېدووېخیس، همدا اوس مې څه واورېدل؟»

هغې سر وخوځاوه، لکه له یوه درانه خوبه چې ویښه شوې وي: «د میګل‌پارامو آس دی، د مېډیا لونا په لاره منډې وهي.»

- «نو حتماً په مېډیا لونا کې څوک اوسېږي؟»

- «نه، هلته هېڅوک نه‌اوسي.»

- «آخر د هغه آس دی، ځي او راځي. دوی یو له بله نه‌جدا کېږي. آس کرۍ ورځ د خپل خاوند په لټه کې ګرځي او تل همدا وخت رارسېږي. حتی حیوان هم پوهېږي چې جنایت یې کړی دی!»

- «زه نه‌پوهېږم او نه‌مې دي اورېدلي چې آس داسې څه ووایي.»

- «تا نه‌دي اورېدلي، نو زما شپږم حس خو وایي. دغه ډالۍ چې خدای راکړې یا ښایي مرض خدای راکړی، څه پوهېږې چې څومره یې کړولې یم.»

هغه یوه شېبه غلې وه، بیا یې وویل:

- «هر څه د میګل‌پارامو له مړینې پیل شول. زه یوازینۍ ښځه وم چې د هغه د مړینې په شپه له هر څه خبره وم. هغه مهال زه پر کټ پرته وم چې د آس غږ مې یې واورېد، چې له مېډیا لونا راستون و. حیرانه شوم، ځکه میګل به هېڅکله دا وخت کور ته نه

ketabton.com - The Digital Library



راته. تل به سهار وختي رابښکاره شو. هره شپه به د کونتلا ښارګوټي ته د خپلې معشوقې کره تلو، خو دا ځل بېرته رانه‌غی... اوس يې غږ اورې؟ غوږ شه!»
البته چې اورې يې، دا د هغه آس دی چې کور ته راځي.
ما وويل: «زه هېڅ نه‌اورم.»
هغې وويل: «نو بيا يې يوازې زه اورم.»
خبره يې وغځوله: «ښه، لکه چې ومې ويل، دا چې هغه بېرته رانه‌غی، دا د کيسې ټوله برخه نه‌وه. د هغه آس لا له دې ځايه تېر شوی نه‌و، چې چا کړکۍ راوټکوله. اوس ته خپله قضاوت وکړه چې دا به زما خيال و او که نه؟ رښتيا يو څه مجبوره شوم چې تر کړکۍ وګورم چې څوک دي. ميګل‌پارامو و، په ليدو يې حيرانه نه‌شوم، ځکه يو وخت داسې هم و، چې هره شپه به يې له موږ کره تېروله. خو په هاغه ښارګوټي کې يې چې خوله خوږه شوه، بېخي لېونی شوی و.»
ما ترې پوښتل: «څه پېښه ده؟»
هغه وويل: «هغه لا هم مينه راسره لري. ستونزه دا ده چې ما هغه پيدا نه‌کړای شوه، ښار ته مې د تګ لاره هم ونه‌مونده. هر څه په لړو او لوګي کې پټ وو. يوازې دومره پوه شوم چې کونتلا نوره نه‌شته. هر څومره چې وګرځېدم، ښار پر هغه ځای نه‌و. اوس راغلی يم چې دا خبره درته وکړم، ځکه ته مې په خبره پوهېږې. که په کومالا کې مې بل چا ته ويلي وای، لېونی يې ګڼم، لکه تل چې يې ګڼلی يم.»
ما وويل: «نه، ميګله! ته لېونی نه‌يې. ته مړ شوی يې. په ياد دې دي؟ ټولو به درته ويل، چې يوه ورځ به همدا آس ستا د مرګ سبب شي. ډېر لېونتوب دې کاوه، خو هغه اوس بله خبره ده.»
هغه وويل: «ما يوازې دومره وکړل چې د پلار په لاس له جوړ شوی ډېرين دېواله مې راټوپ کړل. اېل‌کولوراډو څخه مې وغوښتل چې له دېواله واوړي، چې کوڅې ته د رسېدو په خاطر، په اوږده لار تاوېدو ته اړ نه‌شم. له دې کبله مې له دېواله ټوپ وهل او خپل مزل ته مې دوام ورکړ، خو هر څه لوګي، لوګي او بيا هم لوګي وو.»
- «سبا دې که پلار خبر شي، خواشينی کېږي. زړه مې پرې سوځي. اوس په آرامۍ لاړ شه او په قبر کې دې استراحت وکړه. ميګل! مننه چې راغلې او راويښه دې کړم.»

ketabton.com - The Digital Library



ما کړکۍ وتړله. د لمر تر ختو وړاندې د «مېډیا لونا» یو مزدور راغی او راته ویې‌ویل: «ځوان میګل مړ شوی دی. دون‌پېدرو غواړي چې ورسره پاتې شي.»
ما ورته وویل: «زه له موضوع خبره وم.»
- «ایا درته ویلي یې وو، چې وژاړې؟»
- «هو، دون‌فولګور، راته وویل چې کله خبر درکړم، باید وژاړې.»
بیا مې وویل:
- «سمه ده، دون‌پېدرو ته ووایه چې زه به ورشم، د هغه جنازه یې څه وخت راوړې؟»
- «تر نیم ساعت ډېر وخت نه‌کېږي، که لږ مخکې یې موندلی وای، ښایي ژغورل شوی وای، خو ډاکټر چې وکوت، ویل یې څو ساعته مخکې مړ دی. کله چې اېل‌کولوراډو یوازې راستون شو او دومره شورماشور یې جوړ کړ، چې هېڅچا خوب ونه‌شوای کړای، زه وپوهېدم چې یوه بده پېښه شوې ده.»
ته خو پوهېږې چې میګل او آس یې څومره یو پر بل ګران وو، فکر کوم آس به تر دون پېدرو ډېر غمجن و. نه یې څه خوړلي او نه یې خوب کړی، یوازې تاوېږي راتاوېږي، داسې ښکاري لکه سم چې پوهېږي، ته وا زړه یې سوری دی.
ورته ومې ویل: که وتلې، د دروازې تړل دې هېر نه‌شي او له دې خبرې سره د مېډیا لونا مزدور له کوره ووت.
ښځې رانه وپوښتل: کله دې د یوه مړي ژړا او سلګۍ اورېدلې؟
- نه، دونا اېدووخیس!
- بختور یې.

***

له تابوت څخه یو یو ځاڅکی څڅېده. هوا د هغو رڼو اوبو غږ راووړ، چې له شګو راوتې او په یوه منګي کې تویېدلې.
هرې خوا ته د اوبو د شړا او د خلکو د پښو د ترپا غږ خپور و. خلک یوه خوا، بله خوا تلل. ځاځکي څڅېدل، منګی تر څوکو ډک و، اوبه ترې تویېدې او پر لمده ځمکه بهېدلې.
چا غږ کړ: راویښ شه!

ketabton.com - The Digital Library



غرې آشنا ښکارېده، هڅه یې کوله ویېپېژني، خو سترګې یې درنې وې او بېرته ویده شو. لاسونه یې وخوځېدل، څادر پر ځان راخور کړ، چې لږ تودوالی یې احساس کړ، ژور ویده شو.

بیا غږ شو: راویښ شه!

اوږې یې وښورېدلې او ځان یې وغځاوه. چې سترګې یې چوله کړې. له شګو څخه په منګې کې اوبه راڅڅېدلې. د پښو ترپهار یې واورېد. د ژړا غږ یې تر غوږ شو. ژړا روانه وه، دومره سوکه چې د خوب تر ژورو رسېدله او هلته یې وېره پاروله.

هغه ورو ورو له کټه راپاڅېد، د یوې ښځې مخ یې ولید چې د دروازې چوکاټ ته یې ډډه وهلې. ښځه د چوکاټ په سیوري کې سمه نه‌ښکارېده، خو د ژړا غږ یې سم اورېدل کېده.

ده ور غږ کړ: «مورې! ولې ژاړې؟»

- «پلار دې مړ دی!»

بیا داسې لکه په زړه کې چې یې د غم سکروټې وخوځې، راوڅرخېده او هماغه خبره یې بیا بیا تکرار کړه. بیا یې خپل لاسونه تر اوږو پورې راټینګ کړل او د ځان د لړزې مخه یې ونیوله.

د ورځې رڼا د دورازې له چولې ښکارېده. ستوري نه‌وو، یوازې یو تت او خړبخون اسمان چې لا پرې لمر نه‌و راخلي، د ورځې د راتلو کیسه کوله.

بهر په انګړ کې د پښو ترپهار داسې و، لکه خلک چې په لارو کې سرګردانه وي او د ننه هغه ښځه په دروازه کې ولاړه وه، داسې چې بدن یې د ورځې د رڼا د راتګ مخه نیوله. د هغې د لاسونو له منځه اسمان ښکارېده، له پښو سره یې د رڼا یوه نرۍ لیکه ښکارېده او داسې منظره یې جوړه‌وه، لکه د ښځې تر پښو لاندې چې د اوښکو ډنډ وي.

بیا یې د ژړا غږ پورته شو. هماغه نرمه، خو تر زړه پورې‌ورې وتونکې ژړا او یو داسې غم چې د بدن د لړزا په ژبه یې خبرې کولې.

- «ستا پلار یې وژلی دی!»

- «او مورې! ته چا ووژلې؟»

***

ketabton.com - The Digital Library



باد دی او د لمر وړانګې. سپينې وريځې، ځای ځای شين اسمان او ښايي هاپلو سندرې وي، ښکلي غرونه او لنډه دا چې هيله او اُميد وي. داسې هيله او اُميد، چې زموږ غمونه راکم کړي.

- «خو ستا لپاره نه، ميګل‌پارامو! ځکه ته ګنهګار له دنيا ولاړې او هېڅکله به د خدای رحمت ونه‌وينې.»

رېنتريا ابا له مړي مخ واړاوه او دعا يې پيل کړه، غوښتل يې په بيړه دعا پای ته ورسوي او له کليسا ووځي. په کليسا کې د خلکو ګڼه‌ګوڼه وه او دی بې‌له دې چې راټولو خلکو ته د وروستي برکت دعا وکړي راووت.

- «ابا! موږ غواړو هغو ته د برکت دعا وکړو.»

هغه سر وخوځاوه او ويې‌ويل:

«نه! زه به دا کار ونه‌کړم، هغه چټل سړی و. د جنت وړ نه‌و او که زه يې وړ ګڼم، خدای به راباندې غوسه شي.»

هغه د خبرو پر وخت خپل لاسونه ټينګ نيولي وو، چې د ګوتو لړزه يې څوک ونه ويني، خو په دې کار کې بريالی نه‌و او د ګوتو لړزه يې ليدل کېدله. د هغه د جنازې دروندوالی هر حاضر کس پر خپل روح احساساوه. جنازه د کليسا په منځ کې پر يوه لوړه تخته اېښې وه. شاوخوا يې نوې شمعې او ګلان ښکارېدل، پلار يې هلته يوازې ولاړ و او د مراسمو د پای ته رسېدو انتظار کاوه.

رېنتريا ابا، د پېدرو پارامو ترڅنګ تېر شو، هڅه يې کوله چې ورسره ونه‌لګېږي. د سپېڅلو اوبو کوزړی يې ورپورته کړه او سوکه سوکه يې د تابوت له پاسه اوبه وشيندلې. شونډې يې وخوځېدلې، ښايي دعا يې کوله. بيا په ګونډو شو او ټول ورسره کېناستل.

يو ډله‌ييز غږ پورته شوه: «خدايه! په خپل بنده دې رحم وکړه!»

يو بل غږ ازانګه وکړه: «روح يې دې ښاد وي، آمين!»

کله چې يې غوسه بيا په زياتېدو شوه، کټل يې چې خلک له کليسا راوځي او د ميګل پارامو مړی له ځانه سره وړي.

پېدرو پارامو يې سر خوا ته ورنږدې شو او ترڅنګ يې ګونډې ووهلې. بيا يې وويل: «ابا! پوهېدم چې د ليدو حوصله يې نه‌لرې او حق دې هم درلود. خلک وايي چې زما

ketabton.com - The Digital Library



زوی ستا ورور وژلی و او ستا په گومان هغه دې په ورېږې،آنا، تېری کړی و. ځینې وخت به یې تا ته سپکاوی کاوه، خو پلاره! دا هغه څه دي چې هر څوک ځوروي، اوس بښنه ورته وکړه، گوندې خدای تعالی یې وبښي.»

پېدرو پارامو د سرو زرو یو موټی سکې په خپل ځای کېښودې او بیا ترې پاڅېد: «دا د کلیسا لپاره د ډالۍ په توگه ومنۍ.»

په کلیسا کې څوک نه‌وو. دوه کسان د دروازې په خوله کې پېدرو پارامو ته انتظار ولاړ وو. هغه ورسره ملگری شو او درې واړه په تابوت پسې روان شول. تابوت د مېډیا لونا د څلورو اوسپدونکو په اوږو بار و.

رېنټریا ابا د سرو زرو سکې یوه یوه راواخیسته او د محراب خوا ته نږدې شو. ویې‌ویل: «دا ستا دې خدایه! هغه د خپل نجات بیه ورکولای شي، یوازې ته پوهېږې چې دا یې بیه ده او که‌نه؟ زه به ستا حضور ته پر خاورو پرېوځم او ستا له درباره به د بښنې هیله ورته وکړم، ځکه ته په هر څه خبر او واکمن یې. که زما شخصي نظر شي، دوزخ ته مې لېږه.»

بیا زانگې‌وانگې د کلیسانو د خادمانو خونې ته ولاړ، گوښې کېناست، له غم او شرمه یې ژړا پیل کړه او تر هغه یې وژړل چې اوښکې تر گرېوانه وبهېدې.

بیا یې وویل: «خدایه! زه به څه ووایم، تا وگټله!»

***

د ماښام ډوډۍ یې وخوړه او یوه پیاله خوږ چای پسې وغړنگاوه. د آرامۍ احساس یې وکړ.

- «غوږ شه آنا! پوهېږې، نن څوک خاورو ته وسپارل شو؟»

- «نه کاکا!»

- «میگل‌پارامو دې په یاد دی؟»

- «هو، کاکا»

- «میگل یادوم.»

آنا سر ټیټ کړ.

- «ته ډاډه یې چې هماغه و؟»

- «نه پوهېږم کاکا، ما یې هېڅکله مخ نه‌و لیدلی، شپه وه چې راغی.»

ketabton.com - The Digital Library



- «نو بیا څنګه پوه شوې چې میګل‌پارامو و؟»
- «خپله يې راته وویل چې زه میګل‌پارامو یم، مه‌وېرېږه!»
- « خو ته نه‌پوهېدې چې پلار دې همده وژلی دی؟»
- «هو، کاکا.»
- «نو څه دې وکړل، چې هغه دې له ځانه لرې کړ.»
- «ما هېڅ ونه‌کړل.»

څو شېبې غلي شوه او د تاوده باد غږ ته يې چې د «مورد» ونې پاڼې ښورولې، غوږ نیولی و.

- «ما ته يې وویل چې د ښښنې لپاره راغلی یم. زه په کټ کې پرته وم، ورته ویل مې کړکۍ خلاصه ده او هغه راننوت. بیا مې ترڅنګ کېناست، زه ورته موسکه شوم، هغه څه رایاد شول چې تا راښودلي وو: یعنې له هېچا سره باید کرکه او کینه ونه‌کړو. ما ځکه موسکا ورته کړه چې پوه شي، زه ورسره کرکه نه‌لرم، خو وروسته پوه شوم چې په تیاره کې زما موسکا نه‌ویني او زه يې هم نه‌وینم، یوازې د هغه بدن مې په خپل بدن احساساوه او دا مې هم احساسول چې هغه له ما سره ناوړه کار پیلوي. ما فکر کاوه چې هغه به مې ووژني؟ یوازې همدا فکر مې کاوه کاکا! هڅه مې وکړه، مخکې له دې چې ما وژني، مړه شم. خو داسې ونه‌شول او ده هم ونه‌وژلم. کله چې مې سترګې پرانیستې، لمر مې ولید چې له کړکۍ رالوېدلی و. تر دې شېبې پورې مې همداسې احساس کاوه، لکه رښتیا چې مړه شوې یم.»
- «خو وروسته ډاډه شوې چې هغه دی، د هغه غږ یا بل څه دې ونه‌پېژندل؟»
- «هغه مې له هېڅ شي ونه‌پېژاند. د هغه په اړه یوازې دومره پوهېدم چې پلار مې يې وژلی دی. مخکې مې هم نه‌و لیدلی او وروسته مې هم ونه‌لید.»
- «خو ته پوهېدې چې څوک و؟»
- «پوهېدم چې څه ډول انسان و او اوس هم پوهېږم چې د دوزخ په هاغه ژوره کنده کې به پروت وي. ځکه دا مې په ټول زړه او ټول روح له ټولو سپېڅلو کسانو څخه غوښتي دي.»

ketabton.com - The Digital Library



- «دومره هم مه‌ډاډمنېږه! خبره نه یې چې څومره کسان ورته دعا کوي، په داسې حال کې چې ته یوازې یې. ستا د یوې ښېرا په وړاندې زرګونه دعاګانې دي او په هغوی کې به ځینې دعاګانې ستا تر ښېرا ډېرې پیاوړې وي، لکه د هغه د پلار دعا.»

هغه نږدې وه چې ووایي: «ما هم ښښلی دی!» خو په زړه کې یوازې دا خبره تېره شوه چې نه‌غواړي خپل کړېدلی روح، نور هم وکړوي. د دې خبرې پر ځای یې هغه تر لاس ونیو او ویې‌ویل: «راځه د خپل رب شکر ادا کړو، چې هغه یې له دې ځمکې څخه چې ډېرې بدۍ یې پرې کړې وې ورواخیست او اوس یې که جنت ته هم وړی وي، کوم ارزښت نه‌لري.»

***

یو آس له هغه څلورلاري څخه په تېزۍ تېر شو، چې اصلي سړک یې د کونتلا له کوڅې سره نښلاوه. چا آس ونه‌لید، خو د کلي په پای کې چې کومه ښځه انتظار ولاړه وه، ویل یې؛ یو آس یې ولید؛ دومره چټک روان وو، لکه الوتی چې وي. هغې د میګل پارامو سوربخون آس پېژندلی و او فکر یې کړی و، چې پر ځمکه به راپرېوځي او ورمېږ به یې ورلاندې شي.

وروسته یې لیدلی و، چې لږ څه سوکه شوی، سر به یې شا ته تاو کړ، لکه وېرېدلی چې وي یا لکه کوم شی چې ترې پاتې وي.

دا خبره هماغه شپه مېډیا لونا ته ورسېده چې خلک تازه له هدیرې څخه سترې‌ستومانه راغلي وو او تر ویده کېدو مخکې یې خبرې سره کولې.

«ترېنسیو لوبیانیس» وویل: «مړې ځب ځب کړم، تر اوسه مې اوږې درد کوي.»

ورور یې «اوبیلیادو» وویل: «زما اوږې هم درد کوي. د پښو پنډۍ مې هم پړسېدلې دي. مشر ویل، ټول بوټان په پښو کړئ. کومه رخصتي هم نه‌وه، که څنګه توربیبیو؟»

توربیبیو وویل: «زه د چا په خبرو پسې نه‌ګرځم. که زما اورئ؛ د هغه مرګ بېخي په سم وخت و.»

- «خلک وایي، د هغه روح هلته لالهانده ګرځي، لیدلي یې دي چې د کومې ښځې کړکۍ یې ورټکوله، بېخي د ده غوندې و. د څرمنې پتلون او نورې جامې یې هم سره ورته وې.»

ketabton.com - The Digital Library



- «او فکر کوئ چې دون‌پېدرو به خپل زوی ته اجازه ورکړي چې په رنډیانو پسې وګرځي؟ هغه ډېر تندخويه دی! که لږ هم پرې پوه شي، ورته به‌وايي: ګوره! اوس خو مړ يې، په خپل قبر کې وغځېږه او دا چارې مونږ ته پرېږده او که يې ولید چې په لارو کوڅو کې ګرځي، نو په شرط سره وایم؛ بیا يې په خاورو منډي.»

- «ایزایاسه، رښتیا وايي! هغه بوډا دومره چټلی نه‌شي زغملی.»

اسمان له ستورو ډک و او دومره ګڼ ستوري تېرېدل او لوېدل، لکه اورلوبه چې روانه وي.

ترېنسیو وويل: «پورته ګورئ، څه ننداره روانه ده!»

خسوس وويل: «شاید د میګل د ورتګ لپاره مېله جوړه وي.»

- «د ښادۍ مېله يې کړې!»

- «کومه ښادي؟»

- «ښايي خور دې ورغوښتی وي!»

- «چا ته وايې؟»

- «تا ته!»

- «ځوانانو دا کیسې پرېږدئ، پوره سترې یو، سهار ته ډېر وخت پاتې نه‌دی.»

ټول په شپه کې د سیورو په څېر ورک شول. د کومالا څراغونه هم يو په بل پسې مړه شول. په اسمان کې د ستورو هماغسې واکمني وه. رېنتریا ابا په کټ کې لټ پر لټ کېده، خوب يې له سترګو کډه کړې وه، له ځان سره وويل: «دا هرڅه زما ګناه ده. له شتمنو کسانو مې زَره چوي؛ ځکه د ژوند لګښتونه راکوي. له سوالګرو ټنګه نه‌وینم او یوازې په دَم او دعا هم خېټه نه‌مړېږي... هر څه له خپله لاسه. چا چې په ښه سترګه راته کتل، د چا چې مینه راسره وه، ټول مې تېر ایستل او هغوی لا هم په ما باور کوي او راته وايي چې له خدای ورته ښښنه وغواړم. دغه باور څه ور په برخه کړل؟ جنت، که د روحونو پاکوالی؟ ولې دې دوی خیر غوښت، چې په خپله دې په وروستۍ شېبه کې... د ماریا دیادا، څېره مې اوس هم په سترګو کې ده چې د خپلې خور ایدوويخیس، د ژغورلو لپاره ما ته راغله. هغې تل له خلکو سره مرسته کوله. هر څه چې يې لرل، خلکو ته يې ورکول. ان خپل زامن يې د هغوی خدمت ته وقف کړل. خو هغوی هېڅ ورسره ونه‌کړل. د هغوی اولادونو ته به يې ويل: که څه هم زه یوه ښځه یم،

ketabton.com - The Digital Library



خو ستاسې لپاره هم پلار یم او هم مور. هر چا د هغې له ښه نیت او انسان‌دوستۍ ځخه ګټه واخیسته. هغې هېڅکله څوک خپه نه‌کړل او نه یې په دښمنۍ واړول. خو په پای کې یې ځان‌وژنه وکړه او د خدای د امر خلاف عمل یې وکړ.»

- «د هغې بله چاره نه‌وه. دا کار یې هم د ډېرې ښېګڼې له کبله وکړ.»

ما ورته وویل: «په آخر کې دې کار خراب کړ. ټولې نېکۍ دې راټولې کړې او په پای کې دې پوپناه کړې!»

- «هغه د خپلو غمونو له امله مړه شوه. تا یو وخت مور ته د غم په اړه یو څه ویلي وو ابا! خو اوس مې په یاد نه‌دي. هغه غمجنه وه، وینې یې راوګرځولې، څېره مې یې تر اوسه په سترګو کې ده.»

- «په ډېرو دعاګانو نه‌شوه.»

- «ابا! مور لا هم ډېرې دعاګانې ورته کوو.»

- «زما مطلب دا دی چې له ګریګور قدیس څخه دعا ورته وغواړو یا نور پادریان ورته راولو او دا کار پیسې غواړي.»

- «ماریا دیادا زما سترګو ته ولاړه وه، بېوزله ښځه چې لا هم د اولادونو په زیږولو کې وه.»

بیا یې وویل: «زه پیسې نه‌لرم، ته خو پوهېږې ابا!»

- «دې شیانو ته زړه مه‌خوره، په خدای به توکل کوو.»

- «خدای تعالی ته یې ښنبل هېڅ هم نه‌دي؟»

... له کوټې ووت او اسمان ته یې وکتل. ستوري ځلېدل. زړه یې غوښتل ساعتونه ساعتونه د اسمان ننداره وکړي، خو د چرګانو غږ شو او احساس یې کړه چې د شپې کمپله له ځمکې ټولېږي. ځمکه؛ آه! دا د اوښکو دره.

***

ابدووېخیس دیادا راته وویل: «زویه! ښه ده راپاڅې او ولاړ شې.»

شپه ډېره تېره شوې وه. د کوټې په ګوټ کې څراغ ورو ورو تتېده. د لمبې رپا یې ورو شوه او مړ شو. ما احساس کړه چې ښځه پاڅېده او د ګامونو غږ مې اورېده چې ووتله. ګومان مې کاوه چې په بل څراغ پسې به تللې وي. زه په تمه وم، خو دا راونه‌ګرځېده. وروسته راپاڅېدم، په تیاره کې مې لاسونه وتپول، لړزاند ګامونه مې واخیستل او

ketabton.com - The Digital Library



سوکه سوکه کوټې ته ورسېدم. د کوټې پر غولي وغځېدم چې خوب راشي. سترګې مې پټې شوې، خو آرام نه‌وم. نیم ویښ، نیم ویده وم. په همدې وخت کې مې یوه چیغه واورېده. اوږده چیغه وه. د یوه سربداله کس د غړانګې په څېر: «هووووو! لعنت دې په دې ژوند وي!»

زه نېغ په ځای کې راپورته شوم، کېناستم، ځکه چیغه دومره لوړه وه، لکه زما له غوږ سره نږدې چې وي. شاید د کوځې په بله خوا کې وه، خو ما داسې احساس کړه لکه همدلته په کوټه کې چې وي یا د کوټې له دېوالونو چې راوتلې وي. خو کله چې ځیر شوم، هر څه چوپ وو، یوازې د یوه پتنګ د وزرونو د رپېدا غږ و. له داسې چیغې وروسته راپیدا شوې چوپتیا هېڅ د اټکل وړ نه‌وه. داسې چوپتیا وه چې حتی زما د ساه او د زړه د درزا غږ پکې نه‌اورېدل کېده.

کله چې دا شېبې تېرې شوې او لږ آرام شوم. یو ځل بیا چیغه پورته شوه او انګازه یې په کوټه کې راتاو شوه: «پرېږدئ لغتې ووهم! که مې وهئ، ومې‌وهئ، خو پرېږدئ لغتې ووهم!»

بیا دروازه په زوره راخلاصه شوه. ما چیغه کړه: «دونا ادووېخیس، ته یې؟ څه پېښ شول، ووېرېدلې؟»

هغې وویل: «زما نوم ایدووېخیس نه‌دی، زه دامیانا یم. خبره شوم چې ته دلته یې، لیدو ته دې راغلم. غواړم راشې او زموږ کره ویده شې، هلته به ښه خوب وکړې.»

ما وپوښتل: «دامیانا سیسنېروس؟ تاسې خو په مېډیا لونا کې نه‌اوسئ؟»

- «همالته اوسم، همدا وجه ده چې تر دې ځایه په رسېدو کې دومره وخت ووت.»

- «مور مې د دامیانا په نوم د یوې ښځې اړه راته ویلي وو، چې کله زه وزیږېدم، زما پالنه یې کوله، ته هماغه...؟»

- «هو، هماغه یم، له هغې ورځې دې پېژنم چې لومړی ځل دې سترګې وغړوې.»

- «په خوشحالۍ به درسره لاړ شم، دلته له دې چیغو خوب نه‌شم کولی؟ دا څه انډوخر دی؟ ته یې نه‌اورې؟ وایي هغه وژنئ، دغه وژنئ!»

- «کېدای شي دلته کومه پخوانۍ انګازه پاتې وي. ډېر پخوا یې په همدې کوټه کې توربیو آلدریت په دار وځړاوه. وروسته یې دروازه پسې وتړله، هغه یې پرېښود چې

ketabton.com - The Digital Library



ځان يې وچ شي او ښه عذاب ووينې. نه پوهېږم ته څنګه دلته رانوتې. د دې کوټې دروازه په هېڅ کيلي نه‌خلاصېږي.»

- «اېدوويخيس دروازه راته خلاصه کړه، هغې راته وويل چې همدا يوه کوټه تشه ده.»

- «اېدوويخيس دیادا؟»

- «هو، هماغه وه.»

- «بېوزله اېدوويخېس، لا هم د يوې ورکې اروا په څېر سرګردانه ده!»

***

«زه فولګور سېدانو، څلور پنځوس کلن، مجرد، دنده مې اداره او وکالت دی او د دعوو د ثبتولو او په محکمو د ګرځولو په چارو کې ښه مهارت لرم...»

دا هماغه خبرې وې چې ده د «تورېبيو آلدريت پر ضد د هغه کړيو کارونو په اړه ليکې وې او په پای کې يې داسې راوړي وو: «يو تور پرې دا دی چې د خلکو له ملکيت څخه يې ناقانونه استفاده کړې.»

- «دون‌فولګور، هېڅوک له دې منکر نه‌دی چې تاسې ښه سړی نه‌يئ. زه پوهېږم چې ته د خپل ځان دفاع کولی شې او خپل حق ثابتولی شې. دا له دې کبله نه، چې چارواکي ستا ملاتړي دي، ته يې په خپل زور هم کولای شې.»

دون‌فولګور په دې خبره وغوړېد. هغه مهال چې يې له آلدريت سره ښه‌دار کاوه. د آلدريت لومړی وينا ورته دا وه: «که دغه کاغذ نور په درد ونه‌لګېږي، لږ تر لږه خو يې زه او ته سره نږدې کړو. تاسې پوهېږئ، کوم څه چې په تاسې پورې اړه درلوده، هغه دې ترسره کړل او زه دې له غمه خلاص کړم. که څه هم په اول ځل ليدو دې انديښنمن کړی وم. خو اوس چې په اصلي خبره پوه شوو، خندا راځي. ليکلي يې دي: له ملکي ځمکو ناسمه استفاده... ستاسو مشر بايد په دغه ټول جهالت وشرمېږي.»

دون‌فولګور ومنله. دوی د اېدوويخيس په کور کې ناست وو. فولګور وریاده کړې وه: «وراره‌ګله! هغه د کونج کوټه که دې ما ته راکړې.» هغې ويلي وو: «هره کوټه چې ته غواړې. ان که ټولې کوټې هم غواړې، درنه ځار به يې کړم. نن شپه ستا کسان همدلته ويده کېږي؟»

- «نه، يوازې يوې کوټې ته اړتيا لرم. موږ ته انديښنه مه‌کوه، ته لاړه شه، ويده شه، يوازې د کوټې کيلی راته پرېږده.»

ketabton.com - The Digital Library



آلدریت وویل:
«دون‌فولګوره! هېڅوک ستا په مېړانه سترګې نه‌شي پټولی، خو زه ستا د مشر له هغه سپک او کم‌اصل زوی څخه تر پوزې راغلی یم.»
فولګور سر وخوځاوه او دا وروستی خبره وه چې هغه په سم ډول واورېده، نور د لېونتوب څپه پرې راغله، اوتې‌بوتې پیل کړې، ویل یې: «څه دې ویل؛ چارواکي مې تر شا ولاړ دي، ها؟ دا د منلو ده؟»

***

د خپلې متروکې په لاستي یې د «پېدرو پارامو» دروازه وټکوله. لومړنی خاطره وریاده شوه چې دوې اونی وړاندې یې دغه دروازه ټکولې وه. هغه وخت یې هم انتظار ایستلی و او د هماغه ځل په شان یې د دروزاې پر سر تورې ځوړندې ټوټې ته کتل، خو دا ځل چې یې کومه خبره له ځانه سره کوله، له پخوا سره توپیر درلود: «نو یوه بله یې راځړولې ده، اولې یې رنګ بایللی و، خو اوس د ورېښمو غوندې ځلېږي او که یوه زړه ټوټه رنګ شوې ده؟»
هغه لومړی ځل دومره انتظار ایستلی و او دې پایلې ته رسېدلی و چې په کور کې څوک نه‌شته. غوښتل یې بېرته ولاړ شي چې پېدرو پارامو راښکاره شو.
دا دویم ځل و چې پېدرو یې لیده. لومړی ځل تې‌خوری ماشوم و، خو دا ځل یې لومړی او اصلي لیدنه وه. اوس یې ورسره داسې چلند کاوه، لکه له یو سیال سړي سره چې مخ وي. فولګور په اوږدو ګامونو ورپسې روان شو او متروکه یې له خپلې پښې سره ښوروله. ویې ویل: «وبه‌وینې چې د کار پته رامعلومه ده او پوه به شي چې ځنګه دلته راغلی یم؟»
- «کېنه فولګوره! دلته به په سړه سینه خبرې وکړو؟»
هغه د کور په شاتني انګړ کې و، پېدرو پارامو د ځارویو آخور ته ډډه ووهله او په تمه شو:
- «ته نه‌کېنې؟»
- «زه ولاړ ښه یم، پېدرو!»
- «هر ډول چې دې زړه غواړي، خو ،دون، دې هېر نه‌شي.»

ketabton.com - The Digital Library



د فولګور په زړه کې تېره شوه: «دا هلک څوک دی چې ما سره داسې خبرې کوي؟ ان پلار يې، دون‌لوکاس‌پارامو، هم هېڅکله جرئت نه‌و کړی چې ما سره داسې خبرې وکړي او اوس دا هلک چې نه يې په مېډيا لونا کې پښه اېښې او نه يې د ژوند سرې تودې ليدلې، داسې چلند راسره کوي، لکه غلام چې يې يم. اوس يې ګزوه؟»

پېدرو وپوښتل: «کارونه څنګه روان دي؟»

داسې يې احساس کړه، لکه خپل حيثيت چې يې لاسته راوړی وي، له ځانه سره ووېل: «اوس زما نوبت دی.»

- «ورځ تر بلې بده راځي. څه راپاتې نه‌دي. وروستی څاروی مې هم پلوره.»

هغه د کاغذونو په را ايستلو پسې لاس جيب ته کړ، چې پېدرو پارامو ته وښيي چې څومره پورونه ورکړل شوي او غوښتل يې ووايي: «لا هم دومره پوروړي يو»، خو پېدرو پارامو وار ړومبی کړ:

- «د چا پوروړيو يو؟ اندازه يې مهمه نه‌ده، يوازې وښيې د چا؟»

هغه د نومونو يو فهرست وړاندې کړ او په پای کې يې ياده کړه: «د پورونو د ورکړې لپاره د پيسو هېڅ پته نه‌شته او همدا د ستونزې سر دی.»

- «ولې نه‌شته؟»

- «ځکه ستا کورنۍ هرڅه وخوړل، پورونه به يې کول او هېڅکله يې نه ادا کول. ما تل ويلي چې يوه ورځ خو دا غوښتل لري...»

- «ښه، هماغه ورځ راورسېده، زه يو څوک پېژنم چې د ځمکو اخيستو ته لېوال دی. په ښه بيه به لاړې شي؛ ټول پاتې پورونه به پرې خلاص کړئ او يو څه به درته پاتې هم شي، که څه هم ډېر نه‌وي.»

- «هغه څوک خو به ته نه‌يې؟»

- «ولې دې داسې فکر وکړ؟»

- «زه په خپل سيوري هم شکمن يم. سبا به حساب‌کتاب پيل کړو. اول به يې د پرېسيادو له کورنۍ راونيسو، تا ويل ډېر پور د هغو دی؟»

- «هو، او تر ټولو لږ پيسې مو هم دوی ته ورکړې دي. ستا پلار به هم د پرېسيادو کورنۍ تر نورو وروسته پرېښوده. فکر کوم له هغوی څخه يوه، ماتيلده، ښار ته کډه

ketabton.com - The Digital Library



شوې، خو نه‌پوهېږم چې ګوادولاخار ته تللې او که کولیمه ته... دونا دولورېس یادوم، هغه د ټولو شیانو مالکه ده. همغې ته باید پیسې ورکړو.»
- «نو سبا ځې او لولا غواړې؟»
- «هغه ما ته ګوري هم نه، زه سپین‌ږیری شوی یم.»
- «که داسې وي، نو ما ته یې وغواړه، ورته ووایه چې ستا په لور پسې یې دوې سترګې ځلور شوې! که دا کار شونی وي، نو رېنتریا ابا ته هم ووایه چې د واده بندوبست وکړي. رښتیا څومره پیسې لرې؟»
- «یو سنتاو هم نه‌لرم، دون‌پېدرو!»
- «ښه، نو یوه ژمنه ورسره وکړه. ورته ووایه چې کله پیسې لاس ته راغلې، هماغه شېبه یې ورکوم. زه ډاډه یم چې کومه ستونزه به پیدا نه‌شي، سبا دا کار وکړه!»
- «توربېیو آلدریت ته به څه وایې؟»
- «تا خو د پرېسیادو کورنۍ، فریګوسو او ګوزمان کورنیو په اړه راته وویل، نو آلدریت پکې له کومه راغی؟»
- «خبره د ځمکې د پولو ده. هغه د خپلو ځمکو پر شاوخوا کټارې لګوي، اوس غواړي چې مونږ هم وروستۍ برخه کټاره کړو، چې ځمکه سمه ووېشل شي.»
- «دا کار بل وخت ته پرېږده. ته د کټارو په اړه هېڅ اندېښنه مه‌کوه. وېش مېش به نه‌وي. یوه خبره زما درسره واوره فولګوره! که هر څه کېږي، ځمکه به نه‌وېشله کېږي. اوس له لولا سره خبره جوړه کړه، ته لا ناست یې!»
- «مننه، دون‌پېدرو! رښتیا به درته ووایم چې له تا سره مې زړه غواړي.»
- «څه چې لازم بولې، لولا ته یې ووایه، خو دا هم وریاده کړه چې مینه ورسره لرم. دا ټکی مهم دی، رښتیا وایم، پرې مَین یم! د هغه په سترګو، نور په خپله پوهېږې! سبا پرې ورځه. کارونه به دې زه وکړم، د مېډیا لونا چارې ما ته پرېږده.»
فولګور سېډانو چې مېډیا لونا ته ستنېده، له ځانه یې وپوښتل: «خدای خبر دغه هلک دا چلونه له کومه زده کړل؟ زما ترې دومره تمه نه‌وه. پلار یې، دون‌لوکاس، به ویل: له ده مې هېڅ ښادي نه‌ده لیدلې، له پیدایښته ټغن دی. ما به هم ورسره تائید کړه. هغه به بیا ویل: فولګوره! که زه مړ شوم، یو بل کار ولټوه. ما به ورته ویل: په

ketabton.com - The Digital Library



سترګو! ده به ویل: دا هلک ښوونځي ته ولېږه، چې لږ سر یې خلاص شي او که زه نه‌یم، د مور پالنه یې وکړای شي، خو هغه کار یې هم ونه‌کړ.»

- «دون‌لوکاسه! دومره ځان مه‌کړوه، له بهرامه ښادي حرامه!»

- «زما په سر کې سپین ولګېدل، هغه مې په کیسه کې نه‌دی...»

- «ډېره سخته ده.»

اوس یې ګوره، که دون‌پېډرو له مېډیا لونا سره علاقه نه‌درلودئ، هېڅکله به یې میګویل ته د ورتلو هڅه نه‌وای کړې، د هغه له اړیکو پرته به یې دا ځای پرېښی وای. خو هغه په دې ځمکه مَین و: په دغو شاړو غونډیو چې کال په کال کرل کېږي او حاصل ورکوي. له ځانه سره وویل: «دویم ځل باید متې راونغاړم.» دی چې له لویې دروازې تېرېده، په متروکه یې خپله پښه ووهله.

***

د دولورېس غولول چندان ستونزمن کار نه‌و. سترګې یې له خوښۍ ځلېدې او په څېره کې یې د وارخطایۍ نښې ښکارېدې.

- «دون‌فولګوره! ښښنه غواړم چې مخ مې له شرمه سور شو. باور مې نه‌راځي چې د دون‌پېډرو دې راپام شوی وي.»

- «ستا څېرې ترې خوب تښتولی دی.»

- «خو هغه چې هر څوک وغواړي، واده ورسره کولی شي. په کومالا کې ډېرې ښکلې نجونې شته. کله چې هغوی خبرې شي، څه به وایي؟»

- «دولورېس! هغه له تا پرته د بلې هېڅ یوې نجلۍ په اړه فکر نه‌کوي.»

- «دون‌فولګوره! ستا خبرو ګنګس کړم. ان تصور مې یې نه‌کاوه.»

- «خبره دا ده چې هغه ډېر لږ غږېږي. دون‌لوکاس دې خدای وبښي، ورته ویل به یې، چې ته یې وړ نه‌یې. اوس چې یې پلار مړ دی، کوم خنډ پاتې نه‌دی. دا د ده لومړۍ پرېکړه ده. که څه هم ما ناغېړي کړې ده، په هر حال واده به مو سبا نه، بل سبا وي. خوښه مو ده؟»

- «لا وختي نه‌دی؟ ما خو هېڅ شی تیار کړي نه دي. باید د واده جامې او نور توکي واخلم، خپلې خور ته لیک ولیکم. ښه ده یو پیغام ورته ولېږم، خو چې ځان ته ګورم،

ketabton.com - The Digital Library



د اپرېل تر اتمې به چمتو نه‌شم. نن د اپرېل اوله ده چې څو اخوا دې‌خوا ګورم، اتمه یې درواخله. له هغه وغواړه چې یو څو ورځې نور هم راته ودرېږي.»

- «هغه خو غواړي چې همدا نن واده درسره وکړي. که یوازې د جامو خبره وي، هغه به مور تیارې کړو. د دون‌پېدرو اروابنادې مور وصیت کړی چې د هغې د واده جامې واغوندې، دا زموږ د کورنۍ دود دی.»

- «خو لږ نور څه هم شته چې زه غواړم یو څو زیاتې ورځې ولرم. ته پوهېږې، د ښځو یوه ځانګړې خبره ده. اوه! دون‌فولګوره! په ویلو یې شرمېږم... اوس زما د میاشتنۍ ناروغۍ وخت دی!»

- «دا څه خبره ده؟ واده د نېټو او پلمو کار نه‌دی، د مینې کار دی. کله چې مینه وي، بل هېڅ شي ته ارزښت مه‌ورکوه.»

- «ته سر نه‌خلاصوې، دون‌فولګوره!»

- «ښه پوهېږم، واده به سبا نه، بل سبا وي.»

له هغې روان شو. دولورېس زارۍ ورته کولې او ورته ویل یې: «لمن ومنۍ، یوازې یوه اونۍ راته ودرېږئ، یوه اونۍ!»

دولورېس پسې چیغه کړه:

- «دون‌پېدرو ته هرومرو ووایه، هغه یو ځیرک هلک دی چې قاضي ته ووایي چې خپله ځمکه د دواړو په نوم ثبت کړي. هېر مو نه‌شي فولګوره! سبا تر هرڅه مخکې دا خبره ورته وکړه!»

دولورېس د اوبو له منګي سره د پخلنځي په خوا منډه کړه چې اوبه واېشوي. له ځانه سره وویل: «هڅه کوم چې دا کا ر همدا نن شپه وشي، خو چې وشي! درې ورځې غواړي، بله لار نه‌شته، یا ربه! څومره خوشحاله یم. شکر، زر ځله شکر چې دون‌پېدرو دې را نصیب کړ!»

بیا یې په زړه کې ورتېره شوه: «ان که وروسته له ما سترې هم شي.»

***

فولګور وویل: «پیغام مې دې ورساوه، هغه راضي ده. پادري د واده د نه‌اعلانولو په بدل کې شپېته پیزو غواړي. ما ورته وویل چې په خپل وخت به یې ترلاسه کړې. وایي د محراب د رغولو لپاره پیسو ته اړتیا ده او د ډوډۍ خوړلو مېز هم له کاره لوېدلی دی.

ketabton.com - The Digital Library



ما ژمنه ورسره وکړه چې نوی مېز به درته واخلو. ده راغبرګه کړه چې پېدرو هېڅوخت لمانځه ته نه‌راځي. ما ویل رابه‌شي، خو ده نور عیبونه راوسپړل، ویل یې د انا له مړینې وروسته یې بیا عشر او ذکات نه‌دی راوړی. دا مې هم ورځواب کړه چې له دې وروسته به یې راوړي او کومه ستونزه به نه‌پیداکېږي.»

دون‌پېدرو وپوښتل:

«له دولورېس څخه دې لږ څه پیسې ونه‌غوښتې؟»

«نه، خانه! جرئت مې ونه‌کړ. که رښتیا وایم؛ هغه دومره خوشحاله وه چې ومې‌نه غوښتل د هغې خوښي کمرنګه کړم.»

«ته ماشوم غوندې یې!»

فولګور له ځانه سره وویل:

«ماشوم؟ او بیا زه؟ په پینځه‌پنځوس کلنۍ کې؟ ده ته وګوره، په خپله له ماشومتوبه راوتلی نه‌دی! او زه خو له قبره یوازې څو ګامه لرې یم.» بیا په لوړ غږ وویل: «هلکه! ما نه‌غوښتل د هغې په نشه کې تېشه ووهم!»

- «له دې هرڅه سره ماشوم یې!»

- «خو بس، ستا نظر دی.»

- «راتلونکې اونۍ د اَلدریت نوبت دی، ورشه او ورته ووایه چې خپلې کتارې ور نږدې کړي. بېخي یې د مېډیا لونا په ځمکه کې اېښې دي.»

- «هغه په دقت سره مېتر کړې دي، فکر کوم، کار یې سم دی.»

- «ورته ووایه چې تېروتی یې. مېترونه دې سم نه‌دي او که یې دلیل وایه، کتارې یې وروغورځوه.»

- «قانون څه وایي؟»

- «د څه شي قانون؟ له دې وروسته موږ په خپله قانون یو. ایا په مېډیا لونا کې داسې نر شته چې کار ورڅخه واخیستل شي؟»

- «هو، یو دوه کسان شته.»

- «آلدریت ته چې ورتللې، هغوی درسره ملګري کړه چې حساب ورسره وکړي. په هغه تور ولګوه چې زموږ ځمکه یې په ناحقه قبضه کړې، یا بل داسې تور چې مناسب درته

ketabton.com - The Digital Library



ښکاري، دا خبره هم وریاده کړه چې اوس لوکاس‌پارامو مړ دی او په کار ده چې ما سره نوی تړون وکړي.»

***

اسمان له څو غړوسکو وروسته پرته پاک او شین و. داسې ښکارېدل لکه پاس په هوا کې چې باد لګېږي، خو پر ځمکه له ګرمۍ پرته بل څه نه‌وو.

هغه یو ځل بیا د متروکې په لاستي دروازه وټکوله، یوازې د دې لپاره چې خپل شتون او راتګ وښیي، ځکه دی پوهېده چې ترڅو د دون‌پېدرو زړه نه‌وي، دروازه به راخلاصه نه‌شي.

د دروازې له پاسه یې د تور ټوکر ټوټې ته وکتل او له ځانه سره یې وویل: «دا ټوټه چې هر څه ده، خو ظاهراً ډېره ښایسته ښکاري.»

همدا شېبه دروازه پرانیستل شوه او دی وردننه شو.

- «فولګوره! د توربیبو آلدریت کار دې خلاص کړ؟»

- «هو، مشره!»

- «د فریګوسو کورنۍ خبره لا پاتې ده. هغه به بل وخت ته پرېږدو. اوس د واده ورځې دي.»

***

«دا ښار له غږونو او انګازو ډک دی. دا انګازې او غږونه ښايي د کورونو په دېوالونو کې بند پاتې وي یا د کوڅو د ډبرو لاندې چې کله وربانديې تېرېږې، داسې احساس کوې، لکه څوک چې دې تر شا روان وي او ستا پر پلونو پَل ږدي. د پاڼو او څانګو د خوځېدو راخوځېدو خَشهار اورې، د خلکو د خندا غږونه اورې، داسې زړې خنداوې چې ته وا نور یې زور بایللی دی. د داسې خلکو غږونه اورې چې کلونه وړاندې وراسته شوي او له پښو غورځولي دي. زه فکر کوم چې دا غږونه به یوه ورځ ورو ورو له منځه لاړ شي..»

له کلي چې تېرېدلو، دا خبرې راته «دامیانا سیسنېروس» وکړې.

«یو وخت مې په یاد دی چې څو شپې به مې پرله‌پسې د مېلو او جشنونو غږونه اورېدل. ان له مېډیا لونا څخه به شور او زوَږ رارسېده. زه به ښار ته راووتلم چې وګورم دا دومره شور د څه شي دی، خو بېرته به بې‌ځوابه راغلم. هرڅه همداسې وو، لکه اوس چې یې وینو: هېڅ او هېڅ! کوڅې همداسې تشې، لکه اوس چې دي. له دې

ketabton.com - The Digital Library



وروسته مې بيا هېڅ غږ وانه وريد. پوهېږې، انسان له ډېرې خوشحالۍ څخه هم سترۍ کېږي، له دې کبله، کله چې دا هر څه پای ته ورسېدل، زه هم ورته حيرانه نه شوم.»

داميانا سيسنېروس بيا تکرار کړه:

«هو، دا ښار له غږونو او انگازو ډک دی. نور مې دا غږونه نه‌وېروي. د سپيو انگولاوې اورم او پرېږدم يې چې انگولاوې کوي. څکه پوهېږم چې دلته نور سپي‌مي نه‌شته او کومه ورځ چې باد وي، وينم چې د ونو پاڼې رالوېږي، خو زړه کې پوهېږم چې دلته اوس هېڅ کومه ونه نه‌شته. ښايي يو وخت به دلته ونې وې، که نه، دا دومره پاڼې له کومه راځي؟ خو تر ټولو بده هغه شېبه وي چې د خلکو غږونه واورې او داسې وانگېرې لکه دکوم دېوال له چاک يا سوري څخه چې راوځي، خو بيا هم دومره روښانه وي چې پېژندلی يې شې چې دا غږ د چا دی. همدا نن شپه چې دلته راتلم، په يوه فاتحه ورپېښ شوم، ودرېدم چې د لمانځه دعا induced وايم، دعا چې مې کوله يوه ښځه له نورو راجلا شوه، زما په لور راغله او راته ويې‌ويل: داميانا! ما ته دعا وکړه، ما ته دعا!... پړونی يې له مخه وښويېد، ومې‌پېژندله، خور مې وه: سيستينا!... ترې ومې‌پوښتل: ته دلته څه کوې؟ هغې رانه منډه کړه او د ښځو په منځ کې ورکه شوه.

زما خور «سيستينا» هغه وخت مړه شوه چې زه دوولس کلنه وم. هغه په موږ ټولو کې مشرۍ وه. موږ شپاړس ورونه او خويندې وو، نو ته خپله حساب کولی شې، چې هغه څومره مخکې مړه شوې ده او اوس گوره، لا تراوسه په دښتو او شاړو کې سرگردانه ده. نو خوان پرېسيادو! که ته دلته نوې انگازې اورې، مه وېرېږه!»

ما وپوښتل: «زما مور درته ويلي وو چې زه راځم؟»

- «نه، په هغې څه تېر شول؟»

- «مړه شوه.»

- «رښتيا؟ په څه مړه شوه.»

- «نه پوهېږم، ښايي له ډېرې خواشينۍ، تل به يې آهونه او اسويلي ايستل.»

- «وخ! هر کله چې يو انسان آه وباسي، د روح يوه برخه يې هم له تنه وځي، هغه همدغسې مړه شوې ده.»

- «هو، ما هم دغسې فکر کاوه، ته پرې ښه پوهېږې.»

ketabton.com - The Digital Library



- «زه له کومه خبره وای، کلونه کېږي چې د هغې په اړه مې هېڅ نه‌دي اورېدلي.»
- «نو بیا ته څنګه پوه شوې چې زه دلته راغلی یم.»
دامیانا غلې شوه او هېڅ ځواب یې رانه‌کړ.
ما وپوښتل: «دامیانا! ته ژوندۍ یې؟ دامیانا!»
ناڅاپه مې ځان ته پام شو؛ په تشو کوڅو کې یوازې وم. د بې‌بامه کورونو له کړکیو څخه شپه، شوړېدلي دېوالونه او ورستې خښتې چې د وچو وښو ډنډر ترې راوتلي وو ښکارېدل.
ما چیغه کړه: «دامیانا!»
بیا مې لا په لوړ غږ وویل:
«دامیانا سیسنېروس!»
انګازې ځواب راکړ: «... انا... نېروس!... انا... نېروس...!»
بیا مې د سپیو غپا واورېدله، لکه زما غږ چې راویښ کړي وي. یو سړی مې ولید چې له کوڅې تېرېده. ور چیغې مې کړل:
«هوووووو!»
بېرته زما خپل غږ راغی:
«هوووووو!»
داسې ښکارېده لکه د بلې کوڅې په سر کې چې دوې ښځې ولاړې وي او خبرې کوي، ما یې غږ واورېد:
- «وګوره، څوک زموږ پر لور را روان دی. دا خو فیلوتېو آرچیګا نه‌دی؟»
- «هماغه دی. ځان پرې ناګاره واچوه.»
- «ښه ده چې راووځو او که هغه راپسې شو، معنا یې دا ده چې له موږ څخه یوه غواړي. ستا په اند، څوک غواړي؟»
- «ښایي تا غواړي!»
- «نه! زما په اند، په تا پسې دی.»
- «ګوره! ودرېد، همالته، د کوڅې په سر کې!»
- «نه ما سره کار لري او نه تا سره.»
- «که په دواړو پسې روان وای، څه به کېدل؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «بې ځایه فکرونه مه کوه!»
- «بلا وه او برکت یې نه‌و. خلک وایي همدا سړی د دون‌پېدرو لپاره نجونې لټوي چې واده ورسره وکړي او مور هم نږدې وو، د هغه په دام کې ونښلو.»
- «رښتیا؟ زما هم زړه نه‌غواړي چې له هغه سره کار ولرم.»
- «څه ته ګورې؟ څه چې ځو!»

***

شپه تر نیمایي تېره وه او غږونه هماغسې اورېدل کېدل.
- «که سږ کال مو د جوارو حاصلات ښه شول، ستا پیسې به درکړم. که خراب شول، بیا به لږ انتظار کوې.»
- «زه دې نه‌تنګوم، ته پوهېږې چې تر اوسه مې څومره صبر کړی دی، خو دا ځمکه ستا نه‌ده، تا د بل چا ځمکه کرلې ده، نو څنګه به زما پیسې راکوې؟»
- «څوک وایي چې دا ځمکه زما نه‌ده؟»
- «ما اورېدلي چې په پېدرو پارامو دې پلورلې ده؟»
- «پېدرو پارامو پرې خبر هم نه‌دی، ځمکه مې خپله ده.»
- «دا ستا خبرې دي! اوس ټول خلک وایي چې د هغه ده.»
- «که دوی نران وي، ما ته دې مخامخ ووایي!»
- «ګوره ګالیلیو! خبره دې د دواړو ترمنځ وي، سپینه درته وایم: زه دې دوست یم، ته مې د خور مېړه یې او هېڅکله مې نه‌دي اورېدلي چې تا بد چلند ورسره کړی وي، خو دلته رښتیا نه‌وایې، ځمکه دې خرڅه کړې ګوره!»
- «نه! دا د خلکو خبرې دي.»
- «خبره خلاصه ده، ځمکه د پېدرو پارامو ده، فولګور درته نه‌و راغلی؟»
- «نه! په سترګو مې نه‌دی لیدلی.»
- «ښه، سبا به راشي او پته به ولګي، که سبا نه‌وي، بل سبا خو حتماً راځي.»
- «نو بیا که مې وژني هم، خپله خبره به راباندې ونه‌مني.»
- «یا خدایه! هدایت ورته وکړې! دا څه اوتې‌بوتې اورم!»
- «زه به دلته یم، ته به ګورې، ما ته غم مه‌کوه، مور مې په وړکوالي دومره ډبولی یم چې ښه کلک شوی یم.»

ketabton.com - The Digital Library



- «گورو به، ته پوه شه او کار دې... فېليسيتاس ته ووايه چې نن شپه ډوډۍ ته نه راځم. نه غواړم بيا واورم چې زه د مړينې په شپه درسره وم!»
- «که دې وروستۍ شېبه کې نظر بدل شي، يو څه خواړه به درته وساتو؟»
د ګامونو غږ يې تتېده او بالاخره ورک شو.

***

- «سبا سهار، له لمر ختو سره که ځې چونا! کچر زين او ګاډۍ چمتو ده.»
- «که زما پلار ته څه ورپېښ شول او مړ شو، بيا به څه کوو؟ هغه ډېر سپين‌ږيری او کمزوری دی. دا که زما له لاسه شي؛ هېڅکله به ځان ونه‌بښم. يوازې زه ورپاتې يم چې پالنه يې کوم، بل څوک نه‌لري. زما بېولو ته ولې دومره بيړنی يې؟ لږ صبر وکړه، څه پکې پاتې نه‌دي، وبه‌مري.»
- «دا خبره دې تېر کال هم کړې وه. ان په ما دې ملنډې وهلې چې د خطر جرئت نه لرم. حاضره وې، له غرونو سره ډغرې ووهې. د کچرو کرايه مې مخکې ورکړې، هر څه تيار دي، ځې راسره؟»
- «زه به لږ نور فکر پرې وکړم.»
- «چونا! له تا پرته نيمګړی يم، دا نيمګړتيا نوره زغملی نه‌شم. هرڅه چې وي، راسره ځې به.»
- «ما ته لږ وخت راکړه، تر هغه بايد منتظر شو چې د پلار برخليک مې معلوم شي. بيا هغه ساعت او مصلحت، ژوند په بيړه نه‌کېږي.»
- «کال مخکې دې هم همدا فلسفه غږوله.»
- «نو څنګه؟»
- «ما کچر په کرايه نيولي، هرڅه تيار شول، يوازې تا ته په تمه يو. پرېږده هر څوک خپل کار په خپله وکړي. ته ښکلې يې، ځوانه يې، کومه بوډۍ به پيدا شي او د هغه پالنه به وکړي، په کلي کې د خواخوږو کسانو کمی نه‌شته.»
- «نه‌شم کولی.»
- «ولې نو څه خبره ده؟»
- «نه‌شي کېدای، سر دې خلاصېږي؟ هغه مې پلار دی.»

ketabton.com - The Digital Library



- «نو بیا نور څه پاتې نه‌دي چې یو بل ته یې ووایو، زه به لاړ شم، جولیانا به ووینم، هغه راپسې لېونۍ ده.»
- «سمه ده، زه هم نه‌وایم چې مه‌ورځه.»
- «نو ته نه‌غواړې چې سبا مې ووینې؟»
- «نه، نه! زه بیا هېڅوخت نه‌غواړم، تا ووینم!»

***

غړونه، انګازې، زمزمې. له لرې د سندرو غږ.
«د لاس دسمال دې راته راکړه
په جدایۍ کې به پرې اوښکې وچومه.»
لوړ، نري غږونه، لکه د ښځو چې وي.
د ګاډیو د تېرېدلو ننداره مې وکړه، غویان په درنو درنو ګامونو سوکه سوکه روان وو.
د ګاډیو د ټایرونو غَژار، په لاره کې د ګاټو د ماتېدو له خرَچار سره یو ځای کېده.
سړي پکې داسې ښکارېدل لکه نیم‌ویښ، نیم‌ویده چې وي.
«هره ورځ سهار وختي، د ګاډیو له تېرېدو او شورماشور سره کلی لړزېږي. له هرې خوا راځي؛ د مالګینو تنباکو پانې، د جوارو وږي او د څارویو واښه باروي. ټایرونه یې ګړزېږي، د کورونو کړکۍ لړزوي او خلک له خوبه ویښوي. دا هغه شېبې وي چې نانوایان تنورونه تودوي او د تازه پخې شوې ډوډۍ بوی هرې خوا ته خپرېږي. ناڅاپه ښایي اسمان وغړمبېږي او باران پیل شي. ممکن پسرلی راروان وي. زویه! ته به له دغو ناڅاپي پېښو سره عادت شې.»
تشې ګاډۍ د کوڅو چوپتیا ماتوي. د هرې کوڅې پای د شپې په تیاره کې پناه کېږي او یوازې سیوري اوړېدېږي، غږونه او نارې په یو بل کې راغبرګېږي او انګازې کوي.
زه د راوتو په فکر کې شوم. د غره په سر مې هغه کنډو ولید چې ترې راوښتی وم. د غرونو په تیاره کې دغه کنډو داسې ښکارېده، لکه یو سپړلی زخم چې وینې ترې بهېږي.
همدا شېبه مې یو چا په اوږه لاس کېښود.
- «دلته څه کوې؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «دلته راغلی یم...» غوښتل مې د پلار نوم مې ورته واخلم چې په هغو پسې راغلی، خو ځان مې کنټرول کړ.

- «ولې د ننه نه‌راځې؟»

ورننوتم. د کور نیمایي چت نړېدلی و. خښتې یې پر ځمکه پرتې وې. غولي له ماتو خښتو او خلو خځلو ډک وو. د کور بلې خوا ته یو سړی او یوه ښځه ناست وو. له هغوی مې وپوښتل:

- «تاسې مړه یئ؟»

سړی جدي ښکارېده. ښځې وخندل او ځواب یې راکړ:

- «دی وېرېدلی دی.»

هلته د تېلو یوه بخارۍ ښکارېده، د نښترو له لرگیو جوړ یو کوړ ووړ کټ او یوه څوکۍ هم ښکارېدل چې د ښځې جامې پرې پرتې وې. د ښځې او نر هم پوره جامې پر تن نه‌وې.

- «وامې‌ورېدل چې څوک ژاړي او سر په دروازه وهي. بیا مې ته ولیدې، څه درشوي؟»

- «اوس نه‌شم درته ویلای، غواړم ویده شم.»

- «موږ هم ویده وو.»

- «نو راځئ، ټول ویده شو.»

***

زما خاطرې د سهار له رڼا سره ورو ورو په ورکېدو شوې. کله ناکله مې د خبرو غږ اورېده او د هغو تر منځ مې توپیر احساساوه. کومې خبرې مې چې تر دې وخته اورېدلې وې، غږ یې نه‌درلود، بې‌غږه خبرې وې، چې انسان یوازې احساسولای شوای، هماغسې چوپې او بې‌غږه لکه په خوب کې چې یې وینې.

ښځې وپوښتل: «دا به څوک وي؟»

سړي وویل: «خدای خبر.»

- «حیرانه یم، څنگه دلته راغلی دی؟»

- «خدای خبر.»

- «وامې‌ورېدل چې د خپل پلار په اړه څه وایې.»

ketabton.com - The Digital Library



- «ما هم دا ترې واورېدل.»
- «څنګه؟ لار ترې ورکه ده؟ په یاد دې شول، یو وخت ځینې کسان راغلي وو، ویل یې لار یې ورکه کړې ده. د لوس‌کونفیسن په نوم د یوه ځای په لټه کې وو او تا ورته وویل چې د هغه ځای نوم مې نه‌دی اورېدلی او نه یې پته رامعلومه ده.»
- «هو، په یاد مې دي، خو پرېږده ویده شو، سهار ته لا وخت پاتې دي.»
- «سهار نږدې دی، له همدې کبله درسره غږېږم چې تر سهار مخکې دې ویښ کړم. تېره شپه دې ویل چې تر لمر ختو وړاندې مې وپاڅوه.»
- «ولې مې پاڅوې؟»
- «نه پوهېږم، تا راته وویل، د ولې ځواب به له تا سره وي؟»
- «که مې داسې ویلي وي، نو پرېږده چې ویده شم، تا وانه‌ورېدل چې هغه سړي څه وویل؟»
- «ویل یې ویده کېږم، یوازېنۍ خبره یې همدا وه.»
داسې ښکارېده لکه غږونه چې ورو ورو لرې کېږي. تتېږي او بالاخره ورک کېږي. اوس هېچا څه نه‌ویل...
خو لږ وروسته بیا پیل شول:
- «وخوځېد. رښتیا وایم اوس به راویښ شي او که موږ دلته ووینې، پوښتنې به وکړي.»
- «څه پوښتنې به وکړي؟»
- «خامخا به یو څه ووایي.»
- «پرېږده یې. ډېر ستړی دی.»
- «ته به داسې فکر کوې؟»
- «بس کړه، ښځې!»
- «ګوره! خوځېږي، وینې! څنګه په اړخ واوښت؟ لکه د ځان د ننه یې چې یو څه اړباسي، دا حالت په ما هم تېر شوی دی.»
- «په تا څه شوي دي؟»
- «همدې ته ورته.»
- «نه‌پوهېږم، څه ګډېوډې وایې؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «که هغه په خوب کې داسې ناکراره نه‌وای، ما به هېڅ نه‌ویل. خو چې هغه وینم، هماغه څه راياد شي، چې يو وخت زه داسې کېدلم.»
- «دا څه چټيات وايې؟»
- «هغه حالت چې ستا له چلنده راته پيدا شو، غواړم هېر يې کړم، خو هېرولی يې نه شم.»
- «بيا هماغه ناپړيتې وايې، لږ مې خوب ته پرېږده.»
- «تا غوښتل چې راوينښ مې کړه، زه هماغه کار کوم چې راته ويلي دې وو. راپاڅېږه نو! سهار پيل شوی.»
- «څو شيبې مې پرېږده ښځې!»
سړی بېرته ويده شو، ښځې لا هم په ټيټ غږ خبرې ورته کولې:
- «نور لمر راخېژي، رڼا زياته شوه. له دې ځايه هغه سړی ليدلی شم، که رڼا نه‌وای، نه‌ليدل کېده. که زما منې، هغه شايد کوم جرم کړی وي او موږ کور کې ځای ورکړ! که يوازې دا يوه شپه وي، تېره به شي، خو که نور هم پاتې شي، لانجه به راته جوړه کړي. ته ګوره! څومره ناکراره دی، په ټينګه وايم؛ د وجدان په عذاب لګيا دی او په روح يې ډېر درووند بار پروت دی.»
رڼا په ډېرېدو وه، ورځې تیارې شړلې. کوټه د ویدو شویو بدنونو په تودوخه توده شوې وه. په سترګو مې د لمر وړانګې ولګېدې، بيا مې واورېدل:
- «لکه روح چې په عذاب لګيا وي، اوړي را اوړي. له څېرې داسې ښکاري، لکه يو ناوړه انسان چې وي. پاڅه دونيسه! ورته وګوره! پر ځمکه رغړي، هره خوا لاس اچوي، تر خوله يې لاړې ځي! نه‌ګورې! ښايي ډېر کسان يې وژلي وي او تا کور ته راوستلی دی.»
- «غريب سړی دی، ويده شه او ما هم خوب ته پرېږده!»
- «څنګه ويده شم؟ خوب نه‌راځي.»
- «نو پاڅه، په خپل کار پسې ځه او موږ پرېږده لږ څه!»
- «زه لاړمه، اور بَلوم او هغه سړي ته وايم چې له تا سره نږدې پرېوځي.»
- «ورته ووايه نو.»
- «نه‌شم کړای، وېرېږمه ترې.»

ketabton.com - The Digital Library



- «نو خپل کار ته ځه او مور دغسې پرېږده!»
- «سمه ده، ځمه»
- «نو ځه ته ګورې، لاړه شه!»
- «هېڅ شي ته، دا دی وځمه.»

ما اورېدل چې ښځه روانه شوه، په غولي يې درانه درانه ګامونه واخيستل او تر ما تېره شوه. ما سترګې پرانيستې او بېرته مې پټې کړې. کله چې مې بيا سترګې پرانيستې، لمر د اسمان منځ ته راغلی و. زما تر څنګ د اوبو يوه کوزَړۍ ايښې وه. څو غوړپونه ترې وکړل. بيا د ښځې غږ ولګېد: «همدا زمور هرڅه دي، کور کې هېڅ نه‌لرو، بښنه دې وي.»

ما ورته وويل: «ما ته انديښنه مه‌کوه، زه لوږې سره عادت يم، له دې ځايه څنګه وتلی شم؟»

- «چېرته ځې؟»
- «هر ځای ته.»
- «دلته لسګونه لارې دي. يوه يې کونتلا ته ځي او بله له هغه ځايه راځي. يوه نېغ په نېغه غرونو ته خېژي. هغه بله لار چې له دې ځايه ښکاري...» ښځې د چت له سوري وړاندې اشاره وکړه: «نه پوهېږم چېرته ځي. هاغه بله د مېډيا لونا له څنګه تېره شوې ده. يوه بله هم شته چې تر دې ټولو لرې غځېدلې.»
- «شايد هماغه وي، چې زه پرې راغلی يم.»
- «تاسې چېرته تللی؟»
- «سايولا ته»
-«عجيبه ده! ما خو فکر کاوه چې سايولا دلته نږدې ده. وايي هلته ډېر خلک اوسي.»
- «لکه د هر ځای غوندې.»
- «ته ګوره، مور دلته څومره يوازې يو او د ژوند په اړه څومره ناخبره.»
- «مېړه دې چېرته ولاړ؟»
- «هغه مې مېړه نه‌دی، ورور مې دی. خو نه‌غواړي څوک پرې خبر شي. ودې ويل: چېرته ووت؟ په هغې خوسکۍ پسې چې دلته شاوخوا کې ورکه ده. ما ته يې همداسې وويل.»

ketabton.com - The Digital Library



- «تاسې له څه وخت راهیسې دلته ژوند کوئ؟»
- «مور همدلته زیږېدلي یو.»
- «نو حتماً مو دولورېس پرېسیادو پېژندله.»
- «ښایي دونیس به پېژندله، زه ډېر لږ خلک پېژنم. د باندې نه‌وځم او تل همدلته یم. البته له هغه وخته چې د ده ښځه شوې یم، له شرمه ګام نه‌اخلم...»
ښځه د لمر په رڼا کې راوړاندې شوه. ویې ویل: «زما مخ ته وګوره!»
مخ یې عادي و، لکه د نورو ښځو غوندې. ما ورته وویل:
- «ته څه غواړې، زه څه پکې ووینم؟»
- «زما ګناهونه! نه یې وینې؟ دا سره خاپونه، لکه د پوستکي ناروغي، ټول بدن مې یې نیولی دی او دا خو یوازې د باندې دي، د ننه مې د ناپاکۍ سمندر دی!»
- «خو دلته هېڅوک نه‌شته، څه به ویني؟ ما ټول کلی راوکوت، هېڅوک مې ونه‌لیدل.»
- «ظاهره همداسې ده. خو تر اوسه څو کسه شته. فیلومینو دې نه‌دی لیدلی؟ یا دوروتیا یا مېلکیادیس یا هغه بوډا پرودېنیسو او سوستېنېس، دا ټول ژوندي نه‌دي؟ خو بهر نه‌راوځي. نه پوهېږم د ورځې څه کوي؟ خو د شپې یې په کورونو کې غږ لګېږي. د شپې دلته غوبَل جوړ وي. کاشکې نن شپه دې هغه ارواوې لیدلې وای چې دلته په کوڅو کې ګرځېدلې. څنګه چې ماښام شي، هغوی راوځي او مور یې ان د لیدلو جرئت نه‌لرو. د هغو شمېر دومره زیات وي او زمور دومره کم، چې په دعا پسې یې نه‌رسېږو. ښایي یوې، نیمې اروا ته مو څو کلمې دعا ورسېږي، خو هغوی ته هېڅ ګټه نه‌رسوي. مور تر اندازې ډېر ګناهکار یو او یو هم د خدای د رحمت وړ نه‌یو. حتی له شرمه سر پورته کولی نه‌شو. شرم هېڅ مرسته نه‌کوي. دا هماغه خبرې دي چې څه وخت وړاندې پادري راته وکړې. هغه څه موده مخکې دلته راغلی و. د کلیسا لپاره یې د ګډون مراسم جوړ کړي وو. زه ورغلم او په هرڅه مې ورته اعتراف وکړ، خو ده راته وویل چې ستا ګناهونه د ښنلو نه‌دي.»
ما په خواره خوله ورته وویل:
- «زه له شرمه پورته نه‌شم کتلی!»
- «دا د حل لاره نه‌ده.»
- «نکاح مو وتړه!»

ketabton.com - The Digital Library



- «جلا شئ سره.»

- «مور د ژوند بدمرغيو سره يو ځاى کړي يو او لکه له رمې پاتې څاروي په يو او بل نښتي يو. دلته مور دومره يوازې وو، چې د عبرت او نصيحت مو هېڅوک نه‌وو. زه ژمنه کوم، تر هغه چې تاسې بيا راځئ، نو دلته به داسې هېڅوک ونه‌ويئ چې د کليسا د ثبت مراسم ترسره کړي.»

- «تاسې له يو بله جلا شئ، بله هېڅ لار نه‌لرئ.»

- «خو بيا به څنګه ژوند کوو؟»

- «لکه نور خلک چې يې کوي.»

پادري پر خپل کچر پښه واړوله او پرته له دې چې شا ته راوګوري، له سترګو پناه شو. داسې وتښتېد، لکه د تباهۍ او ناپاکۍ يو ناورين چې يې شا ته پرېښى وي، هغه مې بيا هېڅکله ونه‌ليد.

همدا لامل دى چې دغه کلى له ارواو ډک دى. له ناکرارو او لالهاندو ارواو. د ګناهکارو خلکو له ارواو، چې هېڅکله يې د پاکۍ او تقوا لار ونه‌مونده. زمور دعاوې هم ورته ګټه نه‌لري.

هغه راروان دى، اورې؟

- «هو، اورم يې.»

- «دونيس دى.»

دروازه پرانيستل شوه.

ښځې وپوښتل: «خوسکۍ دې پيدا کړه؟»

- «نه! پلونه مې يې ومونډل، هماغه پسې اخلم، نن شپه به يې پيدا کړم.»

- «نو ما نن شپه يوازې پرېږدې؟»

- «نو څه خبره ده؟»

- «زه د تېنګې نه‌يم. ته بايد راسره وې. شپه يوازې نه‌شم تېرولى.»

- «خو نن شپه بايد خوسکۍ پيدا کړم.»

ما خبره ورمنځ ته کړه:

- «زه اوس پوه شوم چې تاسې سره خور او ورور ياست!»

ketabton.com - The Digital Library



- «مورِ له تا مخکې پوهېدلو، ته په دې چارو کې گوتې مه‌وهه، مورِ نه‌غواړو چې څوک زمورِ په اړه خبرې وکړي.»
- «ما د دې لپاره دا یاده کړه چې زما هم لږ سر خلاصېږي!»
- «ته په څه پوهېږې؟»
ښځه ورغله، د هغه ترڅنگ ودرېده، په اوږه یې لاس ورکېښود او هماغه خبره یې تکرار کړه:
- «ته په څه پوهېږې؟»
ما ورغبرگه کړه: «تاسې ښه پوهېږئ! زه نه‌پوهېږم.»
بیا مې وویل: «یوازې دومره غواړم چې بېرته هماغه ځای ته لاړم شم چې ترې راغلی یم او د ورځې په رڼا کې لاړ شم.»
هغه راته وویل: «ښه ده لږ تم شې او تر سهاره صبر وکړې. شپې ته ډېر وخت پاتې نه دی او لارې هم په بوټو او اغزیو کې پټې شوې دي، لاره به ورکه کړې، سبا به دې په سمه لار روان کړم.»
ما ورته کړل: «سمه ده!»

***

ما د چت له سوري څخه په هوا کې کارغانو ته کتل چې مازدیگر مهال راټولېږي او مخکې له دې چې شپه شي، د خپلو ځالو په لور ډلې ډلې تېرېږي. بیا مې د وریځو څو غړوسکې ولیدې چې باد د پنبې په څېر پاشلې وې. وروسته مې زهره ولیده او لږ شېبه وروسته مې میاشت ولیده چې د اسمان نیمایي ته راغلې وه.
سړی او ښځه نه‌وو. له انگړه بهر وتلي وو. چې شپه شوه، دوی راننوتل، خو پوه نه شول چې د دوی په نشتوالي کې څه پېښ شوي دي.
یوه ښځه راغلې وه، بوډۍ او بېخي ډنگره وه. داسې لکه په هډوکو چې یې تش پوستکی غوړولی وي. په غټو سترگو یې د کوټې ټولو خواو ته وکتل، ښایي زه یې هم لیدلی وم او د ویده گومان راباندې کړی وي. نېغه د کټ خوا ته ولاړه او تر کټ لاندې یې یوه صندوقچه راکش کړه، ویې توشپله، بیا یې څو کڅوړې ورپورته کړې، تر خپل تخرگ لاندې یې ونیوې او د گوتو په سرو له کوټې ووتله. داسې لکه ما چې نه راویښوي.

ketabton.com - The Digital Library



زه هماغسې بې‌حرکته پروت وم، ساه مې نيولې وه او هڅه مې کوله چې هغې ته ونه گورم. خو ځان مې ټينگ نه‌شوی کړای، سر مې ورو تاو کړ او په هغې پسې مې وکتل؛ همغې خوا ته چې د ماښام ستوري له سپوږمۍ سره يو ځای ښکارېدل.

وامې‌ورېدل: «دا وځښه!»

ما زړه ونه‌کړ چې مخ ورواړوم.

- «وځښه! گټه به درته وکړي. د نارنجو د گلانو څوښا ده. پوهېږم چې وېرېدلی يې، رېږدې. دا به دې وېره کمه کړي.»

ما يې لاسونه وپېژندل او چې سترگې مې پورته کړې، څېره مې يې هم وپېژندله. سړی د ښځې تر شا ولاړ و، ويې‌پوښتل:

- «وېرېدلی يې؟»

- «نه پوهېږم. ما داسې شيان او کسان وليدل، ښايي تاسې هېڅکله ليدلي نه‌وي. يوه ښځه همدا اوس دلته وه. تاسې خو به ليدلې وي چې درووتله.»

سړي، ښځې ته وويل: «يوازې يې پرېږده، سړی صوفي راته ښکاري.»

- «بايد کټ ورته پرېږدو، څنگه رېږدي، حتمي يې تبه ده.»

- «غم يې مه‌کوه. دا ډول خلک قصداً داسې کوي چې د خلکو پام ورواړوي. په مېډيا لونا کې مې يو سړی پېژانده، فالونه به يې اچول او ځان يې غيب‌پوه باله، خو د يو څه چې ده وړاندوينه ونه‌کړه، دا وه چې دی به هغه وخت مري، چې بادار به يې په ټولو تېروتنو پوه وي. دا هماغه ټگ دی چې ټول عمر له يوه کلي بل ته ځي او وايي: زه مو بند بختونه خلاصوم. خو دی به گورئ چې ان خپل بخت نه‌شي خلاصولی او په يوه مړۍ ډوډۍ پسې به هلاک وي. ورته گوره! رېږدېدا يې بنده کړه! زموږ خبرې اوري.»

لکه وخت چې شا ته گرځېدلی وي. يو ځل بيا مې وليدل چې ستوری له سپوږمۍ سره نږدې ځلېږي. ورېځې پاشل کېږي، د کارغانو ډلې تېرېږي او ماښام د مازديگر خوا ته نږدې کېږي.

دېوالونو د مازديگر د لمر وړانگې بېرته راغبرگولې، زما د گامونو غږ په لاره کې انگازې کولې. د خرو د ښښتن غږ مې ذهن ته راغی چې ويل يې:

- «دونا ايدووېخيس که ژوندۍ وي، پوښتنه يې وکړه.»

ketabton.com - The Digital Library



***

بیا یوه تیاره خونه وه او ترخنګ مې یوه ښځه خرېده. لیدل مې چې د هغې ساه اخیستل منظم نه‌وو؛ لکه خوب چې ویني، یا لکه ویښه چې وي او ځان یې ویده اچولي وي. کټ له لښتو او لرګیو جوړ او د بوجیو په ټوکر پوښل شوی و، د متیازو بوی ترې پورته کېده. لکه هېڅکله چې لمر نه‌وي وهلی. بالښت یې په یوه زیږه ټوکر پوښلی و، د خولو بوی یې لګېده او د ننه یې دومره وړی پکې تخته کړې وې چې د لرګي په څېر کلک احساسېده.

ترېهار مې واورېد، چې مخ مې وروا‌ړاوه؛ ښځه مې اړخ ته ولاړه وه، په ځای کې راپورته شوم، د خښتې په څېر کلک بالښت ته مې ډډه ووهله، هغې وپوښتل:

- «ته نه یې ویده؟»

- «خوب نه‌راځي، ټوله ورځ ویده وم، ورور دې چېرته دی؟»

- «د باندې ووت، خپله دې واورېدل چې په څه پسې ولاړ. ښايي نن شپه رانه‌شي.»

- «تا چې هر څومره ورته وویل، بیا هم ولاړ؟»

- «هو، ښايي رانه‌شي. همدا یوه خبره یې نیولې وه، ویل یې هلته ځم، باید هلته ولاړ شم. هغه دومره لرې ځي چې بیا راتلل ورته اسانه نه‌دي. هغه له ډېره وخته هڅه کوه، له دې ځایه لاړ شي او فکر کوم هماغه موقع په لاس ورغله. ښايي زه یې تا ته پرېښې یم چې پالنه مې وکړې. خوسکۍ یې پلمه کړه، ته به یې ګورې، بیا نه‌راځي.»

ما غوښتل ووایم: «سر مې ګرځي. بهر وځم چې لږ تازه هوا راباندې ولګي.» خو پر ځای مې یې وویل:«اندېښنه مه‌کوه. بېرته به راشي.»

اسمان تور او له ستورو ډک وو او د سپوږمې تر څنګ تر غټ او ځلاند ستوري ځلېدل.

په ټيټ غږ مې وپوښتل: «غږ مې نه‌اورې؟»

د هغې غږ و: «ته چېرته یې؟»

- «دلته، ستاسې په کلي کې، ستاسو له خپلوانو سره، ما نه‌وینې؟»

- «نه زويه! زه دې نه‌وینم.»

د هغې غږ داسې و، لکه له هرې خوا چې پورته کېږي او بیا ورو ورو لرې کېږي او ورکېږي.

- «زه دې نه‌وینم!»

ketabton.com - The Digital Library



بېرته هغې خونې ته ولاړم چې ښځه پکې ویده وه او ورته مې وویل:
- «زه به دلته، په غولي کېنم، کټ هم د ځمکې په څېر کلک دی. که څه پېښ شول، راته ووایه.»
هغې وویل:«دونیس بېرته نه‌راځي. زه يې له سترګو پوه شوم. هغه د چا راتګ ته منتظر و، چې ورسره وتښتي. اوس به ته زما خیال ساتې. راشه زما تر څنګ ویده شه!»
- «زه دلته ښه یم.»
- «کټ درته ښه دی. په غولي به دې ورږې وخوري.»
راپاڅېدم او په کټ پرېوتلم.
نیمه شپه وه، ګرمۍ راپاڅولم. ځان مې خولې خولې و. د ښځې بدن له خټو جوړ ښکارېده او لکه د بام لپاره خیشت شوی ګل راشوړېده، بهېده او د خټو په ډنډ بدلېده. ما ځان داسې احساساو، لکه د هغه له بدنه په رابهېدونکو خولو کې چې لامبم. دومره هوا مې نه‌شوای موندای چې یو ځل ساه پکې واخلم. له کټه راپورته شوم، هغه ویده وه، خوله يې خلاصه وه او داسې خرهار يې کاوه، ته وا د مرګ په منګولو کې ده او ساه ترې وځي.
د لرې تازه هوا لپاره کوڅې ته راووتم، خو تودوخې نه‌پرېښودم، راپسې وه او له ځانه مې نه‌شوای شړلی. هوا دَپ وه. د اګست میاشتې توده او خاموشه شپه وه. اړ وم هماغه هوا تنفس کړم چې له خولې مې ایستلې وه. لاسونه مې خولې ته ونیول چې هماغه هوا رانه ونه‌تښتي. داسې مې احساسوله چې په هرځل ساه اخیستو کې هوا راکمېږي، تر دې چې دومره نرۍ شوه چې د ګوتو له منځه مې د تل لپاره ووتله.
دومره راياد شول چې د سر له پاسه مې د ځګ او وریځو په څېر یو څه تاوېږي. وروسته مې په همدې ځګونو کې ځان لاهو کړ او په وریځو کې ورک شوم. همدا وروستي شیان وو، چې دلته مې ولیدل.
- «خوان پرسیادو! غواړې په ما ومنې چې ته ورک شوی وې. ما خو ته د کلي په منځ کې وموندلې، د دونیس له کوره ډېر لرې. هغه هم هلته و او راته ویل يې چې ته مړ کېږې. ته مو په دواړو سره په کشولو کشولو د محراب تر سیوري پورې راورسوې. بدن دې د لرګي د تختې په څېر کلک شوی و او داسې غونج‌منج وې، لکه څوک چې له

ketabton.com - The Digital Library



ډېرې وېرې مړ شوی وي. که په هغه شپه، لکه څنګه چې ته يې يادوې، د ساه اخيستو لپاره هېڅ هوا نه‌وای، نو ته مو څنګه راکش کړې او خاورو ته مو وسپارلې؟»

- «ته سم وايې، دوروتيو! خو ما ته دې ونه‌ويل چې نوم مې دوروتيو دی؟»

- «مهمه نه‌ده، اصلي نوم مې دوروتيا دی، خو فرق نه‌کوي.»

- «رښتيا وايې، دوروتيا، زه همدغو زمزمو ووژلم!»

- «... زويه! ته به هغه ځای ووينې چې زه ولې مينه ورسره لرم. هغه کلي مې زړه وړی دی. هغه ځای چې خپلو خيالونو پکې ايرې ايرې کړم. زما کلی د کروندو په منځ کې دی، له ونو او پاڼو ډک، لکه د ماشومانو صندوق چې له ښکلو شيانو ډک وي. د انسان زړه غواړي چې د تل لپاره همالته واوسي. سهار، غرمه، ماسپښين، ماښام او بل هر وخت پکې يو شان وي، يوازې هوا پکې بدلېږي او همدا هوا ده چې هلته د شيانو رنګونه بدلوي. هلته ژوند د يوې غلې زمزمې په څېر تېرېږي... يوه نرمه، پاکه او سپېڅلې زمزمه.»

- «هو، دوروتيا! زه همدغې زمزمې ووژلم. ما هڅه کوله خپله وېره په ځان کې خښه کړم، خو وېره ورځ تر بلې زياتېدله، تر دې چې نور مې يې د زغملو توان نه‌درلود او کله چې له هماغې زمزمې سره مخ شوم، حواس مې وپاشل شول، په دېوال مې ځان تکيه کړ او د کلي تر ډاګه په ډېر کړاو سره ولاړم، لکه په لاسونو چې تللی وم. داسې مې انګېرل لکه هغه غږونه چې له دېوالونو راوځي، لکه له چاکونو او ماتو خښتو چې راخېژي. ټول د انسانانو غږونه وو، روښانه نه‌و، ګونګ او مرموز وو، داسې لکه د تېرېدو پر وخت چې زما په غوږونو کې راڅاڅي او څه راته زمزمه کوي. ځان مې له دېوالونو لرې کړ او تر يوه ډاګه ورسېدم، خو بيا مې هم غږونه اورېدل، لکه له ما سره چې ګام پر ګام روان وي، کله به مې مخې ته شول او کله شا ته. لکه چې درته ومې ويل، نور هغسې تود نه‌وم، ساړه مې کېدل، ژامې کړچېدلې. له کومه وخته چې د هغې ښځې له کوره راوتلی وم، چې کټ يې په کرايه راکړی و، په وجود مې ساړه ننوتي وو او شېبه په شېبه زياتېدل، تردې چې پوستکی مې چاودې چاودې شو.

غوښتل مې بېرته وګرځم؛ فکر مې کاوه که بېرته ولاړ شم، ښايي هغه تودوخه ومومم چې شا ته مې پرېښې ده. خو لږ نور چې لاړم، پوه شوم چې يخني له بهره نه‌ده؛ زما له باطنه راځي، زما له خپلې وينې څخه. له ډاګه مې د خلکو شور واورېد. فکر مې

ketabton.com - The Digital Library



وکړ، هلته به داسې خلک ومومم چې مرسته راسره وکړي. ډاګ ته چې درغلم، تا وموندلم. نو دونيس بالاخره بېرته راغی؟ هغه ښځه خو پوره ډاډمنه وه چې بیا به يې هېڅکله ونه وينم.»

- «کله چې مو ته وموندلې، سهار شوی و. نه پوهېږم چې دونيس له کومه راغی، ما ترې ونه پوښتل.

- «زه چې هلته وم، يوه دېوال ته مې تکيه وکړه، څوک نه تر سترګو کېدل، خو لا مې زمزمې اورېدلې، لکه د بازار د ګڼه ګوڼې غږ، پرله پسې روان و، خو يوه خبره هم پکې نه اورېدل کېده. لکه د شپې چې څوک ونه ويني، خو په څانګو او پاڼو کې يې د باد غږ اوري. همداسې غږ و، نور وړاندې نه ولاړم. احساساوه مې چې غږ رانږدې کېږي او د مچيو په څېر رانه تاوېږي. تر دې چې په څو کلمو پوه شوم:

«موږ ته دعا وکړئ!» په همدغه شېبه کې مې روح کنګل شو او تا مړ وموندم.»

- «بايد کور کې پاتې وای، ولې دلته راتلې؟»

- «ما په پيل کې درته وويل؛ ما ته ويل شوي چې پېدرو پارامو دې پلار دی، په هغه پسې راغلم او د هغه په خيال کې ګرځم.»

- «خيال يو بد شی دی. دا خيال و، چې زه يې تر خپل عمر زياته ژوندۍ وساتم. ما بايد د خپل زوی د لټون بيه پرې کړې وای چې هغه په خپله يو بل خيال و؛ ځکه ما هېڅوخت زوی نه درلود. اوس چې زه مړه يم، وخت مې موندلی چې په هرڅه فکر وکړم او په حقيقت پوه شم. خدای ما ته کور نه و نصيب کړی چې خپل ماشوم پکې وپالم. يوازې يو اوږد او ستومانوونکی ژوند يې راکړی و چې له يوه ځايه بل ته مې ځان کشاوه، په پټ مخ به مې په خلکو پسې کتل. تل بدګومانه وم، چې خلک به مې زوی پټ کړي او د دې ټولو پړه مې په يو بد خوب اچوم. ما دوه خوبونه وليدل؛ يوه ته يې ښه خوب وايم او بل ته بد. په اول خوب کې مې ليدل چې يو زوی لرم، تر کومه چې ژوندۍ وم، باوري وم چې رښتيا دی. هغه مې په خپله غېږ کې احساساوه. خوله او کوچنې لاسونه مې يې احساسول، ډېر وخت مې د هغه د سترګو رپېدل او د زړه درزا په خپلو ګوتو احساسوله او له باور کولو پرته مې بله لاره نه درلوده. هر ځای ته چې به تلم، هغه به مې په خپل ټيکري کې ونغښت او له ځانه سره به مې ووړ. يوه ورځ په

ketabton.com - The Digital Library



ناڅاپي توګه رانه ورک شو! د برزخ په دنیا کې راته وویل شول، چې تا ته یې د مور خپه نه، بلکې د مور زړه درکړی.

بل خوب چې مې لیدلی و، دا و: جنت ته ولاړم او ټول ځایونه مې یې وکتل چې د پرښتو په منځ کې به د خپل زوی څېره وپېژنم او که نه؟ هېڅ ګټه یې نه‌درلوده. ټولې څېرې یو شان وې، ټولې لکه په یوه قالب کې چې جوړې شوې وي. بیا مې پوښتنه وکړه. یو سپېڅلی کس رانږدې شو او بې له دې چې کومه خبره وکړي، خپل لاس یې زما په خېټه کېښود، فشار یې ورکړ، لکه د موم په توپ کې چې ګوته ننباسي. کله چې یې لاس راپورته کړ، داسې څه یې راته وښودل چې د بادام یا د غوزې د پوستکي په څېر ښکارېدل. ویې‌ویل: «دا هغه څه ثابتوي چې زه یې درته بیانوم.»

ته پوهېږې چې هلته پورته څومره د خندا وړ خبرې کېږي، خو بیا هم د هغوی په خبرو پوهېږې. ما غوښتل ورته ووایم چې زما خېټې د لوږې له کبله ګونځې کړې، خو یوه بل سپېڅلي کس مې په اوږه لاس کېښود، د دروازې په لور یې بوتلم او راته ویې ویل: «لورې! څمکې ته وګرځه او لږ نور استراحت وکړه، هڅه وکړه نېکه ښځه شې چې ډېر وخت په برزخ کې پاتې نه‌شې.»

همدا مې بد خوب و، هماغه خوب چې پکې پوه شوم چې هېڅ‌وخت مې زوی نه‌درلود. په دې هکله ډېره ناوخته پوه شوم، هغه مهال چې بدن مې له ګونځو ډک شوی و او ملا مې دومره کړوپه شوې وه چې نور مې د ګرځېدلو توان نه‌درلود. هغه وخت ټول خلک له کلي ووتل او خپله مهرباني او خیرات یې هم له ځانه سره یووړل. زه د مرګ په تمه کېناستم. کله چې مې ومونذلې، اندامونو مې پرېکړه وکړه چې آرام شي. فکر مې وکړ، چې هېڅوک به پام راته ونه‌کړي او زه هم له هغو کسانو یم چې هېچا ته به مزاحمت ونه‌کړم. ته ګورې چې یوه شګه مې هم له ځمکې نه‌ده غلا کړې. هغوی زه له تا سره په یوه قبر کې خښنه کړم او ستا د مټو منځ کې مې ځای وموند. هلته پورته باران ورېږي. د څاڅکو ټک ټک یې نه‌اورې؟»

- «داسې غږ اورم، لکه څوک چې زموږ د پاسه ګرځي.»

- «نو باید ونه‌وېرېږې. اوس تا څوک نه‌شي وېرولی. یوازې د ښو شیانو په اړه فکر وکړه، ځکه دلته به موږ ډېر وخت تر خاورو لاندې وو.»

***

ketabton.com - The Digital Library



سهار د لمرخاته پر وخت د باران غټ غټ څاڅکي اورېدل او په نرمه ځمکه کې یې لارې جوړولې. یوه مَینا د کروندې له پاسه والوتله او داسې وچغېده، لکه د یوه ماشوم د غږ پېښې چې کوي. لږ وړاندې چې لاړه داسې چغار یې پیل کړ، لکه یو ستړی ژړغونی آواز او نوره چې هسکه لاړه، په سلګیو شوه، لږ شېبه وروسته یې خندا پیل کړه او په پای کې بیا ژړغونې شوه.

فولګور سېدانو د تازه لمدې شوې خاورې په بوی کې ژوره ساه واخیسته او د باندې یې وکتل چې باران ځنګه په پولو، پټیو کې اوري. د هغه وړې سترګې له خوښۍ ځلېدې. درې ځله یې ژوره ساه واخیسته، د ځمکې له بوی یې خوند واخیست، موسک شو، تر دې چې غاښونه یې ښکاره شول. بیا یې وویل:

«بیا د یوه ښه حاصل په درشل کې یو.» خبره یې وغځوله: «بارانه واورېږه! ښه زړه تش کړه، تر هغه چې نور د اورېدو وس درسره پاتې نه‌شي! او بیا چې هر چېرته ځې، لاړ شه!»

په لوړ غږ یې وخندل. مَینا چې د کروندې په سر الوتې وه، راوګرځېده، ده ته نږدې شوه او بیا په ژړغوني غږ وچغېده.

د باران شرنګی خوت، وریځو تیاره جوړه کړې وه، لکه شپه چې رانږدې وي.

د مېډیا لونا لویه دروازه چې خلاصه او پورې کېدله، د غنګ غنګ غږ یې کاوه. لومړی دوه سپاره ووتل، بیا دوه نور او ورپسې دوه نور. تر دې چې دوه سوه سپاره سړي په لمده کرونده کې ورګډ شول.

فولګور سېدانو هغه کسانو ته چې تر څنګ یې تېرېدل وویل: «رمه له انمېدیو څخه تر استاګوا پورې وشړئ او کوم څاروي چې په استاګوا کې دي د ویلمایو غونډیو ته یې وخېژوئ. بېړه کوئ، باران لا پسې زیاتېږي!»

هغه دا خبره دومره تکرار کړه چې وروستیو سپرو یوازې دومره واورېدل: «له دې ځایه تر هغه ځایه او له هغه ځایه تر ها بله ځایه!» هر یوه کس خپل لاسونه د پلنو خَولیو څنډو ته یووړل، څو وښیي چې خبره یې واورېده.

د وروستي سپاره له وتلو لږ وروسته، میګل‌پارامو راورسېد او په ډېره بې‌پروايۍ له آسه یې راټوپ کړل. نږدې و، د سېدانو په سر راټوپ کړي. آس یې خوشي کړ، چې د آخور خوا ته ورشي.

ketabton.com - The Digital Library



- «هلکه! تر دې وخته چېرته وې؟»
- «شېدې مې رودلې.»
- «د چا شيدې؟»
- «ته وايه، د چا به وې؟»
- «د کوروتيا به وې، لاکوراراکا يادوم، دلته خو همدا يوه ښځه ده چې له ماشومانو سره مينه لري.»
- «ته ناپوه يې فولگوره! خو ملامت هم نه‌يې!»

ميگل ورو ورو روان شو، چې سهارنۍ وخوري. په پخلنځي کې داميانا سيسنېروس هماغه پوښتنه ترې وکړه: «ميگله! اوس له کومه راغلې؟»
- «همدلته شاوخوا وم، د سيمې د خلکو ته پوښتنې ته تللی وم.»
- «غوسه کېږه مه، هگۍ دې څنگه پخې کړم؟»
- «څنگه چې دې زړه غواړي.»
- «سم درته وايم، ميگله!»
- «پوهېږم، داميانا! اندېښنه مه‌کوه. ته د دوروتيا په نوم ښځه پېژنې؟ هاغه چې خلک يې لاکوراکا بولي.»
- «هو، پېژنم يې. که ليدل يې غواړې، همدا اوس د باندې ده. هر سهار دلته راځي او چای راسره خوري. هماغه ښځه ده، په خپل ټيکري کې يې يو څه تاو کړي، سندرې ورته زمزمه کوي او وايي دا مې زوی دی. ښايي پخوا ورته کومه بده پېښه شوې وي، خو چې پوښتنه ترې وکړې، ځان غلطوي او گډېوډې غږوي. بس په خيرات او سوال ژوند کوي.»
- «مردارخوره فولگوره! درښيم يې.»

ميگل کېناست، لږه شېبه يې فکر وکړ، چې له دې ښځې به څه گټه اخلي. بيا يې د پخلنځي دروازې ته ځان ورساوه او دوروتيا ته يې ورغږ کړ:
«يوه شېبه دلته راشه، يوه خبره درسره لرم.»
دوروتيا چې راووتله، په لوړ غږ يې ورته وويل: «هگۍ دې څه شوې؟ له دې وروسته چې کوم خواړه ما ته راکوې، هغې ښځې ته يې هم ورکوه.»

ketabton.com - The Digital Library



فولګور سېدانو د غنمو د زېرمو د کتلو لپاره ولاړ، ځکه غنم لا نه‌وو رسېدلي او دی ورته اندېښمن و. په حقیقت کې کروندې ناوخته کرل شوې وې. «باید د غنمو کندوان وګورم چې تر لَونو پورې رسېدای شو او که‌نه؟» بیا په فکر کې ډوب شو: «د دغه هلک له لاسه! سم یې پلار ته ورته شوی دی. ان تر پلاره یې یو ګام مخکې دی. که داسې روان وي، دا وړی به شړی نه‌شي. پرون مې هېر شول چې ورته وواېم: یو څوک راغلی و او ویل یې چې ده یو سړی وژلی دی! که همداسې راون وو، اوف!...»
یو ژوره ساه یې واخیسته او فکر یې وکړ چې تر دې وخته به د کروندې کارګران چېرته رسېدلي وي. خو ناڅاپه یې پام د میګل‌پارامو شنه آس ته واوښت؛ آس خپله پوزه له آخوره سره موښله. له ځان سره یې وویل: حتی زین یې له آسه نه‌دی ښکته کړی. د دون‌پېدرو دې بلا پرې وګرځي او لږ فکر خو کوي، ولې میګل د زړه وینې راوخوړې. پرون مې ورته وویل چې زوی دې څه کار کوي، خو پېدرو ځان یې تېر ایست او دومره یې وویل: داسې وګڼه چې دا کار ما کړی دی. هلک دا کار نه‌شي کولای. دومره زړه نه‌لري چې یو سړی ووژني، دا کار غټ زړه غواړي!»
خپل دواړه لاسونه یې داسې ونیول، لکه د یوې غټې هندوانې اندازه چې راښیي. «هر کار چې کوي، داسې وګڼه چې ما کړی دی.»
- «دون‌پېدرو! میګل به ډېر سرخوږی درته جوړې کړي. لانجه‌مار انسان دی.»
- «په کار کې کار مه‌ورلره، هلک دی. اوولس کلن به وي؟»
- «همدومره به وي. د زېږېدو ورځ مې یې داسې په یاد ده، لکه پرون چې وي، خو اوس ډېر ګستاخ شوی دی، لنډه منډه ترې وشي، وړاندې وروسته نه‌ګوري. وېرېږم په بلا وانه‌وړي.»
- «لا ماشوم دی، فولګوره!»
- «دون پېدرو! هر څه چې ته وایې، خوښه دې، خو هغه ښځه چې پرون دلته راغله، ژړل یې او ستا زوی یې د خپل مېړه په وژلو تورناوه، هېڅ ډول تسلي یې ونه‌شوه او نه مو یې اوښکې وروچې کړای شوې. زه له ډېرو غمجنو کسانو سره مخ شوی یم، خو د هغې غم تر کچې وتلی و. لس خرواره غنم مې ورته ومنل چې خپل غم هېر کړي، خو هغې ونه‌منل. وروسته مې ژمنه ورسره وکړه، چې هره مرسته مې له وسه کېږي، ترې وبه‌یې نه‌سپوم، خو هغه مې راضي نه‌شوای کړه.»

ketabton.com - The Digital Library



- «له کومې کورنۍ څخه ده؟»
- «نه يې پېژنم.»
- «اندېښنه ورته مه کوه. داسې کسان خدای نه‌دي خوشحاله کړي.»

فولگور د غَلو زېرمې ته ورغی. د جوارو تودوخه يې احساس کړه. موټی يې ترې راډک کړ، چې چينجن شوي نه‌وي. وروسته يې زېرمه په گامونو کړه چې څومره پاتې ده. ويې‌ويل: «ټيټه يې نه‌وايو، کله چې وانښه شنه شي، آسونه جوار نه‌غواړي، له اړتيا زيات جوار لرو.»

د بېرته راتلو پر مهال يې له ورېځو ډک اسمان ته وکتل او ويې‌ويل: «تر ډېره به باران وي.» او نور يې هرڅه له ياده ووتل.

***

- «موسمونه حتماً بدلېږي. مور به مې راته ويل چې کله باران پيل شي، هر څه غوړېږي، شنه کېدونکي بوټي تازه کېږي او وړمې يې خپرېږي. هغه به دا هم ويل چې څنگه د ورېځو څپې راپلنېږي، څنگه باران راتويېږي او د ځمکې رنگ بدلوي. مور مې د ماشومتوب او د ژوند تر ټولو ښه وختونه په همدې کلي کې تېر کړي وو، چې وروسته ان د مړينې لپاره دلته نه‌شوای راتللی. له همدې کبله يې په خپل ځای زه راولېږلم. دوروتيا! عجيبه لا دا ده چې ما پورته ونه‌کتل او اسمان مې ونه‌ليد، ما بايد هغه اسمان ته کتلي وای چې هغې ورته کتلي وو.»

- «نه پوهېږم، خوان پرېسيادو! کلونه کېږي چې پورته مې نه‌دي کتلي، اسمان مې له ياده وتلی. که مې سر هم پورته کړی وای، څه گټه به يې راته کړې وای؟ اسمان دومره لوړ و او زما سترگې دومره وړې او بې‌نوره وې چې يوازې په دې پوهېدم چې تر پښو لاندې مې ځمکه ده. له هغې ورځې وروسته مې له هر څه زړه تور شو، چې پادري رېنتريا راته وويل: ته به هېڅکله د جنت ښکلا ونه‌وينې. له هماغه ورځې مې هيلې مړاوې شوې. ښايي سبب يې زما گناهونه وو، خو هغه بايد داسې نه‌وای راته ويلي؛ ځکه يوازيني شی چې انسان د ژوند دوام ته هڅوي، دا هيله ده چې له مړينې وروسته به يوه ښه ځای ته ځي، خو کله چې دغه دروازه وتړل شي، نو بله دروازه يوازې د دوزخ پاتې کېږي او انسان دې پايلې ته رسېږي چې کاشکې له سره زېږېدلی نه‌وای. نو خوان پرېسيادو! زما لپاره جنت يوازې همدا ځای دی.»

ketabton.com - The Digital Library



- «روح دې څه وايي؟ چېرته تللې ده؟»
- «ښايي چېرته د ځمکې پر سر سرګردانه وي. ډېر نور روحونه هم شته چې په خلکو پسې ګرځي او د دعا غوښتنه ترې کوي. فکر کوم، له ما څخه د بدو کارونو له امله کرکه کوي، خو اوس ورته زړه نه‌خورم. ما له ډېرو کړاونو سره ډغرې وهلې دي. د ژوند پوره ترخه مې څښلي دي، خو يوه خاشه ګټه مې يې ونه‌ليده. ښځې ډېرې شپې مې په غمونو او اندېښنو کې رنځې کړې. ګام پر ګام مې د زړه وينې وخوړې، خو کله چې د مرګ په تمه کېناستم، روح مې راته ويل چې بيا راپورته شم او ژوند ته دوام ورکړم. لکه لا هم چې هيله وي او زما د ګناهونو د پاکۍ فرصت وي. خو زه راپورته نه‌شوم، ومې‌ويل: همدا د لارې پای دی، نور مې د زړه زور نه‌شته. بيا مې خوله پرانيسته چې روح رانه کډه شي. همداسې وشول. هغه مهال مې احساس کړه، په لاسو مې يو څه راولوېدل، د وينې يو نری تار و، چې روح مې يې له زړه سره تړلی و.»

دروازه يې په زوره وټکول شوه، خو ده ځواب نه‌ورکاوه. بيا يې واورېدل چې نورې دروازې هم ټکوي او شاوخوا خلک له خوبه راويښوي. فولګور يې د پښو له غږه وپېژاند، چې د سترې دروازې په خوا چټک روان دی. يوه شېبه ودرېد، لکه بيا چې يې دروازه ټکول غوښتل، خو ويې نه‌ټکوله، بېرته روان شو.  د پلار مړينه يې ورياده شوه. هماغه وخت هم د لمرختو شېبې وې. کټمټ لکه اوس، خو په دومره توپير چې هغه سهار دروزاه خلاصه وه او اسمان دومره پاک نه‌و، هوا خړه‌پړه غوندې وه. هماغه وخت چې دی په دروازه راننوت، يوې ښځې د دروازې چوکاټ ته ډډه وهلې وه او هڅه يې کوله خپلې اوښکې پاکې کړي. يوې مور چې ده هېره کړې وه او څو څو ځله يې هېره کړې وه، ورته وويل: «پلار يې دې وژلی دی!»

هغه نه غوښتل چې د هغې صحنې خاطره بيا راژوندۍ کړي، ځکه دغې خاطرې، نورې خاطرې راخوځولې. لکه د غنمو يوه ډکه بوجۍ چې سورۍ شوې وي او دی يې د نورو دانو د توېدلو مخه نيسي. د پلار مړينې يې، نورې مړينې وريادولې او په هره يوه کې به د هغه داغلي مخ انځور و، چې يوه سترګه يې له منځه تللې وه او بلې يې د غچ او کينې په ډول ورته کتل.

بيا بله خاطره راغله، ورپسې بله... تر دې چې هغه به يې له ياده وايست او نور به داسې څوک نه پاتې کېدل، چې ورياد وای.

ketabton.com - The Digital Library



- «دلته یې کېږدئ! نه، داسې نه! اول یې پښې کېږدئ، بیا یې سر. زه درسره یم، څه ته په تمه یئ؟»

خبرې په ټیټ غږ کېدې.

- «دون پېدرو چېرته دی؟»

- «ویده دی. مه یې ویښوئ. شور مه کوئ!»

خو هغه هلته ولاړ و، غټه تنه، درونډ درونډ کېده او یوې لویې غوټې ته ځیر و، چې د کفن په څېر په زړو بوجیو کې پېچلې وه.

ویې پوښتل: «دا څه دي؟»

فولگور سېدانو یې څنګ ته ورغی، ورته ویې ویل: «میګل دی، خان صاحب!»

چیغه یې کړه: «څه ورشوي؟»

تمه یې وه چې واوري: «وژل شوی دی؟»

خپله غوسه یې قابو کړه او د فولگور سېدانو غږ یې واورېد:

- «د هېچا کار نه و، په خپله مړ شو.»

د تېلو کمزوري څراغونه رپېدل. یو سړي وویل:

- «آس یې وواژه.»

له کټ نه یې توشکه لرې کړه، هغه یې ورپورته کړ او په لوڅو تختو یې ورځملاوه. بیا یې پرې وغځاوه، لاسونه یې په سینه ورسم کړل او مخ یې په تور ټوکر ورپټ کړ.

فولگور وویل: «تر پخوا اوس د مړینې پر وخت غټ ښکاري.»

پېدرو پارامو هلته ولاړ و، په څېره کې یې د هېڅ ډول احساس نښه نه‌ښکارېده. لکه ذهن او وجود یې چې له دې ځایه ډېر لرې تللی وي. په ذهن کې یې بې‌ربطه، بې‌نظمه او پاشلي فکرونه گرځېدل. بالاخره یې وویل: «زه یې اوس تاوان ورکوم، ښه ده سړی مخکې تاوان ورکړي چې ژر حساب غوځ شي.»

په غږ کې یې د غم او خفگان پته نه‌وه.

کله چې یې په انګړ کې راټولو خلکو ته د هغوی د راتګ له امله د مننې خبرې کولې، غږ یې د ښځو له ساندو او ژړاو پورته و؛ نه یې ساه تنګه وه او نه یې د خبرو لپاره الفاظ کم وو. دا شپېه د میگل‌پارامو د آس د ترپهار غږ شو.

ketabton.com - The Digital Library



فولگور ته يې امر وکړ: «سبا يو څوک پیدا کړه چې دا حیوان ووژني او له دې کړاوه خلاص شي.»

- «سمه ده، دون‌پېډرو! پوهېږم، دا بې‌ژبې حیوان ډېر ځورېږي.»

- «زه هم په دې فکر کې وم. ښځو ته ووایه چې دومره شورماشور مه‌کوئ، دا مړی زما دی، که د دوی وای، دومره نارې‌سورې يې نه‌وهلې.»

***

کلونه وروسته هم د پادري رېنتریا هغه شپه په یاد وه؛ چې د کټ د کلکوالي له کبله يې خوب نه‌شوای کولی او بالاخره له کوره بهر ووت. دا هماغه شپه وه چې میګیل پارامو مړ شو.

دی د کومالا په تشو او خاموشو کوڅو کې سرگردانه و. د گامونو غږ به يې هغه سپیان وېرول چې په ډېرانونو او خلو خځلو کې به يې د څه خوړو په لټه پوزې وهلې. کله چې سیند ته ورسېد او د آرامو اوبو شنگ ته ودرېد، د سیند په نرمو څپو کې يې د اسمان د ستورو تصویر ولید. څو شېبې له خپلو فکرونو سره په جنگ و، وروسته يې داسې احساس کړه لکه خپل ټول فکرونه او اندېښنې چې د سیند تورو اوبو ته غورځوي او هغه يې وړي. ده فکر کاوه: هر څه له هغه وخته پیل شول چې پېډرو پارامو له ټیټ او بې‌ارزښته حالته راپورته شو، تر لوړ مقامه ورسېد او د هرزه‌بوټي غوندې يې وده وکړه. تر ټولو بده خبره دا چې دا هر څه ما ورته ممکن کړل. د هغې ښځې غږ يې په ذهن کې راغی چې ده ته يې ویل: رېنتریا ابا! دا مې گناه وه چې تېره شپه مې له پېډرو پارامو سره تېره کړه. دا مې بله گناه وه چې له پېډرو پارامو مې ماشوم وزیږېد او دا مې بله گناه چې خپله لور مې هغه ته پرېښودله. ما تل انتظار کاوه، چې پېډرو به یوه ورځ راشي او په ټولو نادودو به اعتراف وکړي، خو هغه هېڅکله رانه‌غی. هغه خپل شرارت، زوی ته پرېښود، خدای خبر، ولې يې هغه خپل زوی باله؟ یوازې دومره پوهېږم چې ما د دغه شر وسیله ورته وسپارله!»

هغه ورځ ښه ورياده شوه، چې میگل نوی نوی ته راغلی و، پېډرو پارامو ته يې وروړی و او هغه ته يې ويلي وو: «دون‌پېډرو! د دغه ماشوم مور د زیږون پر مهال مړه شوه، هغې ویل چې دا ستا زوی دی، دا دی درته رامې‌ووړ.»

ketabton.com - The Digital Library



پېدرو پارامو چندان غبرگون ونه‌ښود، یوازې دومره یې وویل: «ابا ګله! ولې یې ته له ځانه سره نه‌ساتې، له ده څخه یو پادري جوړ کړه.»

- «زه یې مسئولیت نه‌شم اخیستلی، د ده په رګونو کې د بل چا وینه ده.»

- «فکر کوې، بده وینه ده!»

- «هو، دون پېدرو! همداسې انګېرم.»

- «زه به درته ثابته کړم چې تېروتی یې. همدلته یې پرېږده. زه به څوک پیدا کړم چې پالنه یې وکړي.»

- «ما همدا غوښتل، که له تا سره وي، بې‌خوړو او بې‌جامو به نه‌کېږي.»

ماشوم دومره وړوکی و، چې د کېچه مار غوندې تاوېده راتاوېده.

- «دامیانا! ماشوم درواخله، زوی مې دی، پالنه یې وکړه.»

دامیانا ماشوم په غېږ کې واخیست او یوې آرامې خوشحالۍ یې په څېره کې غځونې وکړې.

***

ګاډی د مېډیا لونا په لور په درزا او شرنګا تېرېدې، رېنتریا ابا د سیند په غاړه په شنو بوټو کې غلی کېناست او له ځانه یې وپوښتل: «له څه شي پټېږې؟»

یو غږ یې تر غوږ شو: «ابا! سهار مو نېکمرغه!»

دی پورته شو او ویې‌ویل: «سهار مو نېکمرغه! خدای مو عزتمن لره.»

د کلي څراغونه یو په بل پسې مړه شول. سیند په یوه روښانه، ځلېدونکې رڼا کې ځلېده. یوه ګاډی‌وان وپوښتل: «ابا! د لمانځه وخت خو نه‌دی؟»

- «وخت یې تېر شوی دی.»

بلې خوا ته یې ګامونه واخیستل چې مزاحمت ورته ونه‌کړي.

- «ابا جانه! دومره وختي چېرته روان یې؟ څوک خو به مړه نه‌وي؟ کونتلا کې څه پېښه نه‌وي؟»

غوښتل یې هغه ته ووایي: «زه مړ یم. زما جنازه ده.» خو یوازې موسک شو. کله چې یې د کلي وروستي کورونه شا ته پرېښودل، چټک روان و او لمر هم راختلی و. د غرمې له رانږدې کېدو سره بېرته راستون شو.

ketabton.com - The Digital Library



ورېرې يې «آنا» ترې وپوښتل: «کاکا چېرته تللی وې؟ ډېرې ښځې درپسې راغلې وې، غوښتل يې اعتراف وکړي، سبا اوله جمعه ده.»
- «ورته ووايه چې نن ماښام ته راشي.»
د دهليز په يوه چوکۍ کېناست، چوپه چوپتيا وه، ژوره ساه يې واخيسته، د ستومانۍ احساس يې کاوه.
- «آنا! هوا ډېره سړه نه‌ده.»
- «نه کاکا، هوا ډېره توده ده!»
- «رښتيا، زه يې نه‌احساسوم.»
هڅه يې کوله د کونتلا په اړه فکر ونه‌کړي. پادري ته ورغلی و، په خپلو ګناهونو يې اعتراف کړی و او ډېرې زارۍ يې ورته کړې وې چې دعا ورته وکړي، خو پادري له دعا ډډه کړې وه او ورته ويلي يې وو: «هغه سړي چې تا يې نوم وانه‌خيست. ستاسې کليسا يې ويجاړه کړې ده او تا يې مخه نه‌ده نيولې. اوس له تا څه تمه وکړم؟ له خدای درکړې واکه دې څه کار اخيستی؟ زه باوري وم چې ته يو ښه سړی يې او د خلکو په منځ کې درناوی لرې، خو يوازې درناوی او ښه سړيتوب بس نه‌دی. ګناه ښه نه‌ده او له هغې سره د جنګېدو لپاره بايد سخت‌زړی او بې‌رحمه واوسې. ستا د سيمې خلک عجب مؤمنان دي، ته د هغوی د ايمان سمه ساتنه او لارښوونه نه‌شې کولی، هغوی د خرافاتو او وېرې له کبله ايمان لري. ستا په بې‌وزلۍ او غريبۍ ښه خبر يم او پوهېږم چې په دغه بې‌وزله کلي کې زموږ مسئوليت څومره سخت دی او همدا واقعيت ما ته دا حق راکوي چې درته ووايم: موږ د هغه کسانو خدمت نه‌شولی کولی چې زموږ د روح په بدل کې ډېر لږ څه راکوي. کله چې دې روح د هغوی په لاس کې وي، ته به څنګه خپل کارونه ترسره کوې؟ نه! زما لاسونه دومره پاک نه‌دي چې ستا لپاره پرې دعا وکړم. بايد د دې کار لپاره بل ځای لاړ شې.»
- «مطلب دې دا دی چې کليسا پرېږدم؟»
- «هو، مجبور يې. کله چې خپله په ګناه کې ډوب يې، نورو ته به څنګه دعا کوې؟»
- «که هغوی ما له خپلې دندې لرې کړي؟»
- «قضاوت به هغوی کوي.»

ketabton.com - The Digital Library



- «خو ته نه شې کولی چې... یعنې د لږ وخت لپاره... زه باید وروستي مذهبي مراسم ترسره کړم... خلکو ته د قرباني ډوډۍ ورکړم، په کلي کې ډېر خلک د مرگ په حال کې دي.»
- «پرېږده د مړیو په اړه خدای قضاوت وکړي.»
- «نو ما ته دعا نه‌کوې؟»
د کونتلا پادري منفي ځواب ورکړ.
وروسته دواړو د کلیسا په انگړ کې د ازلیا ونو تر سیورو لاندې قدم واهه. بیا د انگورتاکو تر څانگو لاندې په یوه کټ کېناستل.
پادري چې د پوښتنې اټکل یې کړی و، وویل: «ترخه دي ترخه! موږ په داسې سیمه کې ژوند کوو چې د خدای د پېرزوینې له برکته هرڅه پکې شنه کېږي، خو هر څه چې دلته راټوکېږي، ترخه وي، دا زموږ ستونزه ده.»
- «ته رښتیا وایې. ما هم په کومالا کې هڅه کړې چې انگور وکرم، خو په مېوه یې ډاډه نه‌یم. دلته یوازې نارنج او ځمکني توت کېږي. دواړه تروش او ترخه وي. ما د خوږ مېوو خوند هېر کړی دی. هغه شفتالو دې په یاد دي چې په پلورنځي کې مو وخوړل؟ هغه اینځر او هغه نورې مېوې چې په لاس کې به دې راټینگې کړې او پوست به شوې؟ ما یې تخمونه له ځان سره راوړي وو. یوه وړه کڅوړه شول. وروسته مې فکر کاوه چې کاشکې مې همالته پرېښې وای، ځکه دلته رانه مړاوي شول.»
- «بیا هم خلک وایي چې د کومالا خاوره ډېره حاصل‌خېزه ده او ځومره د شرم خبره ده چې ټوله ځمکه د یوه سړي په لاس کې ده. پېدرو پارامو لا هم د ټولو ځمکو مالک دی، همداسې نه‌ده؟»
- «دا د خدای ورکړه ده.»
- «خدای خو د ټولو دی او په دې ځمکه کې هم ټول حق لري.»
- «دلته د خلکو حق خوړل شوی دی.»
- «ته هم د همدغو خلکو له ډلې یې؟»
- «زه یو ناڅیزه سړی یم، خو حق زورور دی او زه د خپل حق د ترلاسه کولو اراده لرم.»
وروسته یې مخه‌ښه سره وکړه. د هغه بل پادري لاسونه یې ټینگ ونیول او ښکل یې کړل. اوس چې خپل کور ته راستون شوی او له واقعیت سره مخ شوی و، نه یې

ketabton.com - The Digital Library



غوښتل د کونتلا د تېر سهار په اړه فکر وکړي. له څوکۍ څخه راپاڅېد او د دروازې په لور روان شو.

- «کاکا، چېرته ځې؟»

وربېره یې «آنا» تل هلته حاضره او تر څنګ لاړه وه. داسې ښکارېده لکه د ژوند له وېرې چې یې د ده سیوري ته پناه وړې وي.

- «د باندې وځم، لږ به وګرځم. لږ پام به مې غلط شي.»

- «څنګه، ناروغ خو به نه‌یې؟»

- «نه، ځان مې ښه دی، خو یو بد احساس راته پیدا دی، فکر کوم چې یو بد او ناوړه انسان یم!»

د مېډیا لونا په لور روان شو، چې پېدرو پارامو ته تسلیت ووایي. یو ځل بیا یې هغه خبرې په ذهن کې راوګرځېدې، هغه عذرونه او پلمې چې د خپل زوی پر ضد د لګېدلیو تورونو په اړه یې کولې. ده پېدرو پارامو پرېښود چې خبرې وکړي، خو هېڅ خبره یې دومره مهمه نه‌وه او د ډوډۍ بلنه یې ونه‌منله.

- «دون‌پېدرو، دا کار نه‌شم کولی، سهار وختي باید په کلیسا کې حاضر شم. هلته یو اوږد کتار ښځې راته انتظار وي چې اعتراف وکړي، بل وخت به ګورو.»

له هغه راولاړ او کلیسا ته روان شو. له څه مزل وروسته ستړی او په دوړو ککړ کلیسا ته ورسېد او هلته غلی کېناست چې اعترافونه واوري.

د کتار لومړۍ ښځه بوډۍ دوروتیا وه، د کلیسا دروازه چې به یې خلاصه ولیده، راوبه رسېده. د خولې یې د الکولو بوی لګېده.

- «اوس دې هم نشه کړې؟ له کومه وخته دې دا عمل نیولی؟»

- «که ربښتیا ووایم، د میګل د جنازې مراسمو ته تللې وم، لږ مې له اندازې زیات وڅښل، دومره یې راکړل چې ځان مې پرې وپړساوه.»

- «دوروتیا! ته له پخوا بلاخوَره وې!»

- «خو اوس له خپلو ګناهونو سره راغلې یم، دومره ګناهونه چې د سر له وېښتو مې زیات دي.»

پادري پخوا هم ورته ویلي وو: «ته د اعتراف کولو زحمت مه‌وباسه او مه مې وخت ضایع کوه، پرېږده د نورو خلکو اعترافونه واورم.»

ketabton.com - The Digital Library



- «خو دا ځل ببخي ډېر دي!»
- «وايه يې!»
- «اوس چې ميګل زموږ په منځ کې نه‌شته، زه اعتراف کوم چې هغه ته به مې بدلمنې ښځې راوستلې!»
رېنتريا يو ځل په فکر کې ډوب شو، بيا يې د عادت له مخې له هغې وپوښتل:
- «له کومه وخته؟»
- «هر وخت چې به يې زړه غوښتل.»
- «دوروتيا! څه چې دې وويل، تکرار يې کړه!»
- «يعنې، زه هغه څوک يې چې د ميګل لپاره به مې بدلمنې ښځې پيدا کولې.»
- «تا به ورته راوستلې هم!»
- «کله کله، ځينې وخت به ده راته ټاکلې وې، ځينې وخت به مې خبره ورسره وکړه او په خپله به راغلې.»
- «ډېرې وې؟»
دا پوښتنه يې نه‌غوښتله، خو هسې له خولې ووته:
- «شمېر يې رانه هېر دی، په غضب دې شي.»
- «زه به څه درته ووايم. په خپله قضاوت وکړه، آيا خپل ځان ببښلی شې؟»
- «زه يې نه‌شم ببښلی، خو ستا لمنه نيسم! او تا ته زاری کوم.»
- «څو ځله دلته راغلې يې او له ما دې غوښتلي چې کله مړه شم، د جنت دعا راته وکړه. ته هيله لرې چې هلته خپل زوی پيدا کړې، زما په وس کې نه‌شته، خدای په خپله ښه پوهېږي.»
- «مننه ابا!»
- «زه هم د هغه په نوم دعا کوم، اوس تلی شې رانه.»
- «د خدای په امان بابکه!»
- «خدای دې مل شه دوروتيا!»
هغه د اعتراف‌خونې کړکۍ په ګوته وټکوله، چې بله ښځه راوغواړي او خپل اعتراف ورته وړاندې کړي. کله چې هغې خبرې پيل کړې، سر يې ښکته کړ، لکه نور چې يې د پورته کتلو توان نه‌درلود. ګنګس شوه، لکه په سرېښناکو اوبو کې يا لکه په

ketabton.com - The Digital Library



څرخېدونکو وړانګو کې چې ډوبه شوې وي. د ورځې رڼا يې په سترګو کې غوټه غوټه شوه، په ژبه يې د وينو خوند خپور شو او د «ما ګناه کړې» غږ يې لا پسې لوړ شو. بيا بيا يې تکرار کړه: «ما ګناه کړې!»

پادري پرې غږ کړ: «غلې شه ښځې! وروستی ځل دې کله اعتراف کړی؟»

- «دوې ورځې مخکې ابا!»

ښځه لا هم ولاړه وه او داسې احساس يې کاوه، لکه د ټولې نړۍ بدمرغۍ چې راچاپېره کړې وي.

پادري له ځانه وپوښتل:

- «دلته څه کوې؟ ځه استراحت وکړه! له پېښو لوېدلی يې!»

له اعتراف‌خونې راووت او نېغ د کليسا د خادمانو خونې ته ولاړ. هلته هم ښځې ورته منتظرې وې. ده هغوی ته ونه‌کتل او ويې‌ويل: «څوک چې ځان بې‌ګناه ګڼي، سبا په مقدسه قربانۍ کې ګډون کولی شي.»

کله چې له کوټې راوت، تر شا يې د ښځو پس‌پسار او ورو ورو خبرې واورېدې.

***

زه په هماغه کټ کې پرته يم چې ډېر پخوا مې مور پکې ساه ورکړې وه؛ پر هماغه توشکه، د هماغې تورې وړينې‌کمپلې لاندې چې مور به يې ويدې کولو پکې. د هغې غېږه د يوې ځالې په څېر وه او مور به پرې راټولې وو. همدا اوس هم دغه کټ او کمپلې ته فکر کوم، د هغې د ساه اخيستو آرام او منظم غږ رايادېږي. هغه غږ چې مور ته به يې خوب راووست او آرامولو به يې. خو اوس هغه شپېې نه‌شته دي.

زه دلته ستوني‌ستغ پرته يم، د هماغه تېر وخت په اړه فکر کوم چې خپل يوازېتوب پرې هېر کړم. ځکه زه به دلته د لږ وخت لپاره نه‌يم پرته. زه د مور په کټ کې نه‌يم، په يوه تور صدوق کې يم، په داسې صدوق کې چې کټ‌مټ د مړي تابوت ته ورته دی، ځکه زه مړه يم...

زما په ياد دي چې چېرته يم او لا هم فکر کوم. د کال د هغه موسم په اړه فکر کوم چې لېمو پکې رسېږي. د فبرورۍ د هغه باد په اړه چې د ونو څانګې به يې نځولې او وچ ښاخونه به يې ماتول. د پخو لېموګانو د وږم په اړه چې له هرزه‌بوټو ډک انګړ به يې په سر واخيست.

ketabton.com - The Digital Library



د فبرورۍ د ورځو په سهار کې به باد له غرونو راکوزېده، ورېځې به اسمان کې تاوېدې او د هغې تودې هوا په تمه به وې چې راشي او په سيمه د باران زېرى وکړي. شا ته يې پاک او شين اسمان و، لمر به د ورېځو له چولو په بربوکيو کې په تاوېدونکو دوړو او د نارنج د ونو پر څانگو ځلېده. د چڼچڼو شور به پورته کېده، په هغو پاڼو کې به يې منبوکې وهلې چې باد به راتويې کړې وې. په شاپرکو او حشرو پسې به يې ټوپونه وهل، د اغزنو بوټو په منځ کې به يې بڼکې کېښودې او د خوښۍ موسم به شو. هماغه موسم چې هر سهار به يې له باد، رڼا او د چڼچڼو له شوره ډک و. رايادېږي مې. بيا هماغسې وخت و، چې زما مور مړه وه. ما بايد ژړلي واى، بايد لاسونه مې دومره په ژړا او ماتم کې مروړلي واى چې وينه ترې راوتلې واى. دا ستا غوښتنه وه. خو په حقيقت کې هماغه سهار له خوښۍ ډک نه و؟

نرم باد دروازې له چولې راتېرېده او د پېچک گل اوږدې څانگې او پاڼې يې خوځولې. ما چې لاسونه په تندي کېښودل، تود و. چڼچڼو لوبې کولې. د غنمو کرونده د غونډۍ په لمن کې زنگېدله. زه خواشينې وم چې هغه به بيا هېڅکله په ياسمين گلانو کې د باد لوبې ونه وينې. دا چې سترگې يې د روښانه لمر په وړاندې د تل لپاره پټې شوې وې، ما به ولې نه ژړل؟

خوستينا! په ياد دې شول، چې په دهلېز کې دې څوکۍ کتار اېښې وې، د ليدو لپاره يې خلک راتلل او تا په نوبت کې کېنول، خو هغه څوکۍ ټولې تشې پاتې شوې. زما مور د شمعو په منځ کې يوازې پرته وه، د مخ رنگ يې الوتى و. سپين غاښونه يې د ارغواني شونډو ترمنځ چې د مړينې يخنۍ وهلې وې، په سختۍ ښکارېدل. باڼه يې بې‌حرکته او زړه درېدلى و. ما او تا يو مخيزه دعاگانې کولې، داسې دعاگانې چې هغې نه‌شواى اورېدلى او نه مونږ د شپني باد له غږه اورېدى شواى.

تا يې تورې جامې اُتو کړې، جاغې او د لستوڼو سرونه يې دې کلک او منظم اُتو کړل چې لاسونه يې په سينه د اېښودلو په وخت سم ښکاره شي. په هغه سترې او مينه ناکه سينه چې يو وخت يې ما ته شېدې راکولې، په غېږ کې به يې نيولم او د زړه درزا به يې آرامولم او ويده کېدلم به.

هېڅوک يې ليدو ته رانه‌غلل. همداسې ښه وه. مرگ کومه داسې ډالۍ نه‌ده چې څوک يې وغواړي. دا نابللى مېلمه په خپل زړه راځي.

ketabton.com - The Digital Library



چا دروزاه وټکوه او ما وویل: «ته ورشه، زه نه‌غواړم څوک ووینم. هغوی ته ووایه، په مخه مو ښه. ایا د لمانځه لپاره پیسې غواړې؟ له هغو یو غیران هم پاتې نه‌دي. که دوی لمونځ ونه‌کړي، مور به مې په برزخ کې پاتې شي؟ خوستینا! دوی څوک دي چې د عدالت پرېکړه وکړي؟ ته وایې زه لېونی یم، همداسې ښه یم.»

څوکی تر هغه تشې وې چې مور د مور د خښولو لپاره د باندې ووتلو. له مور سره هغه سړي هم وو، چې د تابوت وړلو لپاره مو په پیسو راوستي وو. هغوی د ډېرو لږو پیسو په بدل کې پردی مړی پر اوږو ووړ. هغوی ته غم هم پردی و. تابوت یې په ډېر احتیاط سره په قبر کې کېښود، د هدیرې ساړه باد یې خوَلې وچولې او له سترګو یې داسې ښکارېدل لکه د مړي خښول چې پرې اغېز نه‌لري. یوازې یې خپله مزدوري یاده کړه. تا له جیبه دسمال راوکیښ، دسمال مروړل شوی و، لکه اوښکې چې پکې نغښتې وي. د دستمال غوټه دې پرانیسته او د کفن او دفن پیسې دې ترې ورکړې.

هغوی چې ولاړل، د قبر د پاسه په ګونډو شوې، ځمکه دې ښکل کړه. که مې نه‌وای ویلي: «څه چې ځو خوستینا! هغه نوره نه‌شته او دلته یوازې یو مړ بدن پروت دی» ځمکه دې کیندله او لېونتوب دې کاوه.

- «دوروتیا! دا ته وې چې دا خبرې دې کولې؟»

- «څوک؟ په چورت کې تللې وم، ته لا هم وېرېږې؟»

- «د چا غږ مې واورېد، د یوې ښځې غږ و، ماسکه ویل ته یې.»

- «د یوې ښځې غږ؟ حتماً یو څوک شته چې له ځان سره غږېږي. دونیا سوسانیتا خو به نه‌وي، هغه چې دلته نږدې په لویه هدیره کې خښه ده. ښایي لمدَبل ورته رسېدلی وي او ناآرامه وي.»

- «هغه څوک ده؟»

- «د پېدرو پارامو وروستی مېرمن. ځینې وایي لېونی ده، ځینې وایي نه‌ده. حقیقت دا دی چې هغې، هاغه وخت هم له ځان سره خبرې کولې چې ژوندۍ وه.»

- «نو ډېر وخت کېږي چې مړه شوې ده.»

- «هو، ډېر وخت کېږي. هغې څه ویل؟»

- «د خپلې مور په اړه غږېدله.»

- «هغې خو مور نه‌لرله!»

ketabton.com - The Digital Library



- «هو، په همدې اړه يې خبرې کولې.»

- «هووو، چې دلته راغله، مور يې ورسره نه‌وه. نه! صبر وکړه، اوس راياد شول؛ مور يې دلته زيږېدلې وه، خو چې عمر يې زيات شو، مړه شوه. عجيبه ښځه وه، تل به ناروغه وه او له هېڅا سره يې راشه‌درشه نه‌درلوده.»

- «په همدې هکله يې خبرې کولې، ويل يې چې کله يې مور مړه شوه، هېڅوک يې پوښتنې ته ورنه‌غلل.»

- «عجيبه وه چې هېڅوک ورنه‌غلل. ښايي خلک به وېرېدل چې هسې نه له هغې ناروغه شي. نو دا ښولې کيسې يې په ياد دي؟»

- «هو، همدا سره وايي.»

- «که غږ يې دې بيا واورېد، ما خبر کړه، چې څه وايي.»

- «اورې يې؟ فکر کوم، څه وايي، پس‌پسار يې اورم.»

- «نه، هغه نه‌ده. دا غږ لرې دی او له بلې خوا راځي، د يوه سړي غږ دی. د مړيو جسدونو ته چې لمدَبل رسېږي، راويښېږي، اوړي را اوړي او خبرې کوي.»

- «جنت ډېر لوی دی، هغه شپه مې احساسولی شوای. کله چې راپه هوښ شوم، هوا تياره شوې وه.»

- «غږ يې اورې؟»

- «هو.»

- «... زه په وينو لړلی وم. د پاڅېدو هڅه چې مې کوله، لاسونه مې د ډبرو تر منځ په راټولو وينو کې ښويېدل او دا زما خپلې وينې وې؟ د وينو ډنډ و، خو زه مړ نه‌وم. ښه پوهېدم چې دون‌پېدرو نه‌غوښتل ما ووژني. يوازې وېرولم يې. يوازې يې دا معلومولة چې دوه کاله وړاندې، د سن‌کريستوبال په ورځ زه ويلمايو کې وم او که‌نه؟ په واده کې؟ په کومه ورځ؟ لاس مې په خپلو وينو کې وواهه او ومې‌پوښتل: کوم واده، دون پېدرو؟ نه، نه! زه هلته نه‌وم. ښايي نږدې به وم، د ناخبرۍ له مخې... هغه نه‌غوښتل، ما ووژني. شَل يې کړم، لکه څنګه چې مې وينئ او له بده‌مرغه يوه لاس مې کار پرېښود، خو ويې‌نه‌وژلم. وايي له هماغې وېرې مې يوه سترګه رَډه‌بډه او وحشي ښکاري. خو زه درته وايم چې له هغې پېښې وروسته زه سړی شولم. جنت ډېر لوی دی، هېڅکله پرې شک مه‌کوئ.»

ketabton.com - The Digital Library



- «هغه څوک دی، دوروتیا؟»
- «څه پوهېږم، له انسانانو به یو وي. پېدرو پارامو تر هغې وروسته چې پلار یې ووژل شو، په واده کې یې نږدې ټول حاضر کسان ووژل. د ده پلار، دون‌لوکاس پارامو، ښایي د ښه نوم خاوند شوی وای، خو څه چې پېښ شول یو تصادف و، ځکه ده غوښتل زوم ووژني. پېدرو پارامو پوه نه‌شو، چې چا ډزې وکړې او د ده پلار یې وواژه، له همدې کبله یې له ټولو غچ واخیست. دا هرڅه همالته د ولیمایو پر غونډۍ وشول، هغه ځای چې پخوا پکې څه کورونه وو، اوس یې هېڅ نښه نه‌شته. غوږ ونیسه، فکر کوم، هماغه ښځه بیا خبرې کوي. ستا غوږونه ځوان دي، ته یې واوره او بیا ما ته ووایه چې څه وایي؟»
- «په خبرو یې نه‌پوهېږم، فکر نه‌کوم چې هغه خبرې کوي، یوازې غږانګې وهي.»
- «څنګه غږانګې؟»
- «نه پوهېږم.»
- «خامخا یو څه وایي. هېڅوک بې‌دلیله غږانګې نه‌وهي، لږ نوره هم ځیر شه.»
- «هماغه غږ دی، شاید پېدرو پارامو ځورولې وي.»
- «په دې باور مه‌کوه، زه په جرئت ویلی شم چې د هغه هېڅ‌وخت له بلې ښځې سره دومره مینه نه‌وه، لکه له هغې سره یې چې وه. هغه دومره پرې ګرانه وه، چې کله مړه شوه، نو ده خپل پاتې عمر هغې لارې ته په کتلو تېر کړ، چې د دې مړی یې هدیرې ته پرې وړی و. له دغې پېښې وروسته یې له هر څه سره علاقه وبایلله، خپلې ځمکې یې شاړې پرېښودې او په خپل امر یې د ځمکې کرلو او رېبلو وسایل وسوځول. ځینې خلکو به ویل چې هغه له کاره ستړی شوی او ځینې به ویل چې له ژونده ناهیلی شوی دی، خو یوه خبره څرګنده وه چې ټول کسان یې له خپلو ځمکو وشړل، یوازې په یوه څوکۍ کېناست او پاتې عمر یې هماغې لارې ته په کتو کې لوګی کړ.»
- «له هماغې ورځې وروسته کروندې له منځه لاړې، په لیدو به یې انسان خواشینی کېده. هغه مهال چې ځمکې شاړې شوې، آفتونو او ناروغیو یرغل راووړ، هره خوا اغزي او هرزه‌بوټي راپورته شول. خلک بې‌کاره شول او د ژوندي پاتې‌کېدو په هیله له سیمې کډه شول. زما هغې ورځې هم یادېږي چې په کومالا کې به یوازې د خدای پامانۍ غږ اورېدل کېده، څوک چې به له سیمې وتل، د بیا راتلو ژمنه به یې کوله، له

ketabton.com - The Digital Library



همدې کبله يې خپل ټول وسايل نه ورسره وړل او ځينې کسان به يې هم پاتې کېدل. خو د وخت په تېرېدو دلته حالت لا پسې خرابېده، په هغوی پسې به پاتې کسان ورتلل او کورونه به يې همداسې پرېښودل. په دې ډول زيات کلونه تېر شول او له ډېرو تللو کسانو څخه خپل کورونه او سامانونه هېر شول. زه ځکه پاتې شوم چې د تلو لپاره مې بل ځای نه‌درلود. ځينې بيا د پېدرو پارامو د مړينې په تمه پاتې شول، ځکه هغه ورسره ژمنه کړې وه چې خپلې ځمکې او شتمنۍ به دوی ته په ميراث پرېږدي. خو پېدرو کلونه کلونه ژوندی پاتې شو، د يوه لېوني غوندې به په څوکۍ ناست و او د ميډيا لونا ځمکو، لارو او تشو کورونو ته به يې کتل. د هغه له مړينې ډېر وخت نه‌و تېر شوی چې د کريسترو کورنۍ پاڅون وکړ. پوځ هغه څو تنه سړي هم له ځانه سره يووړل چې دلته پاتې وو. هماغه وخت و، چې زه په رښتيا له لوږې سره مخ شوم او بيا مې ښه ورځ ونه‌ليده. دا هرڅه د پېدرو پارامو له لاسه وو، د هغه د غم او روحي کړکېچ له امله. يوازې له دې کبله چې مېرمن يې سوزانا، مړه شوې وه، نو اوس ته ووايه چې له هغې سره يې مينه لره او که‌نه؟»

***

فولگور سېدانو وپوښتل: «خان صاحب! ښار ته بيا څوک راگرځېدلي؟»

- «څوک؟»

- «بارتولومه سان‌خوان.»

- «څنگه؟»

- «همدا پوښتنه ما هم له ځانه کړې، حيران يم چې ولې بېرته راغی؟»

- «نو تا ورته کوم ځواب موندلی؟»

- «نه، غوښتل مې لومړی تاسې خبر کړم. د کور پوښتنه يې هم ونه‌کړه، نېغ ستاسې زاړه کور ته ولاړ، له آسه راکوز شو او خپل بکسونه يې د ننه يووړل، داسې لکه تاسې چې خپل کور په کرايه ورکړی وي. هېڅ ری يې نه‌واهه.»

- «فولگوره! ته څه پکې وايې؟ ستا کار دا نه‌و، چې د داسې چارو په اړه پلټنه وکړې؟»

- «له ما ناغېړي شوې ده. که اړينه وي، سبا به يې پوښتنه وکړم.»

- «سبا يې ما ته پرېږده. په خپله ورځم او د سان‌خوان د کورنۍ په اړه پوښتنه کوم، دوه کسان يې راغلي که‌نه؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «هو، هغه او مېرمن يې، خو تاسې څنګه پوه شوئ؟»
- «د هغه لور نه‌وه؟»
- «له چلنده يې داسې ښکارېده، لکه مېرمن چې وي.»
- «خير، تاسې درځئ کور ته، ويده شئ.»
- «په اجازه مو، شپه مو نېکمرغه!»

پېدرو پارامو وويل: «سوزانا! ما دې بيا راتلو ته دېرش کاله انتظار وکړ. غوښتل مې هر څه ولرم. لږ نه، هر څه. تر هغه چې ما ته د غوښتلو هېڅ شی پاتې نه‌شي. دا ټول مې ستا لپاره غوښتل. ستا له پلاره مې ځو ځله هيله وکړه چې دلته بېرته راشي او ژوند وکړي. هغه ته مې زارۍ وکړې، ان داسې څه مې ورته وويل چې رښتيا نه‌وو. وړانديز مې ورته وکړ چې خپل مدير به يې کړم، هر څه مې ورسره ومنل، يوازې د دې لپاره چې تا ووينم. خو پوهېږې؟ هغه څه ځواب راکړ؟ قاصد به هر ځل ويل: هېڅ ځواب نه‌شته. کله چې دون‌بارتولمه ته ستا ليکونه سپارم، هغه يې څيروي او نه‌يې لولي. قاصد دا خبر هم راکړ، چې تا واده کړی و، بيا کونډه شوې يې او د پلار کره ورغلې يې.»

څو شپې غلی شو، بيا يې وويل: «قاصد به تلو راتلو او هر ځل به يې راته ويل: پېدرو خانه! زه هغوی نه‌شم موندلی، خلک وايي له ماسکوتا څخه تللي دي، خو هېڅوک نه‌پوهېږي چې چېرې تللي دي.»

«او ما ورته ويل: نورې خبرې پرېږدئ، راپيدا يې کړئ، حتی که په ځمکه هم ننوتي وي.»

«يوه ورځ راغی او راته ويې‌ويل: ټولې دښتې او دَرې مې پسې وکتلې، بالاخره مې پيدا کړل، د يو غره په غار کې وو، هلته د يوه کان نښې‌نښانې هم ليدل کېدې. دغه ځای يې، لاآندرومدا، باله.»

«هغه ورځې عجيبه بادونه لګېدل، ويل يې انقلاب راروان دی. له همدې کبله دې پلار هم دلته راغلی و. په يوه ليک کې يې وليکل: نه يوازې د ځان لپاره، بلکې ستا د روغتيا لپاره مې غوښتل، داسې ځای ته دې بوځم، چې هلته خلک وي.»

ketabton.com - The Digital Library



«ما داسې احساس کاوه، لکه د جنت دروازه چې راخلاصه وي، زړه مې غوښتل ستا په لور والوزم. ته مې په نېکمرغۍ کې ډوبولې، ژړل مې سوزانا! او ژړا مې هغه وخت لا زیاته شوه چې پوه شوم، ته راځې.»

«ځینې کلي د بدمرغۍ اډې دي. دغه حالت د هغوی له دوړنې او دوپې هوا معلومېږي. لکه هر څه چې پکې زړه‌تنګي وي. سوزانا! دا یو هماغسې کلی دی. هلته په لاآندرومدا کې ډېر لږ خلک په ژوند پوهېږی او د ورېځو، مرغانو او حشرو له لیدلو خوند اخلي. خو دلته چې هر ځای پښه ږدې، په کاڼو لګېږي. دغه کلي سر تر پایه بدمرغي ده، بدمرغي!»

- «له مورږ څخه یې غوښتل چې بیا ورشو. کور یې مورږ ته وسپاره او څه ته مو چې اړتیا وه، رایې کړل. خو هغوی د منښې وړ نه‌دي، دلته اوسېدل، عذاب دی، بدمرغي ده.»

- «پوهېږې، دون‌پېدرو! ما ته یې څه ویل؟ ما دا تمه نه‌درلوده چې کوم شیان یې راکړي، هغه به بېرته ورکوم، یا به یې په بدل کې کار کوم. ما چې د لاآندرومدا د کانونو په اړه څه اورېدلي وو، هغه مې ورته وویل. پوهېږې؟ ده راته وویل: بارتولومه سان‌خوان! زه له کانونو سره علاقه نه‌لرم. یوازینی څه چې له تا غواړم، لور دې ده او همدا مې د ژوند هیله ده.»

- «سوزانا! تا سره مینه لري. وایي هغه وخت چې واړه وو، لوبې مو سره کولې. وایي، لا مې هم په یاد ده چې سیند کې لمبېدلو. خو که زه پوهېدلی دواړه مې ډبولی.»

- «هېڅ شک پکې نه‌شته.»

- «تا دا راته ویل چې شک پکې نه‌شته؟»

- «هو، ما وویل.»

- «مطلب دې دا دی چې له هغه سره واده کوې؟»

- «هو، بارتولومه.»

- «ته نه‌پوهېږې، چې هغو واده کړی او ګڼې ښځې یې درلودې؟»

- «هو، بارتولومه»

- «ما ته مه‌وایه، بارتولومه، پلار دې یم.»

ketabton.com - The Digital Library



بارتولومه سان‌خوان، يو مړ کان کېندونکی. سوزانا سان‌خوان د هغه کان‌کېندونکی لور چې د «لاآندرومدا» په کانونو کې وژل شوی. هغه دا موضوع په روښانه ډول ليدله، له ځان سره يې ووېل: «زه بايد ولاړ شم او هلته مړ شم.» بيا يې ووېل: «ته کونډه يې، خو هغه ته مې ويلي چې لا هم له خپل مېړه سره ژوند کوې، يا لږ تر لږه ځان داسې ښيې. ما هڅه وکړه، هغه له دې کاره راوګرځوم، خو کله چې خبرې ورسره کوم، بد بد راته ګوري او کله چې ستا نوم اخلم، سترګې پټې کړي. پوهېږم څه ته په تمه دی؟ پېدرو پارامو يو غټ شيطان دی!»

- «او زه څوک يم؟»

- «ته زما لور يې. د بارتولومه سان‌خوان لور!»

د سوزانا په ذهن کې ګډوډ فکرونه راتلل، کرل او رېبل وو، بالاخره تر دې پورې راورسېده چې ووايي: «دا رښتيا نه‌ده، دا د منلو نه‌ده!»

- «دا نړۍ ولې په موږ راخېژي، ولې مو تر پښو لاندې کوي، ولې مو وينو ته تږې ده؟ موږ څه کړي؟ ولې مو روحونه داسې وراسته شول؟ ستا مور به تل ويل چې د خدای رحمت راسره دی، خو ته يې نه‌منې سوزانا! ولې زما له پلارولۍ انکار کوې؟ لېونۍ يې؟»

- «خو ته نه‌پوهېږې؟»

- «لیونۍ يې؟»

- «لېونۍ به يم، بارتولومه! خو ته هم نه‌پوهېږې.»

***

- «فولګوره! ته خو پوهېږې، هغه د ځمکې پر مخ تر ټولو ښکلې ښځه ده. ما فکر کاوه چې هغه مې د تل لپاره له لاسه ووتله، خو اوس مې زړه نه‌غواړي چې دا خبره ومنم او هغه وبايلم. سر دې خلاصېږي فولګوره! پلار ته يې ووايه چې ولاړ شي او خپل کانونه وسپړي او هلته... هلته د يوه بوډا وژل سخت نه‌دي. څوک به يې پته هم ونه لګوي. ته څه پکې وايې؟»

- «امکان لري.»

- «مه‌وايه، امکان لري! هغه بايد يتيمه شي او زموږ دنده د يتيمانو پالل دي! سپينه خبره نه‌کوم؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «ډېر سخت کار دی، ډېر له وسه لوړ.»
- «خو لاس په کار شه او د عمل سړی شه!»
- «که نجلۍ پوه شي، بیا به څه کوو؟»
- «څوک به ورته وايي؟ خبره دې زموږ تر منځ وي، سر مه پسې ګرځوه.»
- «خو که څوک خبر شي؟»
- «مه پسې ګرځه. ته به يې ګورې، هر څه به هېر شي. ته ورشه او دا مه ورته يادوه چې په لاآندرومدا کې څه کيسې دي. يوازې يې ولېږه. خو چې لور يې ورسره لاړه نه شي، موږ يې لګښت ورکوو، همدلته که پاتې شي، کار سمېږي. فولګوره! يوه دغسې لاره‌چاره جوړه کړه.»
- «خان صاحب! ستا پلان مې خوښ دی. داسې ښکاري لکه له سره چې ځوان شوی وې!»

***

د کومالا پر کروندو باران اورېدلی و؛ نرم او نری باران، داسې باران په دغه سيمه ډېر کم ليدل کېږي؛ ځکه دلته خلک تر ډېره له درنو اورښتونو سره عادت دي. يکشنبه وه. سورپوستان له آپانګو راکوز شوي وو او له ځان سره يې د بابونې دانې، د رزماري بوټي او د آوېشن ګېډۍ راوړې وې. د اوکوته لرګي او د بلوطو پټوکي يې نه‌وو راوړي، ځکه هغه هم د اوږده باران له امله لامده وو. نور بوټي او ګلان يې د بازار په سرپټو ځايو کې غوړولي وو او د خرڅلاو انتظار يې کاوه.
باران تر دې کچې اورېدلی و، چې د ځمکې پر مخ يې ځای ځای د اوبو ډنډوکي جوړ کړي وو او لا هم ځينو پټيو ته چې شنه جوار پکې ولاړ وو، اوبه بهېدلې. څوک بازار ته راتللی نه‌شوای، هغوی په کروندو کې بوخت و او هڅه يې کوله د پټيو په منځ کې وياله خلاصې کړي چې تازه کرل شوي فصلونه خراب نه‌کړي. ډلې ډلې بزګران د پولو په سرو ګرځېدل، په بېلچو يې لوټې ماتولې او ځينو به د کاواکو جوارو بېخونو ته خاورې ورتپلې. سورپوستان انتظار ولاړ و او داسې يې انګېرله چې يوه بده ورځ ده، له همدې کبله يې له لښتو اوبدلې خولۍ په سرونو لړزېدلې. دا لړزه د يخنۍ له کبله نه‌وه، وېره وه، خو دوی له يو بله پټه ساتله. دوی د باران څاڅکو ته کتل او بيا به په وربځو پټ اسمان ته ځير شول.

ketabton.com - The Digital Library



کلی داسې ښکارېده، لکه هېڅوک چې پکې نه‌وي. د سورپوستانو خولۍ چې باران لمدې کړې وې، درنې شوې وې او د ځینو خو لا شوړېدلې وې. دوی به خولۍ په تارونو او د غنمو په سرېښناکو اوړو رغولې. کله چې به باران سوکه شو، د دوی د ټوکو ټکالو او خنداو غږ به پورته شو. دوی له ځانه سره فکر کاوه: «که مو چترۍ راوړې وای، باران ډېر نه‌لمدولو، خو دا چې کرونده ټوله په ختو او چیکړو بدله شوې، ستونزه له وسه بره ده.»

«خوستینا دیاس» تر خپلې پرانیستې چترۍ لاندې په هغه سړک روانه وه چې له مېډیا لونا راغلی و. هڅه یې کوله د لارې په کڅېو کې له راډنډو اوبو ځان وژغوري. کله چې د کلیسا له دروازې تېرېده، د صلیب نښې ته یې وکتل او تر طاقونو لاندې تېره شوه. سورپوستان چې آخوا دې خوا ولاړ وو، په دې پسې یې په ځیر ځیر کتل. دا د سبزیو لومړي دوکان ته وگرځېده، په لس سنتاوه یې غرنۍ وېلنۍ واخیست او بېرته راروانه شوه. سورپوستانو یو ځل بیا پکې سترگې خښې کړې. دې له ځانه سره وویل: «د کال په دې موسم کې د هر څه بیه اسمان ته ختلې. دا دوه تاره وحشي وېلنۍ گوره او لس سنتاوه روپۍ؟»

ماښام رانږدې وو، سورپوستانو خپل وسایل راټول کړي وو، درنې پنډې یې په شا او په باران کې روان وو. کلیسا ته چې راورسېدل، دعا یې وکړه او د نذر په توگه یې د آوېشن بوټو یوه یوه گېډۍ د کلیسا په انگړ کې کېښوده. بیا د اپانگو په لور، خپلو کورونو ته د خنداو او ټوکو ټکالو په شور کې روان شول.

خوستینا دیاس د «سوزانا سان‌خوان» کوټې ته ننوته او وېلنۍ یې په یوه وړه تاخچه کې کېښود. د کوټې پردې کلکې تړل شوې وې او د باندې رڼا یې په بشپړه توگه بنده کړې وه. په تیاره کې یوازې سیوري ښکارېدل او خوستینا په اټکل پوهېده چې سوزانا دلته ویده ده، زړه یې غوښتل چې هغه تل همداسې ویده وای. همدا شېبه یې د اسویلي غوندې یو کمزوری غږ واورېد چې د کوټې له یوه کونجه پورته شو.

- «خوستینا!»

شاوخوا ته یې وکتل، هېڅوک یې نه‌لیدل، خو ناڅاپه یې پر اوږه د یو سړي لاس احساس کړ او وروسته یې له غوږ سره په زوره وویل شول: «خوستیا! دروَځه! خپل شیان دې ټولوه، موږ نوره اړتیا درته نه‌لرو!»

ketabton.com - The Digital Library



خوستینا ټکان وخوړ او په حیرانۍ وویل: «هغه ناروغه ده او ما ته اړتیا لري.»
- «خوستینا! نوره درته اړ نه‌ده. زه دلته یم او پالنه یې په ما شوه.»
هغه د ځواب تر اورېدو پورې تم نه‌شوه، ناڅاپه یې داسې چیغه له خولې ووته چې د کروندو له خوا د راتلونکو سړیو او ښځو تر غوږو ورسېده. هغوی یو بل ته وویل: «عجیبه چیغه وه، دا غږ د انسان نه‌شي کېدلی.»
له باران سره د تندر او برېښنا غږ شو او نور ټول غږونه پکې ورک شول.
- «څه خبره ده، دا چیغه تاسې وکړه خوستینا؟»
- «سوزانا! ما چیغه ونه‌کړه، ښایي تا خوب لیدلی وي.»
- «ما مخکې هم درته ویلي وو، چې زه هېڅکله خوب نه‌وینم. ته ما ته هېڅ پام نه‌کوې، ما هېڅ خوب ونه‌کړ، تېره شپه دې پیشو له کوره بهر نه‌کړه، ځان مې له بې‌خوبۍ شخ‌پَخ دی.»
- «هغه له ما سره، زما د پښو تر څنګ ویده وه، لمده شوې وه، زړه مې پرې وسوځېد او پرې‌مې‌ښوده چې زما په کټ کې پرېوځي، خو هېڅ شور یې نه‌کاوه.»
- «شور یې نه‌کاوه، رابه‌غله، زما تر سر او پښو به یې یوه خوا او بله خوا ټوپونه وهل او په هر شي کې یې خوله وهه، لکه چې وږې وه.»
- «ماسخوتن مې ښه خواړه ورکړل او ټوله شپه زما له کټه راکوزه نه‌شوه، تا به خوب لیدلی وي.»
- «درته ومې‌ویل، ټوله شپه یې لېونۍ کړم، دا وه او له ما څخه ټوپونه! په تا به ګرانه وي، خو دا ځل چې ویدې کېدلو، وباسې به یې.»
- «سوزانا! ته خیالونه غږوې، که پېدرو پارامو راغی، ورته وایم چې نور له تا سره نه‌شم پاتې کېدای. ډېر خواخوږي خلک شته چې ما ته به کار راکړي، هغوی ستا غوندې لېونیان نه‌دي. سبا درنه ځمه او خپله پیشو هم راسره بیایم، ته پوه شه او خوبونه دې.»
- «خوستینا! ته ډېره بې‌وفا وختې. خو بل ځای نه‌شې تلای، ځکه داسې څوک به پیدا نه‌کړې چې له تا سره زما په اندازه مینه ولري.»
- «ښه، نه به ځم. زه به بیا هم ستا پالنه کوم، خو ته هم لېونتوب مه‌کوه، بیا له دې ځایه ګام نه‌اخلم.»

ketabton.com - The Digital Library



سوزانا له هغې ورځې چې نړۍ ته راغلې وه، خوستینا یې پالنه کړې وه. په غېږ کې یې اخیستې وه، په لاره تګ یې ورښودلی و او د هغې د شپېږ شپې ژوند شاهده وه.
د کېلو پر پاڼو د باران څاڅکي په زوره لګېدل او په وړو ډنډونو کې یې داسې غږ لګېده، لکه اوبه چې جوشېږي.
له ناوو څخه اوبه راتوییدلې او پر ځمکه یې ځګونه کول. ټوله شپه‌ورځ همدا حال و، د ویالو په لور اوبه شړېدلې او خلي‌ځلې یې په سر اخیستي وو.

***

سوزانا سان‌خوان سهار وختي له خوبه ویښه شوه. ورو په ځای کې راکېناسته، سترګې یې وموښلې او له کټه یې پښې راوغځولې. په پښو کې یې دروندوالی احساس کړ؛ داسې دروندوالی چې ټول بدن ته یې غځېدلی و.
- «بارتولومه، ته یې؟»
د دروازې غنګ یې تر غوږ شو، لکه څوک چې یې کوټې ته راغلی او یا وتلی وي. بیا یوازې د باران غږ پاتې شو چې د کېلو په پاڼو یې ترپهار کاوه. په سوزانا بیا خوب ورغی او دا ځل هغه وخت راویښه شوه چې د نوې ورځې رڼا د کوټې د دېوال په خښتو لګېدله. غږ یې وکړ: «خوستینا!»
خوستینا چې ځان په کمپله کې نغښتی وو، سملاسي رانښکاره شوه او ویې‌پوښتل:
- «څه خبره ده سوزانا؟»
- «پیشو بیا دلته د ننه ده.»
- «زما سودایي ملګرې!»
سر یې د سوزانا پر سینه کېښود او تر هغه یې په غېږ کې راټینګه کړه، چې هغې سر پرې راپورته کړ او ویې‌ویل: «ولې ژاړې؟ پېدرو ته به ووایم چې ته له ما سره ډېر ښه چلند کوې او دا به ورته نه‌وایم چې پیشو مې وېروي. زارۍ درته کوم، مه ژاړه!»
- «پلار دې مړ شوی. دوې شپې مخکې مړ دی. نن خلک راغلي وو، خبر یې راکړ، چې خاورو ته یې وسپاره. جسد یې نه‌شوای راوړی، ویل یې بېخي لرې یاست. اوس نو ښه یوازې شوې!»

ketabton.com - The Digital Library



سوزانا وخندل او بیا یې وویل: «نو هغه زما پلار و، چې دلته راغی او له ما سره یې خدای‌پاماني وکړه.»

***

کلونه وړاندې چې کوچنۍ نجلۍ وه، یوه ورځ یې پلار ورته وویل: «سوزانا! ښکته وښوییږه، راته ووایه چې څه وینې؟»

هغه په یوه رسۍ زنګېدله. د لاسو پوستکی یې زخم کړی و، خو هغې نه‌غوښتل چې رسۍ خوشې کړي. همدغه رسۍ له نړۍ سره د دې یوازینۍ اړیکه وه.

- «څه نه‌وینم پلاره!»

څراغ یې ورته روښانه کړ.

- «ښه ځیر شه، کېدای شي څه ووینې.»

- «هېڅ شی نه‌وینم.»

- «یو څه نوره به دې هم ښکته کړم، کله چې لاندې ورسېدې، راته ووایه.»

نجلۍ له یوه سوري څخه تېره شوې وه، پښې یې د لرګي په ورَستو تختو لګېدلې او د تختو د ماتېدلو غږ یې اورېده. تپه‌تیاره او د نمجنو خاورو بوی و. نجلۍ پښې وتپَلوې. پلار یې پرې غږ کړ:

- «یو څه نوره هم ښکته شه، څه چې مې درته ویلي، پیدا به یې کړې.»

هغې ځان نور هم ښکته وښویاوه، یوه او بله خوا یې پښې وهلې. کله چې یې تر پښو لاندې یو څه احساس کړل، له وېرې ژبه ونښته. پلار یې د څراغ رڼا پسې ورسمه کړه او په چیغه یې ورته وویل: «سوزانا! ښکته چې هر څه دي، راویې‌باسه!»

نجلۍ په دواړو لاسو یوه کوپړۍ راپورته کړه، خو کله چې د څراغ پوره رڼا پرې ولګېده، له لاسه یې ولوېده. په بنده بنده ژبه یې وویل: «د، د، د مړي، کو، کو، کوپړۍ ده!»

- «د هغې څنګ ته به حتماً نور شیان هم وي، ټول راوباسه!»

کوپړۍ ماته شوه، ژامه ترې یوې خوا ته ولوېده او کوپړۍ بلې ته ورغښته. نجلۍ لاسونه پسې واچول، د مړي نور هډوکي، د ملا تیر، پوښتۍ، د پښو دړې او د کوتو هډوکي راپیدا شول.

- «سوزانا! نور شیان هم راګوره، سکې، د سرو زرو ګوتمۍ او بل هر قېمتي شی، که لاس ته درغلل، لټوه یې.»

ketabton.com - The Digital Library



له دغې شېبې وروسته يې نور څه نه‌وريادېدل، يوازې د پلار سوړ او بې‌مينې چلند به ورياد شو او په خندا به يې وويل:

- «زه پوهېدم چې ته وې، بارتولومه!»

او غمجنې خوستينا چې د سوزانا پر سينه سر ايښی و او اوښکې يې تويولې، کله چې يې وليدل، سوزانا خاندي، سر يې راپورته کړ او مخکې له دې چې څه ووايي، د هغې خندا نوره هم لېونۍ شوه او يو بل غږ پکې پيدا شو.

د باندې لا هم باران اورېده. سورپوستان تللي وو، دوشنبه وه او د کومالا د درې پر سر وربځې راپنډې وې. تږوله ورځ باد لگېده، هماغه باد چې وربځ او باران يې راوړي وو. خو دا شپېه باران په درېدو و او باد هماغسې زگېروي وهل. په کروندو کې د غنمو وږي وچلېدل او باد ته زنگېدل. باد له زغمه وتی و، د ونو څانگې يې کړولې او ان د دېوالونو کاواکه خښتې يې ښورولې. دا حالت تر شپې روان و. په اسمان کې دلۍ دلۍ وربځې تاوېدې او تېرېدې. کله خو به دومره راټيټې شوې چې تا به ويل، پر ځمکه راپرېوتې.

سوزانا د باد تونډ غږ اورېده چې له بندې کړکۍ سره لگېده. په بستره کې پرته وه، پر تندې يې خولې ولاړې وې. په وېرېدلي غږ يې وويل:

- «پلاره! ته يې؟»

- «هو، لورې.»

هغې د خپلو جړو وېښتانو له منځه د کوټې په چت کې يو غټ سوری وليد، بيا يې خپل څنگ ته د سترگو تر کونجو وکتل او يو تت او مبهم شي ته ځير شوه. زړه ته ورته رڼا ورسره وه او د لمبې په څېر رپېدله. سوزانا له ځان سره فکر وکړ: «ستا زړه غمجن دی. پوهېږم دلته راغلې يې چې د فلورېنسيو په مرگ مې خبره کړې، خو زه له وړاندې خبره يم. اندېښنه مه‌راته کوئ. ما خپل غم په يوه خوندي ځای کې پټ کړی دی، هسې نه چې زړه دې ودرېږي!»

له بسترې پاڅېده او په نگوښېدونکو گامونو د «رېنتريا ابا» خوا ته ورغله. رېنتريا چې لاسونه لپه کړي وو او د شمعې لمبه يې له باده ژغورله، ورته وويل: «اجازه راکړه چې لږ ډاډ درکړم.»

ketabton.com - The Digital Library



رېنتريا ابا ليده چې سوزانا ورنږدې شوه او لاسونه يې د بلې شمعې له رڼا چاپېر کړل، بيا يې خپل مخ د سوځېدونکې پنبې تر لمبې ورټيټ کړ. تر هغه چې د سوځلېدلې غوښې بوی رېنتريا اړ کړ، چې شمعه په چټکۍ ترې لرې او لمبه مړه کړي. سوزانا يو ځل بيا په تياره کې شوه، په منډه يې ځان تر بسترې ورساوه او په څادر کې پټه شوه.
رېنتريا ابا وويل: «زه د خپلې لور د ډاډينې او تسلې لپاره راغلی يم.»
هغې ځواب ورکړ: «نو ابا په خدای دې سپارم، بيا مه‌راځه، زه تا ته اړتيا نه‌لرم.»
د ګامونو غږ يې واورېد چې په شا ولاړ.
- «ته ولې زما ليدو ته راځې، ته خو مړ وې؟»
رېنتريا چې دروازه پرانيسته، سوړ باد راننوت او ترڅو چې د باندې ووت، په کوټه کې د وېرې او يخنۍ احساس خپور شو.

***

يو سړی چې خلکو به ورته اېل‌تارتامودو، يعنې «تړن» ويل، مېډيا لونا ته راغی او د پېډرو پارامو پوښتنه يې کوله.
- «هغه څه کوې؟»
- «څو خخ‌خبرې ورسره ل‌ل‌لرم.»
- «هغه دلته نه‌شته.»
- «که ب‌ب‌بېرته راغی، ورته ووايه چې خبره د د د دون‌فولګور په اړه ده.»
- «زه به يې راپيدا کړم، خو ډېر وخت به ونيسي.»
- «ورته ووايه چې ډېره ض‌ض‌ضروري خبره ده.»
- «ورته وبه‌وايم.»
اېل‌تارتامودو، پرته له دې چې له آسه راښکته شي، انتظار شو. لږ څه وروسته پېډرو پارامو راغی، هغه چې «اېل‌تارتامودو» تر دې وخته هېڅ ليدلی نه‌و، ترې ويې‌پوښتل: «څوک غواړې؟»
- «زه له خاخا خان صاحب سره څو خخ‌خبرې لرم.»
- «زه په خپله خان يم، خبره کوه؟»
- «ګوګو ګوره! دد دون‌فولګور يې وژلی دی. زه ورسره وم. موږ د اوبو د وېش ځای ته په آسونو تللي وو، غوښتل مو پوه شو چې اوبه ولې راوچې شوې. هماغه وخت د څو

ketabton.com - The Digital Library



س‌س سړیو یوه ډله زموږ په خوا راغله، یوه پکې وویل: زه یې پ‌پ پېژنم، د مېډیا لونا سرکاریګر دی. هغوی ما ته څه ونه‌ویل، خو دون‌فولګور ته یې وویل چې آسه راکوز شه. ویل یې انقلابیان یو او ستاسې ځمکې غواړو. دون‌فولګور ته یې کړل: منډه کړه، خپل مالک ته ووایه چې زموږ د راتګ انتظار وباسي. هغه منډې کړې. لړَ له وېرې لړزېده او چټک نه‌شوای تلی. دوی له شا ډزې ورپسې وکړې او په داسې حال کې مړ شو چې یوه پښه یې په هوا او بله پر ځمکه وه. زه په خَخَ خپل ځای مېخ وم، نه په شا تلی شوم، نه پر مخ، تر هغو چې هوا تیاره شوه او دلته مې رامخه کړه چې تا ته احوال درکړم.»

دا غلې ناسته وه او فکر یې کاوه د شپې غږ ته یې غوږ اېښی. باد به کله چټک شو، لکه څوک چې په دښته کې چیغې وهي، کله به ورو شو او هر څه به غلي شول. دا په همدې فکرونو کې وه چې یو چا دروازه راخلاصه کړه.

د باد یوه تېزه څپه راننوته او څراغ یې مړ کړ. دې یوازې تیاره لیدله. یو تېټ غږ یې هم تر غوږ شو. د زړه درزا یې زیاته شوه. بیا یې یوې تېزې رڼا نیمکښې‌سترګې وبرېښولې. سترګې یې پرانیستې. وېښتان یې پر مخ خواره شوي وو او پر تندي یې خولې ولاړې وې.

- «ښه! نو دلته ولې ولاړ یې؟ هغوی ته ووایه چې هر وخت غواړي، زه حاضر یم، خو لومړی د لاکونساغراسیون له کروندې تېر شه، اېل‌تیلکواته پېژنې؟ هغه به هلته وي، ورته ووایه چې کار درسره لرم او هغو کسانو ته هم ووایه چې زه مو راتګ ته په تمه یم، دا کوم ډول انقالابیان دي؟

- «نه پوهېږم، ځانونه یې همداسې بلل.»

- «اېل‌تیلکواته ته ووایه چې سملاسي راشي.»

- «په سترګو خان صاحب!»

پېدرو پارامو د خپل دفتر دروازه په ځان پسې وتړله. ځان یې زوړ او ستړی احساساوه. د فولګور په اړه یې ډېره اندېښنه ونه‌کړه، یوازې دومره یې وویل: «هغه د دې نړۍ پر ځای په بلې نړۍ پورې ډېر تړلی و. هر څه چې مې له وسه کېدل، هماغه مې ورکړي وو. ښایي لا به هم ګټور وای، خو تر هغه تکړه کسان ډېر پیدا کېږي...»

ketabton.com - The Digital Library



بیا یې فکر د «سوزانا سان‌خوان» په خوا واوښت. هغه چې تل به په کوټه کې ویده وه او که به ویده هم نه‌وه، ځان به یې ویده اچولی و. ده هم په همدې کوټه کې شپه تېره کړه، دېوال ته یې ډډه وهلې وه او د شمعې په کم‌رنګه رڼا کې یې هغې ته کتل.
د هغې ناکرارې څېرې ته چې په تندي یې خولې روانې وې، له ټیکري سره لوبېدله او بالښت یې په لاسونو کې مروړه.
له هغه ورځې چې سوزانا یې له ځان سره راوستې وه، نږدې هره شپه همداسې وه. د هغې د کړاو او نه‌تمامېدونکې ناکرارۍ ننداره به یې کوله. له ځانه یې وپوښتل: «دا به تر کله دوام لري؟»
هیله یې لرله چې دغه ناوړه حالت یې ډېر ونه‌غځېږي، هېڅ شی تر ابده نه پاتې کېږي، هر شی که ډېر ژور او زورور هم وي، یوه ورځ له منځه ځي او هېرېږي.
کاشکي پوهېدلی چې سوزانا څه شی ځوروي؟ څه شی یې آرام ته نه‌پرېږدي؟ دا چې هره شپه په خوب کې غاښونه چیچي او لټ پر لټ اوړي. لکه د وجود د ننه چې ویجاړېږي.
ده فکر کاوه چې کاشکي سوزانا دومره راپه خود کې شوې وای او په دې ټکي یې سر خلاص شوی وای چې زه په نړۍ کې تر بل هر چا زیاته مینه ورسره لرم او د دې هر یاد مې په زړه کې د نورو شیانو یادونه پناه کوي.
خو سوزانا په کومه نړۍ کې ژوند کوي؟
دا هماغه راز و، چې پېدرو پارامو یې هېڅکله ځواب ونه‌موند.

***

«په نرمو شګو کې پرېوتل مې په ځان ښه لګېږي. سترګې مې پټې کړې وې، لاسونه او پښې مې د سمندر نرم باد سپارلي وو. سمندر ته مخامخ پروت وم، هغه تر افقه غځېدلی و، څپې یې تلې او راتلې او سپین ځګ یې زما تر پښو رارسېده.»
- «دغه سړی چې خبرې کوي، هماغه دی: خوان پرېسیادو! خبرې یې هېرې نه کړې، راته وایې به یې.»
لمر لا نه‌و راختلی، سمندر څپې وهلې، کله به ښکته شوې، کله پورته. غاړې ته به یې ځګونه راوړل او بیا په سولېدلیو شګو کې ورک شول. ورته ومې‌ویل: «غواړم کمیس وباسم او په سمندر کې ولامبم.»

ketabton.com - The Digital Library



هغه هم په هماغه لومړۍ ورځ راپسې راغله. په اوبو کې يې څو غوټې ووهلې، سمه ولمبېده. د سمندر غاړې ته چې شوه، له بدن يې اوبه نينېدلې. گونگټې او حشرات نه تر سترگو کېدل، يوازې څو تورمښوکي سمندريمرغان راغلل، د خر خر غږ يې خپور شو، عجيبه غږ يې و، لکه څوک چې په خوب کې خرَهار کوي. لمر چې راوخوت. هغه زما خوا ته رانږدې شوه، د يوازېتوب احساس يې کاوه، که څه هم زه ورسره وم. هماغه وخت يې راته وويل: «ته د هغو مرغانو په څېر يې. په شپه کې يو بل ته نږدې وو، په يوه بالښت سر ږدو او په يوه څادر کې ويدېږو.»

هغه لاړه، زه بېرته سمندر ته نږدې شوم، اوبه مې د پښو ښنگرو ته راپورته شوې او ريگونه يې ترې يووړل. وروسته نور هم ورمخکې شوم، تر گونډو او ورنو پورې په اوبو کې ډوب شوم. ما د لامبو صفتونه کول. خو هغه مې په خبرو نه‌پوهېده.

بل سهار بيا سمندر ته راغلم، لامبو ته مې زړه کېده او ځان مې څپو ته وسپاره.

د ماښام په رارسېدو، څو کسان راښکاره شول. شاوخوا شل تنه به وو. له ټولو سره وسلې وې. ټوپک او د مرميو چانټې يې له لرې ښکارېدې.

پېدرو پارامو ماښامنۍ ډوډۍ ته وبلل. هغوی بې له دې چې کومه خبره وکړي او خپلې درنې خولۍ او چانټې له ځانه کوزې کړي ، د مېز شا ته کېناستل. يوازينی غږ چې له دوی سره لگېده، د چاکلېټو د پوچولو او د چايو د غوړپولو غږ و. وروسته چې يې د لوبيا لوښي څټل هم خبرې يې نه سره کولې.

پېدرو پارامو يې ننداره کوله او يو سړی يې هم پکې نه‌پېژانده. اېل‌تيلکواته يې نېغ تر شا، په تياره کې ولاړ و.

پېدرو پارامو چې وليدل، هغوی خوراک بس کړی، غاړه يې تازه کړه او ورته ويې‌ويل: «ښاغلو! نور څه خو به نه‌غواړئ؟»

له هغوی څخه يوه لاس وخوځاوه او ويې‌ويل: «تاسې د دغه ځای مالک...»

بل کس يې خبره پرې کړه: «زه خبرې کوم!»

پېدرو پارامو وويل: «ښه، نوره څه سپارښتنه لرئ؟»

- «لکه څنگه چې وينې، موږ وسله را اخيستې ده.»

- «او نور!»

- «او نور هېڅ! همدا بس نه‌ده.»

ketabton.com - The Digital Library



- «نو ولې مو دا کار کړی؟»
- «ځکه نورو هم دا کار کړی، ته خبر نه يې؟ لږ صبر وکړه چې زموږ لاربښوونې راورسېږي، بيا به درته ووايو چې ولې مو وسله را اخيستې ده. اوس موږ همدلته يو.»
يوه بل کس وويل: «زه پوهېږم او ستاسې د ولې ځواب درکولی شم. په خلاصو غوږو يې واوره! موږ د حکومت او ستاسو په څېر خلکو په ضد پاڅون کړی، ځکه نور مو د صبر کاسه ډکه ده. د حکومت هر سړی غل او فاسد دی او تاسې هم د همدغو غلو او داړه‌مارو ملګري ياست. موږ د دغې فاسدې کړۍ په اړه خبرې نه‌کوو، نور به مرمۍ خبرې کوي!»
پېدرو پارامو وويل: «تاسې د پاڅون لپاره څومره پيسې غواړئ؟ ښايي مرسته درسره وکړای شم.»
- «سړي معقوله خبره وکړه، پرسيورانسيو! ته دې ژبه درلنډه کړه. موږ ته يو شتمن سړی په‌کار دی چې زموږ د وسلو او پيسو غم وخوري او تر دې ښاغلي به ښه څوک وي؟ کاسيلو! څومره پيسې په‌کار دي؟»
- «پرېږدئ خپله ووايي، چې څومره راکولی شي.»
- «په څه غرتو پَرتو سر يئ! خپلو خولو ته مو پام دی؟ موږ ولې راغلي يو؟ بايد هر څه ترې يوسو. ان څه يې چې خوړلي، له خېټې يې راوباسو.»
- «لږ يې سړه خوره! پرسيورانيسو! له ترخو سره نه، له خوږو سره مچان ډېر نيول کېږي، له ده سره بل جوړجاړی کولی شو. کاسيلو! ته څه پکې وايې؟»
- «ښه، همدا اوس چې سرسري حساب کوم، شل‌زره پېزو به د پيل لپاره بدې نه‌وي. تاسې څه وايئ؟ څوک پوهېږي؟ ښايي زموږ دغه ښاغلی چې دومره په مينه مرسته کول غواړي، يو څه نورې هم راکړي. نو راځئ پنځوس‌زره ووايو. څنګه درته ښکاري؟»
پدرو پارامو ورته وويل: «زه به سل‌زره درکړم. تاسې څو تنه ياست؟»
- «زه به ووايم، درې سوه تنه.»
- «سمه ده، زه به ستاسې د ډلې د ملاتړ لپاره درې سوه نور کسان هم درکړم. يوه اونۍ وخت راکړئ، هم به پيسې درته چمتو کړم او هم درې سوه کسان. پيسې دې تاسې ته ډالۍ وي، خو کسان په پور درکوم، کله چې مو کارونه پرې بشپړ کړل، بېرته يې راولېږئ، خوښه مو ده؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «ښېخي مو خوښه ده.»
- «نو ښاغلو! تر يوې اونۍ پورې مو په خدای سپارم، بريالي اوسئ.»
وروستي راوانېدونکي سړي وويل: «سمه ده، خو دا په ياد لره، که په خپله خبره ونه درېدې، نو د پرسيورانسيو بدې دې وګټله او هغه زه يم!»
پېدرو پارامو هغه ته لاس ورکړ او مخه‌ښه يې ورته وويله. هغوی چې ولاړل، اېل تيلکواته ته يې وکتل او ورته ويې‌ويل: «ستا په اند په دوی کې مشر څوک و؟»
- «زما په اند ښايي هغه چاغ خېټور سړی، چې د دوی تر منځ ولاړ و او ان سر يې هم پورته نه‌کړ. زما زړه راته وايي چې هماغه يې مشر و، زه ډېر لږ تېروځم.»
- «دا ځل تېروتی يې. داماسيو، ستاسې مشر دی. که نه غواړې په دې انقلاب کې ښکېل شې؟»
- «پرې وربه‌شو، يا خرپ يا ترپ.»
- «نو زما نصيحت ته اړ نه‌يې. درې سوه داسې کسان پيدا کړه چې پرې باور لرې، له دغو باغيانو سره يو ځای شه او ورته ووايه چې دا د پېدرو کسان دي، پاتې چارې په خپله سمبال کړه.»
- «او پيسې به څنګه شي؟ هغه به هم ورسپارو؟»
- «هر سړی ته به لس پېزو درکړم، هغوی به ډېرې اړينې خرڅې پوره کړي او د نورو پيسو په اړه ورته ووايه چې هغه يې هم‌الته درته ساتلې دي. په داسې وخت کې دومره ډېرې پيسې له ځانه سره ګرځول مناسب کار نه‌دی. رښتيا هغه کوچنۍ کرونده چې پورتا دې‌پېدار نومېږي، څنګه درته ښکاري؟ هغه دې له همدې شېبې څخه تا ته مبارکه وي. په کومالا کې خپل وکيل، ګېراردو تروخيو، ته پيغام استوم چې هغه ملکيت ستا په نامه کړي، نظر دې څه دی، داماسيو؟»
- «مننه، خان صاحب! که دې دا ځمکه راکړې وای يا نه، ما دا مسئوليت په خوښۍ ترسره کاوه. ته خو ما پېژنې، په هر حال له تا څخه مننداوی يم. زما ښځې ته به يو څه پاتې شي، زه خو هسې هم د شور او شر سړی يم.»
- «غم مه‌کوه، هغه ځای ته زما څو غواوې هم درسره بوځه، چې غوړي دې لا غوړ شي.»
- «که زه براهمن نسل غواوې پکې خوښې کړم، ستونزه خو به نه‌وي؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «هر ډول چې دې خوښېږي، لاس دې آزاد دی، ستا ښځه یې پالنه کولی شي. اوس به خپلې اصلي خبرې ته راشو؛ هڅه وکړه زما له ځمکو ډېر لرې نهشې، که څوک ورتلل چې هلته زموږ کسان موجود وي او هر کله چې دې وخت پیدا کاوه، زما لیدو ته راځه.»

- «په سترگو خان صاحب!»

***

- «خوان پرېسیادو! هغه ښځه څه وایي؟»

- «وایي، پښې یې د ډبرو په شان یخې او کرختې وې، له دې کبله یې د سړي پښو ته ورنږدې کړې، چې تودې شي، خو له هغو څخه دومره تودې شوې لکه ډوډۍ چې په تنور کې پخېږي. وایي احساس مې کاوه چې یوه ناپایه ځای ته ورلوېږم، هوایي وم، ځان مې شلېل و، خو کله چې مې هغه سړي ته پام شو چې مړ دی. زړه مې څړیکه وکړه.»

- «د چا په اړه خبرې کوي؟»

- «ښايي کوم داسې کس وي چې د دې په مخ کې مړ شوی وي.»

- «خو دا به څوک وي؟»

- «نه پوهېږم، وایي هغه شپه چې سړی ډېر وځنډېد، احساس یې کاوه چې ډېر ناوخته، ان سهار مهال به راشي، ځکه د پښو یې سړه تبه وه، وروسته یې په څه کې ورنغښتې وې، لکه یو څوک چې راغلی وي او دا کار یې کړی وي، خو کله چې ویښه شوې وه، لیدلي یې وو چې پښې یې د هماغې ورځپاڼې لاندې دي چې د سړي د راتلو په انتظار کې یې لوستله. پر دې خوب راغلی و، ورځپاڼه ترې ښکته لوېدلې وه، خو کله چې راغلل او د هغه د مرگ خبر یې ورته راووړ، په پښو یې لا هم هماغه ورځپاڼه پرته وه.»

- «فکر کوم تابوت یې مات شوی، د تختو د غچا غږ یې اورم.»

- «زه یې هم اورم.»

***

ketabton.com - The Digital Library



هغه شپه یې بیا خوب ولید. ولې دومره ډېرې خاطرې په دومر زور او شور بیا راژوندۍ کېدلې؟ ولې یوازې د هغه د مرګ خبره نه‌وه؟ ولې د تېر وخت دومره نرمه او دردناکه انګازه ورسره ګرځېدله؟

- «مېرمنې! فلورېنسیو مړی شوی دی!»

هغه سړی څومره غټ و! څومره دنګ! او غږ یې څومره وچ او چغن و. د انسان غوږونه یې خوړل. هغې یې څېره په روښانه بڼه نه‌شوای لیدی، ښایي د هغه څېره یې له یاده وتلې وه. داسې ښکارېده لکه د دوی تر منځ چې باران ورېږي.

«هغه ما ته څه ویلي وو؟ فلورېنسیو؟ کوم فلورېنسیو؟ زما فلورېنسیو. اوه! ولې مې ونه‌ژړل؟ ولې مې ځان په اوښکو کې ډوب نه کړ؟ چې خپل غم مې مینځلای وای! اې خدایه! تا ته مې زارۍ وکړې چې هغه وساتې، ما له تا همدا غوښتل، خو ته د روحونو پروا لرې او ما د هغه بدن غوښت.»

سوزانا سان‌خوان په خوب کې اوښته را اوښته. پېدرو پارامو د دروازې تر څنګ ولاړ و، هغې ته یې کتل او د هغې د نوي خوب شېبې یې شمارلې. څراغ ټپ‌ټپ کاوه، لمبه یې کمېدله او بالاخره مړه شوه.

که ښځه یوازې له کوم درده ناکراره وای او په دغه سترې او نه‌ختمېدونکي خوب کې راښکېل نه‌وای، نو ښایي پېدرو پارامو یو تسل ورته موندلی وای. خو له هغه یې وار او پار خطا کړی و، هک حیران ولاړ و او کوچنی حرکت یې هم څاره. زړه ته یې دا اندېښنه ورلوېدلې وه، که سوزانا د څراغ د کمزروې لمبې په څېر مړه شي، دی به څه کوي؟

وروسته له کوټې ووت او دروازه یې ورو پورې کړه. د باندې یخه هوا ورباندې ولګېده او څو شېبې یې د سوزانا اندېښنه له ذهنه ووته.

سوزانا تر لمر ختو لږ وړاندې راویښه شوه، په خوَلو لمده وه، درنه کمپله یې غولې ته وغورځوله. سهارنۍ هوا کوټه یخه کړې وه. خولې یې په وچېدو شوې او بېرته خوب یووړه.

څو ساعته وروسته رېنتریا ابا راغی او دا یې ولیده چې بې‌کمپلې ویده ده.

***

- «دون‌پېدرو! خبر یې؟ هغوی اېل‌تیلکواته ته ماتې ورکړې ده!»

ketabton.com - The Digital Library



- «دومره پوه شوم چې تېره شپه زياته نښته شوې، د ډزو غږ مې واورېد، خو نور معلومات نه‌لرم، ته چا خبر کړې ګېراردو؟»
- «ځينې ټپيان کومالا ته راورسېدل، زما مېرمنې د هغوی ټپونه وروتړل. هغوی ويل چې د داماسيو کسان يو او ډېر ووژل شوو. د دښمنانو د مشر نوم يې، ويلا، وښود.»
- «ګېراردو! زه خو سختې ورځې وينم، ته څه پکې وايې؟»
- «زه ځم دون‌پېدرو! سايولا ته تښتم او هلته له سره ژوند پيلوم.»
- «تاسې وکيلان څه غم لرئ! خپله شتمني هر ځای ته وړی شئ، غم د ځمکو د څښتنو دی.»
- «باور وکړه دون‌پېدرو! موږ هم ډېرې لانجې لرو او ستا په شان کسان پرېښودل هم ډېر سخت دي. زه به دې مينه او خواخوږي تل يادوم، خو اوس دې اسناد چېرته کېږدم؟»
- «دلته يې مه‌پرېږده، له ځان سره يې يوسه. له هغو ځايه مې هم چارې سمبالولی شې.»
- «ستا له باوره منندوی يم. د زړه له تله وايم. خو ښايي زه نور دې کار ته دوام ورنه‌شم کړی. ځينې بې‌نظمۍ شته... داسې به ووايو، چې له تا پرته به بل هېڅوک پرې خبر نه‌وي. که ستاسې اسناد د ناسمو کسانو لاس ته ولوېږي، ښايي ناوړه ګټه ترې واخيستل شي، تر ټولو ښه پرېکړه دا ده چې تاسې يې په خپله درسره وساتئ.»
- «خو ته پوهېږې ګېراردو! همدلته يې پرېږده، زه به يې وسوځوم. که اسناد وي يا نه وي، څوک به له ما سره زما د ملکيت په اړه بحث کوي؟»
- «هېڅوک، د بل چا يې څه؟ اوس ما ته اجازه راکړه.»
- «خدای دې مل شه، ګېراردو!»
- «څه دې وويل؟»
- «ويل مې، خدای دې مل شه!»
وکيل ګېراردو سوکه سوکه روان شو، هغه بوډا و، خو دومره هم نه‌و بوډا شوی چې داسې درانه او زړه‌نازړه ګامونه يې اخيستل.

ketabton.com - The Digital Library



واقعیت دا و، چې د کومې ډالۍ تمه یې لرله. ده د پېدرو پارامو د پلار«دون‌لوکاس» خدمت کړی و، وروسته یې له پېدرو پارامو او د هغه له زوی «میگل‌پارامو» سره کلونه کلونه کار کړی و. ده خپلې ښځې ته ویلي وو:

- «زه ځم چې له دون‌پېدرو سره خدای‌پاماني وکړم، ډاډمن یم چې زما د کلونو کلونو خدمت په بدل کې به څه پیسې راکړي. په هغو پیسو به په سایولا کې ځان ته کور او کار جوړ کړو او د عمر تر پایه به آرام او هوسا ژوند وکړو.»

ښځه یې شکمنه وه، نه پوهېده چې مېړه یې ولې دومره ډاډمن دی؟ ایا پېدرو به مرسته ورسره وکړي او که به یې تش لاس رخصت کړي؟ هغې ورته وویل:

- «په سایولا کې به هم د زړه وینې خورې، فکر نه‌کوم چې هغه دې لاسنیوی وکړي.»

- «ته ولې داسې وایې؟»

- «زما اټکل همدا دی.»

هغه د دروازې په لور روان شو او په ذهن کې یې گرځېدل؛ که ناڅاپه دون‌پېدرو راغږ کړي او ووایي:

- «گوره گېراردو! زه په خپلو کارونو کې دومره ډوب یم چې سم فکر مې نه‌شوای کولای. ته پوهېږې چې زه دې دومره پوروړی یم چې په پیسو یې نه‌شم ادا کولی. هیله کوم، دغه کوچنۍ ډالۍ ومنې!»

خو دا غږ د خیال یوه څپه وه. هغه له دروازې ووت، آس یې له مړوي راخلاص کړ. پښه یې پرې واړوله او ورو ورو د کومالا په لور روان شو. په ټوله لاره یې دا یو فکر په ذهن کې و؛ که څوک راپسې چیغې وهي چې راوگرځه. کله چې یې ولیدل، چې مېدیا لونا له سترگو پناه شوې، له ځان سره یې وویل: «که مې پور غوښتی، څومره شرم به وای!»

بیا یې په ذهن کې دا خبره وگرځېده:

«دون‌پېدرو! بېرته راغلم، څه چې مې ویل، ترسره نه‌شول، غواړم ستا چارو ته بیا اوږه ورکړم.»

د دون‌پېدرو په هغه دفتر کې ناست و، چې یوازې نیم ساعت مخکې ترې وتلی و.

- «ښه، گېراردو! دا دي اسناد، هماغلته پراته دي چې تا پرېښي وو.»

- «یوه بله خبره هم غواړم... زما د لگښتونو لپاره... زما تگ... د حق‌الزحمې له حسابه یو څه مخکې ورکړه... او که مناسبه وي، لږ اضافه هم.»

ketabton.com - The Digital Library



- «پینځه سوه؟»
- «کېدای شي لږ... لږ یې زیات کړئ.»
- «زر بس دي؟»
- «پینځه څنګه؟»
- «ولې پینځه؟ دومره پیسې له کومه شي؟ ته خبر یې، زما ټوله شتمني په ځمکه او څارویو بنده ده. زر درواخله، همدومره بس دي.»

ګېراردو چوپ او فکر کې ډوب ناست و، سر یې سینې ته ټیټ کړی و. د پېدرو پارامو د پیسو شمارلو غږ یې اورېده چې د مېز پر سر یې ټکا ختله. د دون‌لوکاس په اړه یې فکر کاوه، هغه کس چې تل به یې د ده مزدوري ځنډوله. بیا یې دون‌پېدرو رایاد شو، چې نوي کارونه یې پیل کړي وو. بیا میګل‌پارامو، هغه هلک څومره ستونزې او لانجې ورته جوړولې... لږ تر لږه یې پنځلس ځله له زندانه راخلاص کړی و، تر دې هم زیات... یو وخت یې چې یو سړی وواژه، نوم یې څه و؟ هغوی د وژل شوي کس په لاس کې توپانچه اېښې وه، چې هغه سره توپانچه ونښیي. میګل سخت وېرېدلی و، که څه هم وروسته به یې په دې پېښه پورې خندل. که قضیه قانوني پړاو ته تللې وای، یوازې هماغه یوه پېښه به دون‌پېدرو ته څومره ګرانه پرېوتې وای؟ او د هغو ټولو جنسي تېریو کیسې؟ څومره نادودې؟ څومره ناخوالې؟...

تر سهاره لا ډېر وخت پاتې و. په اسمان کې ستوري ځلېدل. سپوږمۍ لږه راختلې وه. دا هغه شپې وې لا پکې سپوږمۍ بشپړه نه‌ښکارېدله او نه د چا پام وراوښت. یو څه وخت به په اسمان کې ښکارېدله او وروسته به د غرونو شا ته پناه شوه.

په لرې تیاره کې غواګانو رمباړې وهلې. دامیانا سیسنېروس وویل: «دغه څاروي هېڅکله نه‌ویده کېږي، د شیطان په څېر دي چې تل روحونه غولوي او دوزخ ته یې برابروي.»

هغې پر کټ اړخ بدل کړ او مخ یې دېوال ته واړاوه. همدا شېبه یې د ټک ټک غږ واورېد. ساه یې ونیوله او سترګې یې وغړوې. بیا یې درې چټک ټکان واورېدل، لکه څوک چې دېوال راډبوي، د هغې تر څنګ نه‌وو، لږ لرې، په هاغه دېوال ګوزارونه کېدل.

ketabton.com - The Digital Library



- «خدايه خير! سان پاسکوال تل همدغسې دروازه ټکوي. يو ځل، دوه ځله، درې ځله. سم لکه د خپل مرګ خبر چې راکوي.»
څو ورځې کېدلې چې د روماتيزم د ناروغۍ له کبله کليسا ته نه‌وه تللې. له دې امله ډېره اندېښمنه نه‌وه، خو لږ وېرېدلې وه او غوښتل يې معلومات تر لاسه کړي.
له کټه راپاڅېده، هېڅ کړپه‌کړوپ يې ونه‌کړ او له کړکۍ يې د باندې وکتل. کروندې تورې ښکارېدې، خو بيا يې هم دا سيمه دومره ښه پېژندله چې ان په تياره کې ورته معلومېدل چې پېدرو پارامو د مارګاريتا تر کړکۍ ورګوري.
داميانا وويل: «توبه توبه! يو خو دون‌پېدرو نه زوړ شو او نه سوړ شو! ولې هر څه په پټه کوي؟ که يې ما ته هسې اشاره کړې وای، ما به مارګاريتا ته ويلي وای چې خان دې غواړي. دومره رسوايي ته څه اړتيا وه؟»
بيا يې د غواګانو رمباړې واورېدې، کړکۍ يې وتړله، بېرته خپل کټ ته لاړه، کمپله يې پر ځان راکش کړه او په دې فکر کې ډوبه شوه چې د مارګاريتا په زړه به څه تېرېږي؟
لږ شېبه وروسته بيا راپاڅېده، ګرمي يې وشوه، غوښتل يې کميس وباسي چې غږ يې واورېد: «داميانا!»
هر څه هماغه وخت ته ستانه شول، چې دا پکې ځوانه نجلۍ وه.
- «داميانا! دروازه راخلاصه کړه!»
زړه يې داسې درزېده، لکه د سينې د هډوکو لاندې چې يې کومه څونګښه ټوپونه وهي:
- «د څه لپاره خان صاحب؟»
- «دوازه خلاصه کړه!»
- «زه خو ويده يم مشره!»
بيا يې واورېدل چې دون‌پېدرو په اوږده دهلېز کې په درنو ګامونو روان شو. لکه تل چې به د غوسې پر وخت روان و او پوندې به يې په زوره زوره اېښودلې.
بله شپه، د دې لپاره چې هغه بيا غوسه نه‌کړي، دروازه يې نيمکښه پرېښوده او بې کمپلې په کټ ويده شوه، خو دون‌پېدرو بيا هېڅکله رانه‌غی.

ketabton.com - The Digital Library



اوس چې له کلونو وروسته، هغه د مېډیا لونا د ټولو خدمتګارانو مشره وه، بوډۍ شوې وه او د خلکو درناوی یې ترلاسه کړی و، خو لا هم هغه شپه وریادېده، چې پېدرو غږ پرې کړی و: «دامیانا! دروازه خلاصه کړه.»

په همدې فکرونو کې وه چې بیا یې د ټک ټک غږ واورېد، خو دا ځل یې غټه دروازه ډبوله، داسې لکه څوک چې یې د ټوپک په کونداغ ډبوي. پاڅېده، له کړکۍ یې وکتل، تپه‌تیاره وه، هېڅ شی نه‌ښکارېدل، داسې یې احساسوله، لکه تر باران وروسته چې چنجیان راوځي او د ځمکې پر مخ غونځېږې. یو عجیب فکر ورته پیدا شو، لکه د ډېرو سړیو د بدن تودوخه چې احساسوي. بیا یې د ښنګښو غږونه واورېدل، بیا د چېچټو غږ شو، بیا د باران غږ.

وروسته بیا دروازه په زوره زوره وټکېده. د څراغ رڼا شوه او د څو سړیو په مخونو ولګېده، بیا څراغ مړ شو.

دامیانا سیسنېروس کړکۍ وتړه او ویې‌ویل: «دا کار په ما پورې هېڅ تړاو نه‌لري.»

***

- «داماسیو! اورېدلي مې دي چې درنه ماتې دې خوړلې ده، ولې داسې وشول؟»

- «مشره! دا خبره سمه نه‌ده. موږ رک او روغ یو، خپل اووه سوه کسان راسره دي. یو څو زاړه ملګري له دې سترې شوي چې هېڅ جګړه ونه‌شوه او وخت په بې‌کارۍ تېر شو. له همدې کبله یې په یوه ډله کسانو ډزې وکړې او وروسته معلومه شوه چې هغوی د ویلا ډله وه.»

- «دوی له کومې خوا راغلي وو؟»

- «له شماله، هر څه چې په مخه ورتلل، ویجاړول یې. دومره پیاوړي وو چې څوک ورته مخ کې نه‌شوای درېدلی.»

- «نو ولې له هغو سره نه یو ځای کېدلی؟ ما مخکې درته ویلي وو چې له هغه چا سره یو ځای کېږو چې بریالي کېږي.»

- «دا کار مې کړی.»

- «نو بیا ولې راغلی یې؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «پیسو ته اړتیا وه. یوازې غوښه خورو او بل شی نه‌پیدا کېږي، ځوک پور هم نه‌راکوي. له همدې امله راغلم چې ته یو څه راته واخلې او د چا د مال غلا ته اړ نه‌شو. که پردي خلک وای، څه خبره نه‌وه، خو هلته ټول خپلوان او پېژندوی کسان دي. یوازې څه پیسې غواړو، چې لږ سابه‌مابه واخلو، له غوښې تر پوزې راغلي یو. دا خبره زه د ځان لپاره نه‌کوم، د ټولو په استازیتوب یې کوم.»

- «خوشحاله شوم چې د خپلو کسانو خیال ساتې، خو د اړتیا وړ شیانو د پیدا کولو لپاره نورې لارې‌چارې هم شته. ما لا مخکې هم پیسې درکړې وې، خو دومره پیسې به له کومه کېږي؟ او تاسې ولې په کونتلا برید نه‌کوئ؟ د دې انقلاب ګټه څه ده؟ دا کار په خیرات نه‌کېږي. ښه ده خپل کور ته لاړ شې او له خپلې ښځې سره د چرګانو په ساتلو کې مرسته وکړې. ګیلې‌مانې پرېږده! پر کوم ښارګوټي یرغل وکړه! ځان په خطر کې واچوه او بیا وګوره چې ځومره خلک دې مرستې ته رادانګي؟ کونتلا د شتمنو خلکو سیمه ده، ویې وېروه، تنګ یې کړه او ورته ووایه چې انقلاب ته پیسې راکړئ...»

- «ته چې څه وایې، هماغسې به وکړم. ستاسې پندونه او نصیحتونه تل ګټور دي.»

- «ښه، نو ګټه ترې واخلئ.»

پېډرو پارامو ځوانان لیدل چې پر آسونو سپاره او روان شول. د آسونو د پښو ترپهار یې اورېده چې په تیاره کې پناه کېدل. کله به د خولو بوی باد راووړ، کله به د سپرو د پښو دوړې راغلې، خو کله چې یې د شنو مچیانو د وزرو غږ واورېد، پوه شو چې ټول کسان تللي دي.

یوازې دی پاتې و، داسې احساس یې کاوه لکه یوه ستره او زړه ونه چې په خپل ځای مېخ وي او د خپل ځان د ننه د ورستېدو او شوړېدو په حال کې وي.

بیا د سوزانا په فکر کې لاړ، بیا د نورو ښځو. له ځان سره یې خبرې وکړې، لکه سوزانا ته چې غږېږي، هغې ښځې ته چې نوره په نړۍ کې نه‌وه.

***

ketabton.com - The Digital Library



سهار چې لمر راخېژي، هر څه آرام او بې‌شره شوره وي. سرې د ځمکې د زنګ‌وهلو څرخونو غږونه اورېدلی شي. د دغې زړې او لرغونې نړۍ د خوځېدلو غږ، چې تیاره له ځانه شړي او ورځې ته هرکلی وایي.

- «خوستینا! دا رښتیا ده چې شپه له ګناهونو ډکه وي؟»

- «هو، سوزانا.»

- «نو دا خبره بېخي رښتیا ده.»

- «بېخي رښتیا.»

- «ته څه فکر کوې، ژوند څه دی؟ له ګناه پرته څه کېدای شي؟ نه یې اورې؟ ځمکه څنګه غچېږي؟»

- «نه! سوزانا، څه نه‌اورم. زه ستا په څېر نېکمرغه نه‌یم.»

- «زه چې څه اورم، که یې ته واورې، حیرانه به شي.»

خوستینا د کوټې په پاکولو بوخته شوه. لمده ټوټه یې بیا بیا په غولي راتېره کړه. له مات شوي ګلدان څخه یې اوبه پاکې کړې، ګلان یې راټول کړل او د ګلدان ماتې ټوټې یې په سطل کې واچولې.

- «خوستینا! په ټول عمر کې دې څو مرغان وژلي دي؟»

- «ډېر، بېخي ډېر.»

- «نو زړه دې پرې نه‌دی سوځېدلی؟»

- «ولې نه.»

- «نو له مرګه نه‌وېرېدې؟»

- «نه! زه مرګ ته په تمه یم.»

- «که داسې وي، رابه‌شي، اندېښنه مه‌کوه.»

سوزانا په کټ کې ناسته او بالښت ته یې ډډه وهلې وه. په ناکرارو سترګو یې د کوټې هر کونج ته کتل. خپل لاسونه یې په نس داسې نیولي وو، لکه د یوې ګران‌بیې مرغلرې ساتنه چې کوي. د سر له پاسه یې لکه مچ چې بونېږي، د وز وز غږ اورېده. وروسته د څاه د غرغرې خرچَهار شو او داسې غږ ورسره ګډ شو، لکه خلک چې له خوبه پاڅېږي.

- «خوستینا! په دوزخ باور لرې؟»

ketabton.com - The Digital Library



- «هو، سوزانا! په جنت یې هم لرم.»
- «زه یوازې په دوزخ باور لرم.»
سترګې یې پټې کړې.
کله چې خوستینا له کوټې ووتله، سوزانا ویده شوه. د باندې لمر ځلېده، خوستینا په دهلیز کې له پېدرو پارامو سره مخ شوه.
- «د مېرمنې څه حال دی؟»
- «ښه نه‌ده.»
- «له څه شکایت کوي؟»
- «له هېڅ شي. لانجه همدا ده، وایي مړې هېڅکله شکایت نه‌کوي.»
- «رېنتریا ابا ورته راغلی نه‌دی ؟»
- «تېره شپه راغی چې د هغې اعتراف واوري. نن باید د عشا مراسم ترسره وای، خو ښایي خدای ته منظوره نه‌وي، ځکه رېنتریا ابا نه‌ښکاري. هغه ویل سهار وختي راځي، خو دا دی لمر هسک راغلی او د هغه پته نه‌شته. وېرېږم د هغه رحمت به نه‌وي.»
- «د چا رحمت؟»
- «د خدای رحمت.»
- «بې‌ځایه خبرې مه‌کوه خوستینا!»
- «هر ډول چې تاسې ګڼئ، ښاغلیه!»
پېدرو پارامو دروازه پرانیسته او د هغې سر ته ودرېد، د رڼا یوه وړانګه د سوزانا پر مخ ولګېده. د هغې سترګې یې ولیدې چې له درده یې کلکې پټې کړې وې؛ شونډې یې لمدې او سره وېرې وې، ټیکری یې د بې‌سېکه لاسونو شا ته پروت و او بدن یې له ډېرو څړیکو کوږ ووږ ښکارېده.
پېدرو پر کټ لاس وروغځاوه او ټیکری یې پرې راکش کړ. د هغې بدن له ډېره درده لړزېده. بیا یې د هغې غوږ ته خوله نږدې کړه او په نرمه لهجه یې ورته وویل: «سوزانا!» بیا یې تکرار کړه: «سوزانا!»
دروازه پرانیستل شوه او رېنتریا ابا رانوت او ویې‌ویل:
- «لورې! راغلم چې د رباني عشا مراسم ترسره کړم.»

ketabton.com - The Digital Library



هغه منتظر ولاړ و، چې پېدرو پارامو، سوزانا راکښوله او بالښتونه یې د کټ د سر تختې ته برابر کړل. سوزانا لا نیمه ویده وه، ژبه یې راوایسته او مقدسه مړۍ یې تېره کړه. بیا یې وویل: «فلورېنسیو! موږ یوه ښکلې ورځ تېره کړه.» او وروسته د خپلو جامو په خوا ورړنګه شوه.

***

- «دونیا فوستا! هاغه کړکۍ وینې؟ هاغه په مېډیا لونا کې چې تل پکې څراغ بل وي؟»
- «نه! آنخېلس، زه هېڅ کړکۍ نه‌وینم.»
- «سبب یې دا دی چې اوس تیاره ده. ایا فکر نه‌کوې چې په مېډیا لونا کې یوه پېښه رامنځ ته شوې؟ له دریو کلونو راهیسې هره شپه، پرله‌پسې په هغې کړکۍ کې څراغ بَل و. هغه کسان چې هلته تللي، وایي دا د پېدرو پارامو د ښځې کوټه ده. هغه خوارکۍ لېونۍ ده، له تیارې وېرېږي او ګوره، اوس څراغ مړ شوی، دا یوه بده نښه نه‌ده؟»
- «شاید مړه شوې وي، له ډېرې مودې راهیسې سخته ناروغه ده. وایي خلک نه پېژني او له ځان سره خبرې کوي. دون‌پېدرو په دغه واده ښومره وځورېد؟»
- «همدغسې ده. د پېدرو دې خدای چاره وکړي.»
- «ورک یې کړه، همدا سزا هم پرې کمه ده.»
- «ګوره! کړکۍ لا هم تیاره ده.»
- «کړکۍ مړکۍ پرېږده، ځه خپلو کورونو ته چې ویدې شو. زموږ غوندې بوډۍ ښځې او بیا په کوڅو ګرځېدل، ښه خبره نه‌ده.»
دواړې چې شاوخوا یوولس بجې له کلیسا راوتلې وې، د دېوالونو په سیوري کې ورکې شوې. هغوی د یوه سړي سیوری لیدلی و، چې د مېډیا لونا په لور روان و.
- «ګوره، دونیا فوستا! هغه سړی د ډاکټر والنسیا غوندې نه‌دی؟ »
- «هغسې ښکاري، خو زما سترګې دومره کمزورې شوې، که مخامخ هم راته ودرېږي، سم یې نه‌شم پېژندلی.»
- «که دې یاد وي، هغه تل سپین پتلون او تور کوټ اغوست. په مېډیا لونا کې هرومرو یوه بده پېښه شوې ده، که‌نه دومره په بېړه نه‌تېرېده.»

ketabton.com - The Digital Library



- «ستا اټکل سم دی، حتماً یوه جدي موضوع شته. زړه مې غواړي، رېنتریا ابا ته ورشم او ورته ووایم چې هلته ورشي، هسې نه هغه لېونی بې‌اعترافه مړه شوې وي.»
- «خدای دې داسې نه‌کړي. په دې نړۍ کې هغې ځومره کړاوونه ولیدل او بیا چې له مذهبي مراسمو پرته بلې نړۍ ته لاړه شي، دا به ډېره بده وي. عارفان وایي، لېونیان له ګناه پاک وي او اعتراف ته اړتیا نه‌لري. د دوی روح سپېڅلی وي او په دغه راز یوازې خدای تعالی پوهېږي.»
- «وګوره، بیا په کړکۍ کې څراغ بَل شو. خدای دې وکړي هر څه سم شي. د نوي کال لپاره مو ځومره خواري کړې ده. کلیسا مو راپاکه او رنګ کړه. نو که اوس څوک مړه شي، زموږ کارونه به ګډوډ کړي. بیا که د دون‌پېدرو کره لانجه شوه، زموږ هر څه مردار درواخله.»
- «دونیا فوستا! تاسې تل بد اټکلونه کوئ. له ما یې زده کړه. هر څه خدای ته سپاره. یوازې دعا کوه، باورمنه یم چې تر سهاره به هېڅ بده پېښه ونه‌شي.»
- «باور وکړه آنخېلس! ستا خبرې ما ته ډاډ رابښي. زه یې له ځان سره تکراروم او ویدېږم. وایي کله چې یو څوک ویده وي، فکرونه یې نېغ جنت ته ځي، هیله‌منه یم، زما فکرونه هم تر هغه ځایه ورسېږي، ښه شپه درته غواړم!»
- «ستا هم شپه نېکمرغه!»

دواړې بوډیانې خپلو کورونو ته ولاړې او د شپې چوپتیا په ټول کلي خپره شوه.

***

- «خوله مې له چټلیو ډکه ده.»
- «هو، ابا!»
- «مه وایه، هو ابا! له ما سره هغه خبرې تکرار کړه چې زه یې درته وایم.»
- «ما ته څه ویل غواړې؟ ولې بیا اعتراف وکړم؟»
- «سوزانا! دا اعتراف نه‌دی. راغلی یم چې یوازې خبرې درسره وکړم او د مرګ لپاره دې چمتو کړم.»
- «زه مړه کېږم؟»
- «هو، لورې!»

ketabton.com - The Digital Library



- «نو ولې مې یوازې نه‌پرېږدې؟ زه غواړم استراحت وکړم. چا هرومرو درته ویلي چې دلته راشې او ما خوب ته پرې‌نه‌ږدې. ته تر هغه راته کېنې چې د تل لپاره مې خوب ورک شي. زه بیا هغه پیدا کولی شم؟ نه! نه‌شم کولی. ابا! هیله کوم، رانه لاړ شه او ما آرام ته پرېږده!»

- «سوزانا! که زما خبرې تکراروې، آرام ته دې پرېږدم. سوکه سوکه به داسې ویده شې، لکه مور چې درته للو للو وایي. کله چې ویده شوې، هېڅوک به دې راوینبه نه‌کړي.»

- «سمه ده ابا! څه چې وایې، هماغه به کوم.»

پادري رېنتریا د کټ په څنډه کېناست. لاسونه یې د سوزانا په اوږو کېښودل او خوله د هغې غوږ ته دومره نږدې کړه چې بل چا یې خبرې نه‌اورېدې. هره کلمه یې ورو او په ټيټ غږ وویله: «خوله مې له چټلیو ډکه ده.»

بیا لږ شېبه تم شو. ویې کتل چې د هغې شونډې خوځېږي که‌نه؟ وروسته ځیر شو چې یو څه وایي: «ستا شونډې ما ته نږدې کېږي، ما ښکلوي!» بیا یې سترګې وغړوې، د سترګو تر کونجو یې پادري ته وکتل، هغه ورته لرې ښکاره شو، لکه د بخار وهلې ښیښې شا ته چې لاړ وي. بیا یې د پادري نرم غږ تر غوږ شو: «د خپلې خولې لاړې تېروم، لوټې ژویم. چنجي پکې غونځېږي، راځي په ستوني کې مې ننبلي او تالو ته مې راچوخېږي. شونډې مې کرختې کېږي، غاښونه مې ژبه ژويي. پوزه مې شوړېږي، سترګې مې اوبېږي او په زَوو بدلېږي، وېښتان مې دوړېږي...»

پادري د سوزانا له آرامۍ حیران شو. غوښتل یې د هغې فکرونه ووینې او د هغې زړه ووینې چې څنګه د هغو انځورونو د منلو پر وړاندې مقاومت کوي چې ده یې په ذهن کې شیندل.

د هغې سترګو ته ځیر شو او هغې هم د ده سترګو ته وکتل. داسې ښکارېده لکه د هغې رپېدونکې شونډې چې یوه آرامه موسکا ښیي.

- «نور هم شته، خدای تعالی ته ورتګ، د هغه د ناپایه جنت نرمه رڼا. د کروبیانو خوښي او د اسرافیل ترانې. د خدای تعالی د حضور نېکمرغي، په ابدي عذاب د محکومو انسانانو وروستی تېرېدونکی خوب، د هغو سختیو پر وړاندې د دنیا د کړاوونو هېڅوالی. هلته چې زموږ د هډوکو مغز په اور بدلېږي او په رګونو کې مو وینه لمبې وهي او داسې نه‌باورېدونکی درد راولاړوي چې اټکل یې نه‌کېږي...»

ketabton.com - The Digital Library



- «هغه زه په غېږ کې ونیولم او ما ته یې مینه راکړه.»
پادري رېنتریا هغو کسانو ته وکتل چې شاوخوا راټول وو او د وروستیو شېبو ننداره یې کوله. پېدرو پارامو د دروازې خوا ته ولاړ و او لاسونه یې په سینه نیولي وو. ډاکټر والنسیا او څو نور کسان یې تر څنګ ولاړ وو. لرې شا ته په تیاره کې د ښځو یوه کوچنۍ ډله ولاړه وه او انتظار یې کاوه چې مړي ته د دعا مراسم پیل کړي.
پادري غوښتل له ځایه پورته شي، د تدهین مراسم تر سره شي او ووايي: «زما کار پای ته ورسېد.» خو لا تر اوسه بشپړ شوی نه‌و او په دې هم ډاډمن نه‌و، چې ښځې توبه وکړه، که‌نه؟
څو شېبې زړه‌نازړه و؛ هسې نه ښځه توبه ونه‌کړي یا یې هېڅ ګناه نه‌وي کړې. یو ځل بیا یې مخ ته ورټیټ شو، اوږې یې وښورولې او ورو یې وویل: «ته د خدای حضور ته روانه یې او هغه په خپله له ګناهکارو سره حساب کوي.»
د هغې غوږ ته خوله نوره هم نږدې کړه. سوزانا سر وخوځاوه: «لاړ شه ابا! زما لپاره اندېښنه مه‌کوه، زه آرامه یم او ډېر خوب راځي.»
د تیارې خوا ته ناستو ښځو په منځ کې د یوې د ژړا غږ پورته شو. سوزانا داسې ښکارېده، لکه د څو شېبو لپاره چې بېرته ژوندۍ شوې وي. په کټ کې نېغه کېناسته او ویې‌ویل: «خوستینا! هیله کوم، که ژړا درځي، بل ځای ته لاړه شه.»
بیا یې داسې احساس کړه لکه سر چې یې سینې خوا ته وررړنګ وي، هڅه یې وکړه سر راپورته کړي او له سینې خڅه دروندوالی کم کړي. ساه یې بنده بنده کېده، سر یې هماغسې د سینې په لور درنېده او داسې احساس یې کاوه لکه په تیاره کې چې ډوبېږي.
- «زه همالته وم. ما سوزانا ولیده چې مړه شوه.»
- «څه وایې، دوروتیا؟»
- «همدا چې اوس مې درته وویل.»

***

سهار خلک د زنګونو په پرله‌پسې غږ راویښ شول. د ډسمبر اتمه وه. خړ سهار و، ساړه نه‌وو، خو بیا هم هوا خړه‌پړه وه. غږ د لوی زنګ په کړنګېدو پیل شو، نور زنګونه هم ورسره ګډ شول. ځینو خلکو فکر کاوه چې د سترې مذهبي غونډې لپاره زنګونه

ketabton.com - The Digital Library



وهل کېږي. ډېری له کورونو راووتل، خو د ځینو کورونو دروازې تړلې وې او خلک یې د ټنبلۍ او ناغېړۍ له کبله نه‌وو راپاڅېدلي.

کله چې زنگونه زیات شول او یوازې د لویې کلیسا زنگونه نه‌وو، بلکې په «انگري کرېستو»، «کروز وېرډې» او «سانتورایو» کې هم زنگونه وهل کېدل، له همدې امله د خلکو اندېښنه زیاته شوه او ټول کلی خبر شو چې حتماً یوه خبره شته.

په کلي کې شپه او ورځ زنگونه وهل کېدل او شېبه په شېبه زیاتېدل، تر دې چې د ټولو زنگونو غږونه په یوه داسې کنېوونکي حالت بدل شول چې خلک اړ وو، د یو بل د خبرو اورېدو لپاره چیغې ووهي.

خلکو به له یو بله پوښتل: «دا څه ناورین دی؟»

درې ورځې وروسته ټول خلک کاڼه شول. په هوا کې دومره زوَږ خپور و، چې خبرې اورېدل ناشونی کار و. خو زنگونه یو مخیز روان وو، ځینې زنگونو یو بېخي بېل حالت غوره کړی و، کړَسنده او کریېرو ته ورته غږ یې کاوه.

- «دونیا سوزانا مړه شوه!»

- «هغه څوک ده؟»

- «د هغه ښځه.»

- «د چا؟»

- «د پېدرو پارامو.»

د زنگونو غږ دومره ډېر او څو ورځنی شو، چې د نورو ځایونو خلک هم پرې خبر شول او دې خوا ته یې رامخه کړه. له کونتلا او نورو سیمو څخه ډلې ډلې خلک راروان وو او داسې ښکارېدل، لکه یوه زیارت ته چې ځي.

په دغو کسانو کې یوه ډله داسې کسان هم راورسېدل چې معلومه نه‌وه، له کوم ځایه راغلل، خو له ځان سره یې یو لوی څرخ، چې خلک به پکې کېناستل او څرخېدل او داسې نور حیرانوونکي وسایل راوړي وو. په لومړي سر کې داسې ښکارېدل لکه د څو ورځو لپاره چې راغلي وي او د دې سیمې ننداره کوي، خو وروسته یې همدلته واړول، رنگارنگ لوبې او ان کنسرتونه یې پیل کړل.

په دې ډول هماغه زنگونه هم ودرېدل. کومالا له بېلابېلو خلکو ډکه شوه او گڼه‌گوڼه پکې دومره زیاته شوه چې په کوڅو کې به یې وگړي په سختۍ تېرېدل.

ketabton.com - The Digital Library



خلک نه‌پوهېدل چې هاغه اورېده او کښوونکي زنګونه د څه لپاره وو؟ په کار دا وه چې خلک ترې تللي وای، خو کیسه سرچپه شوه، نه یوازې له کلي څوک کډه نه‌شول، بلکې له نورو سیمو څخه په پېخرو پېخرو کسان راغلل.

په مېډیا لونا کې خاموشي وه. مزدوران په لوڅو پښو ګرځېدل او په ټیټ غږ یې خبرې کولې. سوزانا سان‌خوان خاورو ته وسپارل شوه، خو په کومالا کې ډېر لږ خلک خبر شول چې په هغې یې خاورې واړولې. هغوی په مېلو بوخت وو. سازونه، نڅاوې، د چرګانو جنګول، چرس او چیلم او د ځوانانو خرمستۍ چې شورماشور ان تر مېډیا لونا پورې رسېده. لنډه دا چې کومالا ټوله نڅا او رڼا وه او مېډیا لونا خپګان او تیاره.

پېدرو پارامو له هېڅا سره خبرې نه‌کولې. ټوله ورځ به په خپله کوټه کې ناست و او قسم یې کړی و چې له کومالا څخه به غچ اخلي.

- «که زه له کاره لاس واخلم، کومالا به له لوږې مړه شي.»

او همداسې وشول.

***

اېل‌تیلکواته به هر وخت خپل راپورونه راوړل:

- «اوس له کارانسا سره یو ځای یو.»

- «ښه.»

- «د جنرال اوبریګون تر قوماندې لاندې.»

- «ښه.»

- «خو سوله یې اعلان کړه او موږ رخصت شوو.»

- «صبر وکړئ، خپلو کسانو ته ووایئ چې وسله کې‌نه‌ږدئ. سوله دوام نه‌کوي.»

- «رېنتریا ابا وسله اخیستې. موږ له هغه سره شو، که د هغه پر ضد؟»

- «د حکومت تر څنګ ودرېږئ.»

- «خو موږ ناقانونه وسله‌وال یو او د یاغیانو په څېر چلند راسره کوي.»

- «ترې لاړ شئ او لږ استراحت وکړئ.»

- «دا اوس څنګه کېدای شي؟»

- «خپل کار ته ګورئ، څنګه چې مو زړه وي، هغسې کړئ.»

ketabton.com - The Digital Library



- «زما خو زړه راته وايي چې د رېنتريا ابا ملاتړ وکړو، هغه چې کوم شعارونه ورکوي، خوښېږي مې. که څه پېښه وشوه، دعا راته کوي او ژغورلی مو شي.»
- «بس خپلې خوښې ته گوره.»

***

پېډرو پارامو د مېډیا لونا د لويې دروازې ترڅنگ په يوه زړه چرمي څوکۍ ناست و. د سهار رڼا لا د شپې وروستۍ تياري نه‌وې تمبولې. نږدې درې ساعته کېدل چې هغه دلته يوازې ناست و. خوب يې له سترگو تښتېدلی و او حتی خوب او وخت يې له ياده وتلی و. «موږ بوډاگان ډېر خوب نه‌لرو، يا بېخي خوب نه‌لرو، که څو شېبې سترگې پټې هم کړو، ذهن مو نه‌پرېږدي چې د خوب نړۍ ته ورشو. چې بوډا شوې، د خندا شوې!» بيا يې په لوړ غږ وويل: «نو ډېر وخت نه‌دی پاتې.» خبره يې اوږده کړه: «سوزانا! ډېره موده وشوه چې رانه تللې يې. نن هم هوا د هماغې ورځې په شان پاکه ده، البته هغه ورځ د اسمان څنډه دومره سوربخونه نه‌وه. خو نوره هماغه شان سړه او روښانه ده. هماغه شان نرۍ وربځ د لمر خوا ته راټوله ده. کټ‌مټ د نن غوندې زه همدلته د دروازې تر څنگ ناست وم. د لمر ختو ننداره مې کوله، چې ته راغلې او بېرته لاړې. ما په تا پسې کتل چې د جنت په لارو، کوڅو کې پورته روانه وې. د جنت دروازه خلاصه وه، رڼا ترې اورېدله، ته ورروانه وې، د دنيا تيارې دې شا ته پرېښودې او د جنت په رڼا کې ورکه شوې. دا وروستی ځل و، چې ته مې وليدلې. د جنت په ونو کې تېرېدلې، اوږې به دې په څانگو لگېدې او تر شا به دې نرم شمال پاڼې خوځولې. بيا به له سترگو پناه شوې. ما به درپسې غږ وکړ: راوگرځه سوزانا!»
د پېډرو پارامو شونډې خوځېدلې او له ځان سره لگيا و، ډېر وغږېد، بيا يې خوله پټه ونيوله او سترگې يې وغړوې. د سهار رڼا په زياتېدو وه.

***

هماغه ساعت، دونا اينېس، د «گماليل» مور د خپل زوی د دوکان مخې ته کوڅه جارو کوله، چې «ابونديو مارتينز» يې وليد چې نيمه‌پرانيستې دروازه يې ټېله کړه او دننه ورغی.
هلته يې وليدل چې گماليل پر مېز ويده دی او ستره خولۍ په مخ ايښې ده چې مچان پرې ونه‌بونېږي. ابونديو څو شېبې انتظار وکړ چې هغه راويښ شي، همدا وخت

ketabton.com - The Digital Library



دونا اینېس، د کوڅې له جارو کولو وروسته رانږوته او د جارو په لاستي یې خپل زوی وچوخاوه.

- «پاڅه! یو مشتري درته ولاړ دی.»

ګمالیل وغړمبېد، څنګل یې تکیه کړه او په تریو تندي راکېناست. سترګې یې د بې خوبۍ له کبله سرې شوې وې. اول یې مور ته بدې‌ردې وویلې، بیا یې ځان ته ښکنځلې وکړې او وروسته یې په ژوند خوله ورخلاصه کړه: «دا ژوند، دا لعنت په هېڅ نه‌ارزي.»

بېرته څملاست، لاسونه یې د پښو ترمنځ ونیول او په غوسمېدو، غوسمېدو کې خوب یووړ: «که څوک راځي او که‌نه، بلا مې ورپسې!»

- «زما کم‌عقله زویه! خدای دې هدایت درته وکړي. ابوندیو! ټوله شپه یې د مسافرو په انتظار تېره کړې ده.»

هغې په لوړ غږ خبرې کولې، ځکه په غوږو درنه وه. ابوندیو غوښتل خپل غم په نشه کې هېر کړي، په دوکان کې یې سترګې واړوې، بیا یې وویل:

- «زه ترخې اوبه غواړم.»

- «رفوخیو ورې شوی دی؟»

- «نه، ابۍ! هغه پرون شپه مړه شوه. شاوخوا یوولس بجې وې. ما خپل خره خرڅ کړل، چې هغې ته درمل واخلم.»

- «زه نه‌اورم، څه وایې؟ بیا راته ووایه.»

- «ومې‌ویل، ټوله شپه د خپلې مړې مېرمنې ترڅنګ ویښ ناست وم، هغې تېره شپه ساه ورکړه.»

- «زه پوهېدم چې د مرګ بوی و. ما ګمالیل ته هم وویل چې یو څوک په کلي کې مړه دي، زه یې بوی احساسوم. خو هغه مې خبره نه‌اورېدله او له خپلو مشتریانو سره بوخت و. د فاتحې لپاره دې څوک رابللي دي؟»

- «هېڅوک هم نه، غواړم دمه شم او ترخې اوبه وڅښم.»

- «هغه به درته راواخلم.»

- «خو بېړه وکړه.»

ketabton.com - The Digital Library



- «را اخلم يې، خو که خپلې مېرمنې ته ورغلې، ورته ياده کړه چې په ما ګرانه وه او که خدای جنت ته بېوله، چې ما هېره نه کړي.»
- «سمه ده، ابی.»
- «دا خبره به زر ورته رسوې.»
- «ورته وبه وايم، ته هم دعا ورته کوه. هغه د مړينې پر وخت ډېره يوازې وه او هېڅوک يې پوښتنې ته رانه غلل.»
- «څنګه؟ تاسې پېدرو پارامو نه و خبر کړی؟»
- «د هغه کره ورغلم، خو راته وويل شول چې غره ته تللی دی.»
- «کوم غره ته؟»
- «ومې نه پوښتل، ته پوهېږې انقلاب روان دی.»
- «يعنې هغه هم په انقلاب ورګډ شو؟ ابونديو! خدای دې زموږ پرده وکړي.»
- «موږ يې څه کوو؟ يوه بله پياله هم راډکه کړه. ګماليل خو ويده دی.»
- «هېره دې نه شي، رفوخيو ته ياده کړه، چې ما ته دعا وکړي. زه يې دعا ته اړ يم.»
- «اندېښنه مه کوه، چې څنګه ورغلم، ورته وايم. ان زاری ورته کوم چې دا کار وکړي.»
- «همدا مې غوښتل چې ورته ووايې. ته پوهېږي چې ښځې څومره بې وسه دي او بايد ډاډ ورکړل شي.»

ابونديو شل سينتاوه په مېز ورته کېښودل چې له دوکانه راوت، وپرنجېد، ستونی يې سوی کاوه. په لستونې يې خوله پاکه کړه. غوښتل يې نېغ کور ته ولاړ شي، خو لاره يې چپه کړه او په هغه سړک روان شو چې له کلي وتلی و.

پېدرو پارامو غږ وکړ: «داميانا! وګوره، هغه سړی څوک دی چې په سړک راروان دی؟»

ابونديو په لړزېدلو ګامونو روان و، کله به کېناست او په خاپوړو به شو، کله به پاڅېد او رنګه بنګ به روان شو، داسې احساس يې کاوه، لکه ځمکه چې يې تر پښو لاندې تاوېږي. تر هغه چې د يوه سړي مخې ته ودرېد. هغه د خپل کور مخې ته په څوکۍ ناست و.

- «لږ و پيسو ته اړ يم، يو څو پيسې. د مېرمنې د ښخولو لپاره.»

داميانا سيسنېروس دعا ويله:

- «يا خدايه! موږ د شيطان له شره وساتې.»

ketabton.com - The Digital Library



ابونديو يوه وېرېدلې ښځه وليده چې مخې ته يې ولاړه ده او د صليب نښه خوځوي. دى هم ولړزېد. شا ته وکتل چې هسې نه شيطان دلته ولاړ وي. خو چې هېڅ يې ونه ليدل، بيا يې وويل:

- «د خپلې مېرمنې د ښخولو لپاره د لږ خيرات غوښتو لپاره راغلى يم.»

لمر د هغه د اوږو په اندازه لوړ راغلى و او په اسمان کې وريځو تارونه اچولي وو. پېدرو پارامو خپل مخ په لاسونو پټ کړ، لکه لمر چې يې سترګې برېښوي. همدا وخت د داميانا چيغې نورې هم لوړې شوې:

«پېدرو پارامو وژني! پېدرو پارامو وژني!»

ابونديو د ښځې چيغې اورېدلې، خو نه پوهېده چې څنګه يې غلې کړي. دوه زړي شو او ورته معلومه شوه چې د بوډۍ چيغې تر ډېر لرې پورې رسېږي. بد غږ يې و، خبرې يې نه‌اورېدل کېدلې.

ابونديو د خپلې ښځې په فکر کې شو، چې يکې‌يوازې د کور په انګړ کې پر کټ مړه پرته وه. ده په خپله همالته را ايستلې وه، چې سړه هوا پرې ولګېږي، بدن يې زر ونه پړسېږي او بوى ونه‌نيسي. دا چې تر پرونه ژوندۍ وه، له ده سره يې ټوکې‌ټکالې او ناز او نخرې کولې. هغه ښځه چې ده ته يې زوى وزېږاوه او له زېږېدو لږه شېبه وروسته مړ شو. هغه هم د همدې د خرابې روغتيا له کبله. د سترګو درد، تبه، د معدې ناروغي او خداى خبر نور څه او څه. دا هغه ډاکټر ويلي وو چې په وروستۍ شېبه کې راغلى و. هماغه وخت چې ابونديو يې د حق‌الزحمې لپاره خپل خره پلورلي وو او هېڅ ګټه يې نه‌وه کړې...

اوس يې د مېرمن سترګې پټې وې او د سهار په پرخه کې اوږده غځلېدلې وه، نور يې نه سهار ليدلى شواى، نه يې ختونکى لمر او نه راتلونکي سهارونه او لمرونه.

ابونديو وويل: «مرسته راسره وکړه، لږو پيسو ته اړتيا لرم.»

خو خپلې خبرې يې نه‌شواى اورېدلى. د داميانا کريږو يې غوږونه کاڼه کړي وو.

د کومالا په سړک واړه تور ټکي ښکارېدل او حرکت يې کاوه، لږ وروسته هغه ټکي په انسانانو بدل شول او بيا د ابونديو تر څنګ ودرېدل. داميانا اوس له چيغو لاس اخيستى و. د صليب نښه يې نه‌خوځوله. پر ځمکه لوېدلې وه او خوله يې داسې خلاصه پاتې وه، کله اررمى چې کوي.

ketabton.com - The Digital Library



خلکو له ځمکې راپورته کړه او کور ته يې د ننه کړه.
څو کسانو وويل: «خان صاحب، ښه يې!»
پېدرو پارامو يوازې سر وخوځاوه.
ابونديو ته چې لا يې هم په لاس کې په وينو ککړه چاړه نيولې وه، خلک ورغلل، بې وسلې يې کړ او ورته ويې‌ويل: «په موږ پسې راځه! ځان دې په غضب اخته کړ.»
ابونديو ورپسې روان شو.
کومالا ته چې نږدې شول، ابونديو له خلکو اجازه وغوښته، د سړک غاړې ته شو او په کانګو يې پيل وکړ. اوقه، اوقه، اوقه... له خولې يې پرله‌پسې زېړې اوبه تويې شوې. سم لکه څو لېتره اوبه چې يې څښلې وي. سر يې په څرېکو شو او ژبه يې درنه شوه. ويې ويل: «زه نشه يم.»
خلکو ته ورغی، د هغوی په اوږو يې لاسونه ورواچول او په کشېدو کشېدو يې روان کړ. د پښو ګوتو يې د لارو په پوټېو کې ليکې جوړولې.
پېدرو پارامو لا هم په خپله چرمي څوکۍ ناست و او د هغو کسانو ننداره يې کوله چې ببرته د کلي په خوا روان وو. هڅه يې وکړه خپل کيڼ لاس پورته کړي، خو لاس يې لکه د سربو چې وي، پورته کېدل يې نه‌وو، سوړ پوړ پر زنګانه پروت و. ده ورته پام ونه کړ، ځکه نور له دې سره عادت شوی و، چې هره ورځ د خپل وجود يوه برخه مړه کېدونکې ويني. ده د جنت ونې ليدلې چې لړزېدلې او پاڼې يې الوتلې: «ټول په همدې لاره ځي، ټول له دې ځايه رخصتېږي.» بيا يې خپل فکرونه هغه ځای ته راوګرځول چې نيمګړي يې پرېښي وو.
ويې ويل: «سوزانا!»
سترګې يې پټې کړې: «تا ته مې زارۍ وکړې، چې بيا راشې...»
«په اسمان کې د څوارلسمې سپوږمۍ ځلېدله، ما تا ته نه‌شوای کتلی، د سپوږمۍ وړانګې دې په مخ لګېدلې. زه دې په خيال کې ډوب وم او له خياله دې نه ستړی کېدلم. ته د سپوږمۍ رڼا کې ډوبه وې، په لمدو شونډو کې دې ستوري پړکېدل او بدن دې د شپې په سړه پرخه کې سپين او بلورين ښکارېده. سوزانا... سوزانا سان خوان!»

ketabton.com - The Digital Library



هڅه یې وکړه، لاس پورته کړي او دا انځور لا روښانه وویني، خو لاس یې د یوې درنې ډبرې په څېر دروند او په زنګون پورې نښتی و. د بل لاس د پورته کولو هڅه یې وکړه، خو لاس له بدنه وښویېد او ځمکې ته ولوېد، اوږه یې تشه او سپکه شوله. په سر کې یې یو فکر راغی: «دا دی مرمه!»

لمر په دنیا راغبرګ و، هر څه یې ځلول، خو د هغه مخې ته ورانه او شاړه ځمکه پرته وه. تودوخې یې بدن سوځاوه، سترګې یې نه‌خوځېدې، ذهن یې له یوه یاد څخه بل ته ټوپونه وهل او شېبې له منځه تللې. ناڅاپه یې زړه ودرېد او داسې ښکارېده لکه وخت او ژوند چې هم درېدلی وي.

فکر یې وکړ: «نو بیا به شپه رانه‌شي.»

ځکه دی له شپو وېرېده، له هغو تیارو چې ارواوې پکې راتللې او ګرځېدلې.

«پوهېږم، په څو ساعتونو کې به ابوندیو راوګرځي، لاسونه به یې په وینو لړلي وي او د هغې مرستې غوښتنه به کوي چې ما ترې انکار وکړ. خو زما به لاسونه نه‌وي چې په سترګو یې ونیسم او هغه ونه‌وینم. هغه ته باید غوږ ونیسم او تر هغه یې واورم چې غږ یې د ورځې له رڼا سره ورک شي. تر هغه چې غږ یې مړ شي.»

یو لاس یې په اوږه احساس کړ، راکېناست او ځان یې ټینګ ونیو.

د دامیانا غږ شو: «زه یم، دون‌پېدرو! ډوډۍ ته دې زړه نه‌کېږي؟»

پېدرو پارامو ځواب ورکړ: «نه، زه درځم.»

د دامیانا پر مټ یې ځان تکیه کړ او هڅه وکړه روان شي؛ څو ګامه یې نه‌و اخیستي چې پر ځمکه راپرېوت. په زړه کې یې د مرستې غوښتلو چیغې پورته کېدلې، خو له خولې یې یوه خبره هم نه‌وتله. یو شرنګ شو، ټول بدن یې لکه د ډبرو ځلی ونړېد او پر ځمکه خپور شو.

* * *

ketabton.com - The Digital Library



## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*